PDF Compressor Pro

هـر علـم زمـا لـه علمـه

ـوم زمـا لـه نومـه دی،

Ketabton.com

زمـا لـه زوره دی، هـر

ا لـــه آوازه دی، هـــر

ـا لـه رنگـه دی، هـره

PDF Compressor Pro

په حالنامه کی

د بایزید روښان

عرفاني او فلسفي

څېړه

PROPERTY OF
ACKU
16112

څېړونکی:

محمد اکبر کرګر

PDF Compressor Pro

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم :: **په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېړه**

څېړونکی :: محمد اکبر کرګر

لارښود استاد :: کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي

لومړی چاپ :: ۱۳۴۹هـ ل، کابل

خپرندوی :: د افغانستان د علومو اکاډمۍ

دويم چاپ :: ۱۳۸۵ل/۲۰۰۶م

خپرندوی :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ زيار :: استاد محمد آصف صميم

د خپرونو لړ :: (۸۵)

کمپوز :: ذبيح شفق

چاپ او کمپيوټر ځی

د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه ـ پېښور

Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com

فهرست

سرليك	مخكنۍ

- د سريزې پرځای: د پير روښان په اړه نوې څېړنه ..... الف
- تقريظ: د روښان په باب يوه نوې څېړنه ..... د
- تقريظ: د افغانستان د علومو اکاډمۍ محترم رياست ته ..... ط
- د مسالې طرح ۱
- پس منظر ۳

لومړی څپرکی

د بايزيد روښان د ژوند چاپېريال، زوکړه او زده کړه

- بايزيد روښان د وخت ټولنې فرهنګي حالاتو ته يوه کتنه ۲۵
- ټوليز حالات ۲۶
- فرهنګي حالات ۳۰
- فکري او رواني حالات ۳۳
- د بايزيد روښان لنډه پېژندنه ۳۸
- زوکړه
- د بايزيد روښان د ژوند پراونه ۴۲

دويم څپرکی

بايزيد روښان د خپلو فسفی او عرفانی افکارو په...

- الف: د حالنامې پېژندنه ۴۸
- ب: په حالنامه کې د بايزيد روښان د عقايدو عام جاج ۵۴
- ج: د دبستان مذاهب په رڼا کې د بايزيد روښان عقايدو ۶۵
- د: د بايزيد روښان د شخصيت رواني او انفسي ارخ ۷۰

PDF Compressor Pro

- د: بايزيد روښان د يو عرفاني او فلسفي شخصيت ۸۳
- بايزيد روښان، د شخصي تجربې لاره او مقامات..... ۹۷
- د لويديزې فلسفې او شرقي تصوف په رڼا کې د بايزيد ۱۰۶

دريېم څپرکی

- له اسماعيليه عقايدو سره د بايزيد روښان د عقايدو ۱۲۵
- اخوند دروېزه او د بايزيد اسماعيليه يا "باطنيه" افکار ۱۲۸

څلورم څپرکی

- بايزيد روښان او د تناسخ او حلول مفکورې..... ۱۵۹
- الف: تناسخ ۱۶۰
- ب: حلول..... ۱۷۰

پنځم څپرکی

- د پښتنو پر ژوند او فرهنګ د روښانيانو اغېزې ۱۷۵
- الف: په اسلامي تصوفي فرهنګ کې د روښانيانو ۱۷۶
- ب: روښانيان او پښتو صوفيانه ادب..... ۱۸۳
- ارزاني روښانی ۱۸۷
- دولت لوانی ۱۸۸
- مېرزا خان انصاري ۱۹۰
- واصل روښانی..... ۱۹۱
- مير خان روښانی..... ۱۹۲
- قادر داد روښانی..... ۱۹۳
- اورکزی روښانی..... ۱۹۴
- علي محمد مخلص..... ۱۹۵
- ج: په روښاني ادبياتو کې تصوفي مضمون..... ۱۹۷
- انسان ۱۹۹
- توحيد ۲۰۰
- د: د روښان د فرهنګي هڅو په لړ کې سماع، نڅا او موسيقي .. ۲۱۲

- روښانيت او د ښځو مقام ۲۲۷
- بي بي شمسو روښانۍ ۲۳۲
- الايي روښانۍ ۲۳۳
- د روښاني غورځنګ له منځه تلل ۲۳۶
- نتيجه ۲۳۸
- ماخذونه او مراجع ۲۴۲

له کتاب سره ضميمه

- د بايزيد روښان محاکمه او خپله عالمانه دفاع ۲۴۶
- د روښان محاکمه ۲۵۳
- مجتهد څه ته وايي؟ ۲۶۲
- د عقيدې له مخې ۲۶۸
- له ټولنيز پلوه ۲۷۰
- ماخذونه ۲۷۲

PDF Compressor Pro

د سریزې پر ځای:

د پیر روښان په اړه نوې څېړنه

د نباغلي لیکوال محمد اکبر کرګر دغه څېړنه د پښتنې تولنې، د پښتنو د مبارزو او تاریخي هلوځلو، د افغانانو د فکري هڅو د یون د تسلسل یوه دوړه په زړه پورې او نوې برخه ده. په دغه اثر کې د حالنامې د لیکنو په رڼا کې پر "پیر روښان"، د هغه په فلسفي او عرفاني فکر او په عمومي توګه په روښانې غورځنګ کې د فکري تولنې په هکله ژورې څېړنې ترسره شوي دي.

دغه کتاب په ګران افغانستان کې د بدمرغه جګړو او د اوړنو د لمبو په دوران کې لیکل شوی او په هماغه وخت

کې په کابل کې چاپ شوی هم و. د تنظیمي جګړو په بدمرغه لمبو کې دغه کتاب هم څه په مطبعه او څه په کتاب پلورنځیو کې وسوځېد او د مینه والو لاسو ته ونه رسېدای شو.

"په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره" نومي کتاب د هېواد د نامتو پوه او د روښانې غورځنګ د څېرونکي اروانباد استاد محمد صدیق روهي تر نظر لاندې لیکل شوی او د هغوی تقریظ نور هم ارزښتمن کړی دی.

د کتاب په نوي چاپ کې یوازې یو څېرکی په پای کې وزیات شوی دی او هغه هم د بایزید روښان د محاکمې په اړه یوه مهمه څېړنه ده، چې ددې کتاب ارزښت لا زیاتوي. دغه څېړنه نباغلي کرګر ددې کتاب له چاپ دوبر وروسته په دې وروستیو وختونو کې کړې ده.

د افغانستان د کلتوري ودې تولنه ځان نېکمرغه ګڼي، چې دغه مهم اثر د هماغې دورې د یوه بل تاریخي شخصیت ایمل خان د تاریخي کارنامو د یادونې او ستاینې د هغې غونډې په ویاړ چاپوي او خپروي، چې د خیبر د تاریخي بري د ۳۳۵ کالیزې په ویاړ یې جوړوي او په جرمني او ننګرهار کې یې په ګډه نمانځي. د بایزید روښان له تاریخي کارنامو راوروسته ایمل خان او دریا خان او خوشال خان هغه تاریخي شخصیتونه دي، چې د هند د مغولي واکمنۍ د استبداد پر ضد یې د افغاني مبارزې بهیر پسې راغځولی او ژوندی

ساتلی دی او ځکه یې د یو تاریخي تسلسل ادامه ګنلای شو.

ددې اثر په لیکلو کې د نباغلي کرګر هڅې ستایو او له دې امله هم مننه ترې کوو، چې د کتاب د دویم چاپ لګښت ته یې هم اوبه ورکړې ده.

مننه

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۶ د اپریل ۲۲

جرمني، د کولن ښار

PDF Compressor Pro

تقريظ

د روښان په باب يوه نوې څېړنه

د روښانيانو په باب، چې کومې څېړنې شوي دي، اکثر يې د يوې تاکلې ايډيالوجيکې موضوع گيرې په اساس ليکل شوي دي. ځينو د اخوند دروېزه په پيروې بايزيد روشان ته د يوه مبتدع پير په نظر کتلي دي او دده تعليمات يې د اسلام له اصولو نه انحراف گڼلی دی. ځينو روښان د يوه ملي آزادۍ بخښونکي غورځنگ سالار بللی دی او دده افکار يې د يوه جلا تصوفي مکتب په توگه د اسلامي عرفان له اساساتو سره پرتله کړي او له هغو څخه يې دفاع کړې ده. ددغو پوهانو په عقيده، اخوند دروېزه د هند د گورگاني دولت په لمسون پر بايزيد روښان باندې د الحاد تاپه وهلې ده او زيار يې ايستلی دی، چې په دې وسيله د روښانيانو نهضت کمزوری کړي او له سياسي صحنې څخه يې لرې کړي.

ځينو پوهانو ويلي دي، چې روښان د عرفاني نهضت تر

پـردې لانـدې د بزګرانـو د پـاڅون لارښوونـه کولـه. دوی روښـانې غورځنګ په اصل او ماهیت کې د بزګرانو قیام بللی دی.

ددغـو نظریـو د صـحت او سـقم د پـوره څرګنـدولو لپـاره لا زیـاتې څېړنې ته اړتیـا لیدلـه کېـږي او هـر څـوک چې پـه دغسـې څېړنـه لاس پـورې کـوي، بایـد لـهٔ مخکـې موضـع ګیـرۍ پرتـه د اصـلي منـابعو پـه اسـتناد او د عینیـت پـالنې (Objectivity) لـه روحیې سره سم حقایق وپلټي.

لـه ښـه مرغـه پـه دغـه اثـر (پـه حالنامـه کـې د بایزیـد روښـان عرفـاني او فلسـفي څېـره) کـې تـر زیـاتې انـدازې پـورې عینیـت خوښـونې تـه پاملرنـه شـوې ده. محتـرم اکبـر کرګـر (ددغـه اثـر مؤلـف) تیـوري پـر واقعیتونـو نـه تحمیلـوي، بلکـې د عملـي میتـود لـه نومونـو سـره سـم واقعیتونـه راغونـدوي او زیـار باسـي، چې د تیـوري پـه قالـب کـې یـې واچـوي. دده اوسـنۍ څېړنـه د یـوې سـمې تیـورۍ د رامـنځ تـه کېـدلو لپـاره لاره هواروی.

بایزیـد روښـان کـه یـوازې د یـوه عرفـاني یـا فلسـفي مکتـب مؤسـس پـه توګـه کـار کـړی وای او تـورې تـه یـې لاس نـه وای اچـولی، کېـدای شـوه چې بـې لـه ویـرې او اضـطراب څخـه یـې خپلـه نظریـه پـه سیسـتماتیک ډول بیـان کـړې وای. امـا د تـورې پـه اسـتعمالولو سـره ده خپـل دښمنـان راویـښ کـړل او غالـب احتمـال دا دی، چې ده بـه لـه کتمـان او کمـوفلاژ څخـه هـم کـار اخیسـتی وي. د اخونـد درویـزه پـه شـاوخوا کـې د پـر زیـات

عرفاني او له عرفان نه هاخوا فكري مكتبونه موجود وو. په همدې وخت کې جلال الدين اکبر مغولي پاچا هم د (دين الهي) د خپرولو لپاره کار کاوه، خو کومه ضربه چې په بايزيد روښان وارده شوې ده، پر نورو مبتدع پيرانو او د فکري مکتبونو مؤسسانو هغسې سخته ضربه نه ده ليدلې. ددې علت دا دی، چې روښاني نهضت يو مجرد فکري جريان نه و، بلکې يو عالي تولنيز_سياسي غورځنګ و. دا چې د روښانيانو د تيوري او عمل ترمينځ ديوال موجود و او که نه، دا هم جلا بحث غواړي. بنايي داسې تصور رامينځ ته شي، چې د توري په زور د مينې او محبت رواجول هماغسې مثال لري لکه نن چې ځينې هېوادونه د قوې د استعمال له لارې ديموکراسي صادروي. آيا دا هغه ماکياولي فلسفه نه ده، چې وايي "هدف وسيله توجيه کوي".

(the end Juststiles the means)

آيا روښاني مکتب يو سيستماتيک او منسجم مکتب دی؟ دا هم يو په زړه پورې بحث دی. ددې رسالې ليکوال کله کله لوستونکي ته داسې انطباع ورکوي، چې بايزيد له مختلفو عرفاني او فلسفي مکتبونو نه ځينې مفکورې اقتباس کړې دي او يا لږ تر لږه فکر کړې، چې اقتباس کړي بنه يې وي. که موږ غواړو چې دغو پوښتنو ته ځوابونه پيدا کړو، نو د څېړونکي په مخکې بنا بسته زياتې پوښتنې پرتې دي، چې بايد د حل لارې يې ولټوي.

د محترم کرګر د څېړنې یو عمده صفت دا دی، چې پر مشخصه موضوع باندې مشخص نظر څرګندوي. اما دده د څېړنې تر ټولو عمده صفت دا دی، چې نوي مسایل یې څېړلي دي او داسې تیاره ګوټونه یې روښانه کړي دي، چې د نورو لیکوالو په څېړنو کې نه موندل کېږي، لکه د درېیم او څلورم څېړکي موضوعګاني، چې ابتکاري بڼه لري.

محترم مولف په خپلو نظریاتو کې له علمي احتیاطه کار اخیستی دی او هغه خبرې، چې باید د (احتمال) په لفظ افاده شي، هغه یې د احتمال په لفظ افاده کړي دي. دا هم دده د څېړنې یوه مهمه ځانګړتیا ده، چې احتمال یې له یقین ببل کړی دی.

سربېره پردې محترم مؤلف له یوې بلې ساري ناروغتیا څخه هم ځان ساتلی دی، چې هغه د "معاصر کولو" ناروغتیا ده. دېر څېړونکي شته، چې له روښان نه د شلمې پېړۍ لیډر جوړوي. حتی یو بناغلی لیکوال، بایزید روښان د نشنلېزم مؤسس (!) هم ګڼلی دی. د محترم کرګر په لیکنه کې روښان د خپل وخت او چاپېریال مولود ګڼل شوی دی. که لومړی څېړکی لږ څه اوږد بنکاري، دلیل یې دا دی چې هغه باید د روښان د عصر ځانګړنې بنودلې وای او ځوانو څېړونکیو ته یې څرګنده کړې وای، چې پر روښان باندې باید ننني افکار او ارزښتونه تحمیل نه کړو، بلکې دده د خپل وخت په هېنداره کې یې وګورو.

په پای کې باید دا یادونه هم وکړم، چې د بایزید روښان په باره کې آزاده او بېطرفانه څېړنه عملي جرأت هم غواړي. ځینې متشرع علما، چې په عین وخت کې له خپل تاریخ او فرهنګ سره مینه لري، په دې نه خوشحالېږي، چې بایزید روښان ته مبتدع وویل شي. ځینې نور، چې د اخوند دروېزه مینه وال دي او هغه د اخوند دروېزه بابا رح په القابو ستایي، د روښان په دفاع نه خوشحالېږي.

لیکن راځئ، چې په پوهنه او حکمت کې د یوناني فیلسوف (اپلاتون) دغه خبره تکرار کړو، چې وایي: "په حقیقت پسې ګرځئ او له دې مه وېرېږئ، چې کوم خطر ناک ځای ته به ورسېږئ".

په درناوی

کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي

د ا، ج، د د علومو اکاډمۍ سرمحقق غړی

PDF Compressor Pro

تقريظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ محترم رياست ته!

ستاسي د ليکنې له مخې مې د بناغلي محمد اکبر کرګر ليکلی کتاب (په حالنامه کې د بايزيد روښان عرفاني او فلسفي څېره) وکوت او ددې کتاب په باب وايم، چې:

څه دپاسه پنځوس کاله کېږي، چې زمونږ د هېواد په فرهنګي حلقو او مطبوعاتو کې د بايزيد روښان، روښانيانو او روښاني ادبياتو په باب ليکنې او څېړنې شوي او نشر شوي دي.

دا ليکنې په خپل وخت کې ارزښتمنې وې او زمونږ د مشرانو فرهنګيانو لکه: اروابنياد لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي، محمد امين خوګياني، قيام الدين خادم، عبدالروف بېنوا، پوهاند رښتين، پوهاند رشاد، کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي او نورو هڅې په دې لاره کې د يادونې وړ دي.

ددغو بناغليو او نورو محترمو پوهانو د کارونو د

ستاينې او منـنې ترڅنګـه، کـه يـې مـوږ آثـار پـه دقيـق ډول د نويـو منـابعو د رابرسـېره کېـدو پـر بنـا تـر کـره کتـنې لانـدې ونيسـو، نـو لـه ځينـو څـو ليکنـو پرتـه چـې تحليلونـه او څېړنې يـې اوس هـم د ارزښـت لرونکـي دي، نـورې پـاتې ليکـنې اوس ډېـرې پـه درد نـه خـوري او بيـا کتـنې تـه اړه لـري. ددغـو پخوانيـو کـارونو د بيـا کتـنې ضـرورت، ځکـه محسـوس دی چـې زمـوږ د مخنيـو فرهنګيـانو د ډېـرو لـږو، يـا دو هـم لاس منابعو پر اساس خپلې ليکنې او څېړنې بشپړې کړې وې.

کـه مـوږ پـه خپـل هېـواد، پښتونخـوا، بلوچسـتان، هندوسـتان يـا د ختيځپوهـانو پـه حلقـو کـې روښـانې څېړنې ګردې لـه نظره تېـرې کړو، نـو رابنکاره بـه شـي، چـې مـوږ اړ يـو چـې پـه دې برخـه کـې لا نـور کارونـه هـم وکړو او دا ځکـه چـې پـه دغـو هېوادونـو او سـيمو کـې چـې د روښانيـانو پـه بـاب کـوم کارونـه ترسـره شـوي دي، هـورې ښـاغليو محققينـو پـه ټولـو موجـودو منـابعو لاس بـرى او احتـوا نـه درلـوده او هـره څېړنـه پـه خپلـه خپلـه برخـه کـې څـه کمبوتـات لـري او پـر دې ټولـو سـربېره ددغـه نهضـت ټـولې خـواوې او بېلابېـل اړخونـه لا پـوره نـه دي څېـړل شـوي او د روښـانې غـورځنګ او روښانيـانو ډېـر نـور فرهنګـي غورځنګونـه لا د څېړنـو او نـورو څېړنـو او نويـو پلټنـو انتظار باسي.

پـه همـدې اسـاس د ښـاغلي کرګـر د کتـاب ليکـل موجـه کـار بلـل کېـږي او د يـوه علمـي ضـرورت پـر بنيـاد کښـل شـوي اثـر پـه

توګه زه ددې اثر ارزښتونه په لاندې ډول ښيم:

۱ـ ښاغلي مولف زيار ايستلی، چې خپل اثر زياتره د روښان پېژندنې د نويو منابعو پر اساس بشپړ کړي. له دغو منابعو څخه يوه عمده او اساسي منبع د بايزيد روښان حالنامه ده، چې د زياترو روښان پېژندونکيو لاس بري لا پرې نشته او زمونږ محقق د همدغه اثر پر اساس خپلې څېړنې بنا کړي دي او د روښان پېژندنې د نورو لومړي لاس منابعو پر بنا يې د خپل اثر مانې جوړه کړې ده، نو ځکه زه وايم چې دا اثر د باوري او نويو منابعو پر بنا ليکل شوی دی.

۲ـ مولف زيار ايستلی دی، چې ځان د شرح حالونو په بيانولو کې ورک نه کړي او هم يې د تاريخ مسايلو تفسير او تشريح ته زياته توجه نه ده کړې. ده دغو دوو مسالو ته د ضمني پاملرنې ترڅنګه ددې څېړنې اساسي شمزی د روښان او روښاني غورځنګ د فکري اړخونو څېړنه او تحليل جوړوي، چې زه دا کار ددې اثر نويوالی بولم.

۳ـ په دې اثر کې د ځينو داسې مسايلو څېړنې ته توجه شوې ده، چې پخوا يا گردسره نه دي څېړل شوي او که دي هم له تشو يادونو پرته بل ارزښت نه شي لرلای. روښاني نهضت او موسيقي او سماع، همدارنګه له بنځو سره د روښاني نهضت د برخورد مساله او د ځينو نورو مسايلو تحليل ددې کتاب داسې بحثونه دي، چې په اساسي ډول په

دي کتاب کې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي او ددغه کتاب له مهمو او نبو بحثونو څخه حسابېږي.

۴_ له اسماعیلي افکارو سره د روښانې فکري جریان مقایسې څېړنه او په روښاني غورځنګ د اسماعیلي افکارو اغېزې ددې کتاب یو بل نوی بحث دی، چې د روښانیانو د فکري جریان په تحلیل او څېړنه کې بې پدله نه دی او د بحث وړ یوه موضوع ده، چې ددغه اثر بشاغلي مولف ورته خاصه پاملرنه کړې ده، نو کېدای شي چې په آینده کې نور بحثونه پرې وشي.

۵_ د پښتو پر فرهنګ د روښانیانو اغېزې ددغه اثر یو بل ګټور بحث دی، چې موږ کولای شو د اثر د نبو بحثونو په لړ کې حساب پرې وکړو.

۶_ د څېړنې د روشونو په لحاظ هم ددې اثر د تحقیق او تحلیل ارزښت د منلې وړ دي او موږ کولای شو، چې د یو نبه تحقیق په توګه یې ومنو.

په پای کې زه ددغه اثر تحقیق او تحلیل مثبت ارزیابي کوم او د روښاني غورځنګ د پېژندنې په لړ کې یې یو ګټور اثر بولم او پېشنهاد کوم، چې دغه اثر چاپ شي او فایده یې عامه شي.

په درناوی

معاون سرمحقق زلمی هېوادمل

د ژبو او ادبیاتو د مرکز علمي غړی

او خدای روښنايي وليده، چې نيکه ده او خدای
روښنايي له تورتمه جلا کړه او خـدای روښنـايي
ورځ ونومولـه او تورتم يې شپه ونومولـه او مانښام و
او سهارو لومړی ورځ.

کتاب مقدس "عهد عتيق" (لندن: سوسايټی دارالسلطنه لندن، ۱۹۵۹، ۱.

د مسالې طرح

په ۱۳۵۳هـ ش کال کې په کابل پوهنتون کې د بایزید روښان علمي او نړیوال سیمینار جوړ شوی و، په دغه سیمینار کې د بایزید روښان په باب، د هغه د شخصیت او کارنامو او مبارزو په باب، ببلابیل نظریات وړاندې شوي وو. دغه نظریات ټول یو شان نه وو، زه نه پوهیدم چې کوم یو نظر سم دی. بحثونو زه وهڅولم، چې په دې باره کې مستقله او بېطرفانه څېړنه وکړم. د بایزید روښان په باب د خپلو څېړنو په ترڅ کې دې نتیجې ته ورسیدم، چې بایزید روښان د هغه شخصیت، مبارزې د هغه پیروان او مریدان او د هغو کارنامې ددغه غورځنګ د ټولنې د فرهنګي شرایطو په چوکاټ کې، د بایزید روښان د خپلو آثارو او د هغه د پیروانو او په هغه وخت کې د هغه د مخالفینو د آثارو په رڼا کې مطالعه او وڅېړل شي.

همدارنګه د بایزید روښان فلسفي او عرفاني شخصیت او د نړۍ له سترو متفکرینو سره د هغه د اصولو پرتلنه، د اسماعیلیه عقایدو په رڼا کې د روښان د عقایدو څېړنه او

PDF Compressor Pro

پر تناسخ او حلول باندې د هغه عقیده او نه عقیده، د بایزید روښان د تصوفي او عرفاني افکارو اغېزه، د هغه په تولنه کې، د ښځو د حقوقو په باب د روښان نظر او پر پښتنې فرهنګ باندې د روښانیانو غوڅه اغېزه او دا ډول نور مطالب، چې په نورو څېړنو کې پرې بحث نه و شوی او یا ډېره لږه اشاره ورته شوې وه، په دې څېړنه کې مې پرې د امکان تر حده رڼا واچوله، چې ګران لوستونکي ددې اثر په راتلونکیو مخونو کې د هغو لوستلو ته رابولم.

پس منظر

د بايزيد روښان په باب څو ډوله نظريات موجود دي:

۱ـ پخپله د بايزيد روښان او د هغه د مريدانو او پيروانو نظر.

۲ـ د هغه د مخالفينو لکه اخوند دروېزه او د دروېزه د پيروانو نظريات او يا د گورگاني دولت د مؤرخينو لکه دطبقات اکبري او هغه ته د ورته کسانو نظر.

۳ـ هغه نظريات دي، چې د بايزيد له وخت څخه لږ وروسته ځينو مورخينو او پوهانو لکه د مآثرالامراء د اثر ليکونکي، د دبستان مذاهب د اثر ليکونکي او دغه ډول نورو پوهانو نظريې دي.

دغه نظريات هېڅکله يو بل ته ورته نه دي. د روښان او د هغه د مريدانو او پيروانو نظريې د روښان پېژندنې لپاره

اصلي متون جوړوي. دغه آثار زياتره د هغه د عقايدو، افکارو او لارو چارو تشريح، توضيح او تبليغ دی.

د هغه د مخالفينو نظريې، اتهامات، تورونه او ځينې نور داسې دلايل دي، چې له هغو څخه هم په ناسيده توګه "د روښان پېژندنه" ترلاسه کېږي او درېيم ډول يې د بايزيد روښان په نسبت دوخت د فرهنګي محافلو نظريات دي، چې مورږ ورته اشاره وکړه. له دغو نظرياتو څخه په ځينو کې د بايزيد روښان د نظريو تائيد شوی او په ځينو کې يې په بې طرفانه توګه د هغو توضيح او معلومات وړاندې شوي دي، چې په مجموع کې دغه متون د روښان پېژندنې په برخه کې موثر او ګټور مطالب لري.

دوهم:

هغه آثار دي، چې نسبتاً په معاصر دوران پورې اړه لري. په دې مانا کله چې د بايزيد روښان اثر خيرالبيان له پيدايښت او چاپ کېدو څخه دمخه او يا لږ وروسته او يا د هغه د پيروانو او مخالفينو ان د اخوند دروېزه د آثارو له چاپ کېدو او خپرېدو وروسته وړاندې شوي او منځ ته راغلي دي. له روښان پېژندنې سره له يوې خوا مرسته کوي، خو له بلې خوا يې د ځينو احساساتي او ذهني ډوله نظرياتو په وړاندې کولو سره ځينې ستونزې هم وړاندې کړې دي. په دې لړ کې د عبدالحليم اثر، عبدالاکبر خان اکبر، قيام

الدين خادم، حمزه شينواري، همېش خليل همدارنگه په دې برخه کې د لوی استاد عبدالحی حبيبي، سيد تقويم الحق کاکاخېل، مولينا عبدالقدوس قاسمي، ډاکتر محمد شفيع لاهوري څېړنې او نظريات زيات معلوماتي او با ارزښته څېړنې ګڼل کېږي.

دريم:

هغه نظريات دي، چې په ۱۳۵۳کال کې په کابل کې د بايزيد روښان د نړېوال علمي سيمينار په ترڅ کې وړاندې شوي دي. په دې نظرياتو کې د معصومه عصمتي، پروفيسر سيال کاکړ، اسماعيل مبلغ، استاد خادم، عبدالله خدمتګار، ابراهيم عطايی، حبيب الله رفيع، څېړنمل ژواک، غوث شهامت، لوی استاد عبدالحی حبيبي، پروفيسر انور علي يف، عبدالقيوم نورزي، استاد پوهاند رشاد، اجمل ختک، دوست شينواري، پوهاند الهام، حسن ضمير، استاد محمد صديق روهي او نورو پوهانو نظريات دي. په معاصرو څېړنو کې په عمده ډول د بايزيد روښان د شخصيت په باب دري ډوله نظريې وړاندې شوي، چې استاد محمد صديق روهي په خپله يوه مقاله کې په لنډه ډول داسې تبويب کړی دی:

۱ـ عرفاني نظريه

۲ـ ملي نظريه

PDF Compressor Pro

۳_ عوامي نظريه

خو استاد روهي د خپلې لنډې مقالې په پای کې هر ارخیزه نتیجه ګیرې کړې ده.

استاد ددغه فلسفي مقالې په پای کې په دې ډول نتیجه اخلي:

"د روښانیانو نهضت د شکل په لحاظ عرفاني او د محتوی له مخې نیشنل عوامي حرکت و. هغه مورخان، چې شکلیاتو او ظواهرو ته ارزښت ورکوي، طبعاً د روښاني نهضت سطحي بڼه مطالعه کوي. یو شمېر مورخان د ظاهري پېښو په لیکنه بسنه، نه کوي، بلکې غواړي چې د تولنیز انکشاف د عمومي قوانینو په رڼا کې د پېښو اصلي عوامل په ګوته کړي..."(۱)

اوس ددې لپاره، چې مورږ د بېلابېلو لیدونو ته په پام سره ددې اثر محتوی او متن ته داخل شو، لازمه بولو د معاصرو څېړنو ډېر عمده او لنډ ټکي وګورو:

مذهبی، عرفاني او تصوفي نظریات:

مولینا عبدالقدوس قاسمي، چې پر خیرالبیان یې مفصله سریزه کښلې ده، د بایزید روښان په باب عقیده لري، چې:

_ بایزید انصاري د وحدة الوجود د ډلې په صوفیه وو

---

[1] محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې. (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۶۰)، ۱۲۸ مخ.

کې یو صوفي حسابېدای شي.

ـ د اسماعیلیه فرقې مربوطې ننبنې ننبانې د هغه په آثارو کې موجودې دي.

ـ نومورې د پېغمبرۍ دعوی هم کوله، خو د بشپړې پیرۍ دعوه یې درلوده.

ـ د نومورې په باب مخالف او موافق روایات هم ډېر دي.

دغه راز سید تقویم الحق کاکاخېل د مخزن په سریزه کې لیکي:

" د تناسخ له یوې مسئلې پرته نور د اخوند دروېزه ټول الزامونه په بایزید روښان وارد دي... د هغوی جنګ خالص په مذهبي بنیادونو وو، د حکومت په اشاره یا د سیاست په تحریک نه وو.

ډاکټر محمد شفیع، چې د بایزید روښان د آثارو په استناد یې یوه معتبره رساله کښلې او په (انسایکلوپیډیا اف اسلام) کې خپره شوې ځینې په زړه پورې نتیجو ته رسېدلی دی. هغه په دغه مقاله کې کښلي دي:

"ځکه چې له نورو خبرو نه علاوه د اسماعیلي عقایدو دا اثر دده په تعلیماتو کې د ملاحظې جوګه دی، چې ده د پیر کامل په عقیده ډېر ور اچولی، په ارکان اسلام په غسل وغیره مسایلو کې د تاویل بار بار استعمال او ځینې فروعي[1] مسایل یې په تعلیماتو

---

[1] آر: حروفي

کې شامل دي."([1])

همدا ډول مولینا عبدالقدوس قاسمي د بایزید روښان مذهبي افکار تر عنوان لاندې مقاله کې لیکي:

"... د لوی روحاني طاقت څښتن و. دده د اقوالو شرعي توجیه په څه نه څه رنګ کې کېدی شوه، خو بیا هم د "همه اوست"، "ذکر خفی" کاملیت دعوې او خلقو ته د اتباع دعوت او "سماع و سرود" دده د مسلک هغه اجزاء دي، چې د هغو په وجه د پیر بابا او د اخوند درویزه صاحب غوندې علماء او مشایخ د هغه په مخالفت کې حق به جانب وو.

ددې مخالفت ابتدا اول په خالص مذهبي رنګ کې شوې وه او په دې کې هېڅ سیاسي آمېزش نه و. دا ببله خبره ده، چې وروسته چې د روښانیانو سیاسي مخالفت شروع شو، نو د دوی په ختمولو کې دې مذهبي مخالفت هم خپل اثر کړی دی او د روښانیانو مذهبي مخالفین د سیاسي مخالفینو په مرسته په خپل مقصد کې کامیاب شوي دي."([2])

یاد شوي پوهان تر زیاته حده د بایزید روښان په مذهبي، عرفاني او تصوفي کیت او طرز تفکر باندې تېنګار کوي. ځینې لکه سید تقویم الحق کاکاخېل تر زیاته حده، د

---

[1] محمد شفیع، پښتو، بایزید انصاري. (پېښور: پښتو اکېډیمي، ۱۹۵۹ع) ۴ ګڼه، ۲۱مخ

[2] عبدالقدوس قاسمي، پښتو "د بایزید روښان مذهبي افکار"، (پېښور: پښتو اکېډیمي، ۱۹۵۹کال، ۲ ګڼه) ۸۶مخ.

دروېزه تر اثر لاندې دی، خو محمد شفیع په خپله رساله کې د حالنامې او د بایزید روښان د نورو آثارو په استناد د نومورې په افکارو کې نوي شیان رابرسېره کوي، لکه د اسماعیلیه عقایدو اثر، تاویل، کامل پیر او نور، خو په مجموع کې پورتني یاد شوي پوهان د بایزید روښان په سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو او کارنامو یا څه نه وایي او یا لږ څه وایي.

خو په کابل کې د بایزید روښان د نړیوال سیمینار مقالې، چې "د روښان یاد" تر عنوان لاندې اثر کې، چې په ۱۳۵۵کال کې د حبیب الله رفیع په زیار او اهتمام چاپ شوي هم په زړه پورې مطالب لري.

په دغو مقالو کې مرحوم استاد اسماعیل مبلغ، داکتر ناصر الدین شاه حسیني د تهران پوهنتون استاد او استاد حسن ضمیر صافي د بایزید روښان په باب ورته قضاوتونه کړي دي. مرحوم مبلغ وایي:

"بایزید د هغه مطالعاتو له مخې، چې د اسلامي تصوف په میراث کې یې درلوده او هغه روحي تجربه، چې پخپله یې ترسره کړه، خاص مکتب ایجاد کړ. د هغه صوفیانه مکتب د خپلو اجزاوو سره د نورو فرقو په څېر د اسلامي تصوف د میراث تر اغېزې لاندې واقع و، خو په مجموع کې له هغو مستقل او جلا و. د روښاني مکتب اصول او اساسات د بایزید په آثارو خاص ډول په (خیرالبیان) او (صراط

التوحيد) کې تشريح او تحليل شوي دي..."[1]

نومورې د خپلې مقالې په ترڅ کې د "روشنيه فرقې" اصول او اساسات توضيح کړي او په دې ډول يې نتيجه رااخيستې ده:

"لنډه دا چې بايزيد انصاري د افغانستان د تصوف په تاريخ کې د ډېر ارجمند مقام درلودونکی دی. د هغه ارجمندي په دې کې ده، چې د تصوف په لاره کې يې په جدي توګه لنډه محض تقليد څخه ډډه کړې او په ابتکار سره يې نوې فرقه د "روشنيه" په نوم او د عرفاني مقاماتو په ترتيب او شماره کې يې تجديد نظر کړی او د اسلامي تصوف خزانه يې غني کړې ده..."[2]

په دې ډول د مرحوم مبلغ مقاله يوازې د اوږدو او مفصلو بحثونو لپاره يو مدخل کېدای شي، خو ځينې استنتاجات وړاندې کوي، چې بايد د تحليل په پای کې ترسره شي. کېدای شوای چې د بايزيد د تصوفي او عرفاني افکارو بېلابېلې خواوې يې راسپړلې وای.

ايراني پوه، داکتر ناصر الدين شاه هم په خپله علمي مقاله کې د بايزيد روښان د فکري او فلسفي تناقض او عرفاني تعليماتو ارخونو ته اشاره کړې ده. نومورې ليکي:

"قبلاً بايد يادآور شد که در جهان بينی پير روښان تضاد

---

[1] اسماعيل مبلغ، د روښان ياد، ۴۶ مخ.

[2] روښان ياد، ۵۴ مخ.

آشکاری میان راسیونالیزم و ایراسونالیزم دیده میشود. یعنی در عین اینکه وی روش مرتاضان را می پسندد و جهان را خوار دانسته و دیگر سرای را بهتر میشمرد و روح را جاودانی میداند. به شیوهء مبارزه و دعوت به عمل تبلیغ را جهت اقامه حق و بسط عدل در این دنیا لازم میشمرد و پیروان خود را به قیام علیه جابران میخواند. تعالیم بایزید بدین صورت مختصر میگردد که نخست وی به خداشناسی و عرفان پرداخته و این در صورتی میسر میگردد که سالک پیروی کامل از پیر کامل کند. زیرا پیر کامل صاحب شریعت و حقیقت و طریقت است و هم اوست که معرفت و قرب و وصل و وحدت و سکون را یافته..."[1]

خو استاد ضمیر صافی سره له دې، چې هغه یو شکاک فیلسوف، مذهبي او عرفاني شخصیت بولي، د هغه عقیده او مسلک په سیاسي ډول هم توجیه کوي.

په دې ډول:

"... خو ماته دده د تعلیماتو او نورو کړو وړو له مطالعې څخه دا څرګنده شوې ده، چې بایزید یو شکاک فیلسوف (دی) او تر کومه ځایه پورې، چې ده له مذهب او الهیاتو سره تماس نیولی دی، له هغو نه دده مقصد د خپلو ملي اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره زیاتره یوه

[1] ایضاء، ۲۶۳ مخ

سیاسي استفاده وه او بس..."[1]

په پورتنیو نظریاتو کې موږ وینو، چې هم د کوزې پښتونخوا پوهاند او هم د سیمینار له ګډون کوونکیو څخه ځینو پوهانو د بایزید روښان پر مذهبي تعالیمو اتکاء کړې او د هغه د آثارو یو تفسیر او تعبیر یې وړاندې کړی دی او د هغه زده کړې یې توجیه کړې هم دي، خو په مجموع کې د بایزید روښان د عقایدو او افکارو هر اړخیزه څېړنه یوه هم نه ده کړې، نه یې د هغه فلسفي افکار او نه یې د هغه د لارې عرفاني مشخصات او نه یې د هغه د تصوفي مکتب مقامات څېړلي دي. څرنګه، چې ددغو پوهانو کار د ډېر لنډ او مقاله یي بڼه لري، یوازې پر یو یو بعد او اړخ یې ورته رڼا اچولې ده، نه پر ټولو خواوو. یوازې د محمد شفیع لاهوري کار له لنډې یادونې سره سره هر اړخیز بربښي.

د بایزید روښان ناسیونالېستي او ملي توجیه:

بایزید روښان (یې) د یوه ملي او استعمار ضد اولسي مشر په توګه بللی او هغه یې د افغاني ناسیونالېزم بنسټ ایښودونکی ګڼل لږ څه د غور او تامل خبره ده، ځکه ځینې مفاهیم لکه استعمار یا کلونیالېزم، ناسیونالېزم یا ملیت پرستي او د ملي مفهوم د بشري ټولنو د تکامل د خاصې زماني مقطع محصول دی، خو بیا هم که د پردیو په وړاندې

[1] روښان یاد، ۲۳۹ مخ.

دغه مفاهيم وکارول شي او هغه زمان او شرايط په نظر کې ونيول شي، بايد لازمه توضيح ولري.

په هر صورت ځينو افغاني پوهانو د خاصو ملي احساساتو تر اغيزې لاندې، دغه تاريخي حادثه د نن ورځې په معيار توجيه کړې او د بايزيد روښان غورځنګ يې يو ملي او ناسيونالېستي غورځنګ بللی دی. مورږ هڅه کوو، لومړی ددغو پوهانو د نظريو يو څو لنډ ټکي راواخلو او وروسته پرې که لازمه وه څه ووايو.

پروفيسور سيال کاکړ وايي:

"دغه پياوړی شخصيت د خپل عصر يو قوي قهرمان او زمورږ د مليت پر آسمان باندې د يو ځلاند ستوري حيثيت لري. مورږ د خپلې ټولنې دغه حقيقي ترجمان د صوفيانو او مذهبي افکارو څنګښتن، د جنګي ډګر غښتلی مبارز، د ادب د ميدان منلی ليکوال او د ملي شعور خاوند د بايزيد روښان په درانه نامه سره پېژنو."[1]

استاد قيام الدين خادم د بايزيد روښان مبارزې او غورځنګ په دې ډول توجيه کوي:

"د دهقانانو د قيام خبره خو ځکه ټيک ده، چې پښتانه له پخوا څخه بيا ترننه پورې ټول اکثره دهقانان او مالداران دي. د نن ورځې په تخمين افغانان په سلو کې پنځه نوي

[1] روښان ياد ۳۳ مخ.

دهقانـــان يعـــني واړه مـــالکين دي. ملـــک، فيـــوډال او تـــاجر داسي چې انحصارات هم وکولی شي، يا نه وو يا ډېر کم وو. ډېر کـم، چې په نشـت حسـابېږي، نـو چـې د بايزيـد عليـه الرحمه پسې ملت دربدلو خامخا به دا ملت دهقان و..."[1]

څېړنمل ژواک په "ملي احساساتو" دا خبره کوي، چې:

"زمـا جهـت زمـا عنـوان!"روښـان د ملیـت د بنسـټ اينبـودونکي پـه حيـث "تاکـل شـوی دی، نـو ځکـه وايـم چـې روښـان د همـدې کـرې او د آسـيا د لـويې وچـې د يـوې بـرخې بـالاخره د ۱۶ پېړۍ يـو شخصـيت دی، چـې پـه ۱۶ پېړۍ کـې روښان د ملیت بنسټ بيا اېږدي د ملیت!!"[2]

دغه راز غوث شهامت هم يادونه کوي، چې:

"هغـه د خپـل وخـت د اسـتبداد سـره ډېـرې ډغـرې وهلـي. روښـاني نهضـت د بېګانـه تسـلط مخـالف او لـه ګورګانيـانو سره يې روابط او تعلقات ښه نه دي پاتې شوي..."[3]

د بايزيـد روښـان دغـه ډول توجيـه او د هغـه د مبـارزو، افکـارو او عقايـدو دغـه ډول تعبيـر او تفسـير هغـه وخـت سـم پرځـای او منطقـي ګڼلـی شـي، چـې د هغـه خپلـو آثـارو او د هغـه د وخت آثارو او اصلي متونـو تـه پـام وکړو او د هغـو پـه رڼا کـې ځينـو قضـاوتونو او نتـايجو تـه ورسـېږو. (پـه) دې کـې هېـڅ

---

[1] روښان ياد ۶۱ مخ.

[2] روښان ياد ۲۲۵ مخ

[3] روښان ياد ۳۱۰ مخ

شک نه شته، چې هغه او د هغه لښکرو د مغلو له دولت سره نېغ په نېغه او مستقیم جنګونه کړي دي، خو هغه هېڅکله د ملیت په نوم خپل بېرغ نه دی پورته کړی. دا سمه ده چې د هغه د مبارزو شکل دغه ډول توجیه کېدای شي، خو داسې هم نه چې یوازې سیاسي ډغرې یې وهلې وې او یوازې سیاسي مبارزه یې کړې وي. مورږ به هڅه وکړو د همدې اثر په ځینو برخو کې د هغه د افکارو او عقایدو د مضمون او محتوی په باب څه ووایو.

۳ـ د طبقاتي مبارزې د تیورۍ پر اساس نظریه:

د سیمینارو زیاترو ګډون کوونکیو پوهانو یو نظر د طبقاتي مبارزې د تیورۍ له مخې نظر دی. سره له دې، چې له دغه سیمینار څخه اوس شپاړس کاله تېرېږي، خو د فریدریک انګلس ددې تیورۍ له مخې، چې وایي:

"د شپاړسمې پېړۍ په اصطلاح د مذهبي جنګونو په وخت کې اصلي مسئله د پوره مادي او طبقاتي ګټو په خاطر رامخ ته وه. د فرانسې او انګلستان د وروستیو کورنیو بحرانونو بنسټ پر طبقاتي ګټو باندې ولاړ و. که چېرې په هغه وخت کې دغو طبقاتي مبارزو مذهبي رنګ درلودی او که چېرې تر مذهبي پوښ لاندې د مختلفو طبقاتو ګټې رامخ ته وی، نو دا مسئله د جنګونو څرنګوالي ته تغییر نه ورکوي او کولای شو، چې د هغه وخت د شرایطو د شننې له

مخه يې څرنګوالی روښانه کړو. ښکاره خبره ده، چې د فیوډالیزم او کلیسا پر ضد د مبارزې په صورت کې باید تولو انقلابي، سیاسي او اجتماعي ایډیالوجیو مذهبي رنګ درلودای او ددې لپاره، چې پر اجتماعي اړیکو باندې حمله ممکنه شوې وای، لومړی باید له هغه څخه د تقدس پوښ لیرې شوی وای."

درېیم ډول نظریات تر زیاته حده د همدې مفکورې پر اساس توجیه شوي دي. دا هغه نظریات دي، چې په راوروسته کلونو کې په تېره د ستالین د دورې تاریخ لیکنې ورته خاص او نسبتاً مطلق رنګ ورکړی دی. ددغه ډول نظریاتو له مخې، د حقایقو، فاکتونو او عواملو له مخې تیوري منځ ته نه ده راغلې، بلکې تول عوامل، حقایق او پېښې د تیورۍ په چوکاټ کې اچول شوي او توجیه شوي دي. په دې کې زیاتره شوروي پوهان لکه م.اسلانوف، ي.ریسز، ک.انتونووا، یو.انکوفسکي، ن.دوریانکوف، و.رومادین، گ.گیرس، ع.منانوف یې، پولیاکووا او داسې نورو په خپلو څېړنو کې د بایزید روښان د نهضت په باره کې ځینې مسایل څېړلي دي.

د سیمینار زیاتره ګډون کوونکیو او افغاني پوهانو هم د بایزید روښان شخصیت او نهضت په باره کې همدا لاره نیولې او خپلې شننې یې عیارې کړې، چې له هغه جملې دوریانکوف، عبدالباري جهاني، استاد عطایي، قیوم

نـــورزي، معصـــومه عصـــمتي، منـــانوف او نـــورو دغـــه ډول نتيجې اخيستي، چې په لنډ ډول يې يادونه کوو:

محترمه معصومه عصمتي ليکي:

" د پيـر روښـان مبـارزې تـه بزګـري او عـوامي نهضـت ويـلای شـو. ولـې چـې پيـر روښـان خپلـه مبـارزه د عوامـو او بزګرانـو او محرومـو او بېکـاره ډلـو پـه ملګرتيـا شـروع کـړه او پـرمخ يـې بيولـه او لـه لـورړو طبقـاتو سـره يـې هېـڅ راز اړيکـه نـه درلوده."[1]

عبـدالباري جهـاني هـم د انګلـز د پورتنـی تيـوری پـر بنسـټ خپلـه مقالـه کښلـې ده او پـه ضـمني ډول يـې روښـاني غـورځنګ پـه مـذهبي پـوښ کـې د ګورګانيـانو او حاکمـه پوړيـو پر ضد عوامي غورځنګ بللی دی.

قيـوم نـورزی هـم د خـپلې مقـالې پـه تـرڅ کـې د عبـدالرحيم منـانوف نظريـه تاييـدوي او د نتيجـه ګيـری پـه تـرڅ کـې يـې يادونه کوي:

" نومـوړی پـوه د خپلـو څېړنـو پـه نتيجـه کـې وايـي، چـې د بايزيـد روښـان پـر شـاوخوا د خلکـو لـويې حلقـې، چـې قـاطع اکثريـت يـې غريـب او نـادار خلـک وو، راټـول شـوي او د وخـت د دربار او د جاګيردارانو پر ضد يې مبارزې کولې." [2]

محترم ابراهيم عطايي هم ليکي:

---

[1] روښان ياد ۳۰ مخ.

[2] روښان ياد ۱۲۰ مخ

" بايزيد روښان د يو آگاه سړي په حيث د وخت د استعمار پر ضد له عقيدوي محاذ څخه جګړه شروع کړه. روښاني جنبش د يوې ملي ايډيالوژۍ په پيروۍ رااوچت شو. ده په ډاګه وويل، چې هر څوک خپل ځان نه پيژني، هغه خداى هم نه شي پيژندلاى. روښان وويل، چې د خداى په نزد تول انسانان مساوي دي، اصل نسب او دنيايي اعتبار څه اهميت نه لري، ځکه چې بايزيد د پير روښان په لقب د اعتبار خاوند شو، نو هغه کسان چې د فيوډالۍ تسلط تر فشار لاندې ځپل شوي وو، تول يې پر شاوخوا راتول شول. د روښان تعليمات، چې سربيره پر مذهبي مترقي ارزښت ملي ارزښت هم درلود، داسې قدرت وموند، چې هيچا له هغه څخه سر نه شو غړولاى."(1)

محترم عطايي صاحب د خپلې مقالې په پاى کې دا ډول نتيجه گيري کوي:

" روښاني نهضت يو بزګري نهضت و، ملي خصوصيت يې هم درلود.... په دې حقيقت مورږ نن ښه پوهږو، چې د روښانيانو نهضت ضد فيوډالي و او ملي خصوصيت يې درلود."(2)

دوريانکوف ليکي:

" دغه نهضت اولسي و او د خلکو د اکثريت (بزګرانو) غوښتنې يې څرګندولې."(3)

---

[1] روښان ياد ۱۲۵ مخ

[2] روښان ياد ۱۲۸ مخ

[3] روښان ياد ۱۴۹ مخ

نوموړی زیاتوي:

بلکې دا نهضت د ګورګاني امپراتورۍ د تسلط پر ضد د خپلو فیوډالانو پر خلاف د لویي منطقې د اولسونو د ازادۍ د مبارزې یوه مهمه برخه وه...([1])

بل شوروي پوه پروفیسور انور علي یف هم په دې لړ کې زیاتوي، لیکي چې:

"د پیر روښان د مذهبي زده کړو په استناد په اسانۍ سره ثابتولی شو، چې دغه غورځنګ تولنیزه او طبقاتي جنبه درلوده او دا د ظلمونو او استبداد پر ضد د عامو او زیارکښو خلکو داسې عکس العمل و، چې د فیوډالیزم وده یې له ځانه سره درلوده..."([2])

انور علي یف په لنډه توګه ددغه غورځنګ مشخصات هم څرګندوي. نوموړی د روښانیانو غورځنګ یو کلیوالي بزګري غورځنګ بولي، چې زیاتې اغیزې یې پرېښې دي. دغه غورځنګ قومي غرور درلود. روښان د بزګري او کلیوالي غورځنګ بنسټ ایښودونکی و او ددې غورځنګ مبارزه نه یوازې یوه طبقاتي او سیاسي مبارزه وه، بلکې روښان د رنسانس موجد هم و.

اسلانوف شوروي پوه هم په خپله رساله کې د خپل تحلیل په نتیجه کې او د دې لړو لړو موادو پر بنسټ داسې نتیجه اخلي، چې:

---

[1] روښان یاد ۱۴۹ مخ

[2] روښان یاد ۳۶۱ مخ

" د پورته وينا په نتيجه کې ويلای شو، چې د روښانيانو نهضت او حرکت يو دهقاني او د بزګرانو حرکت و، چې د ملاکانو او فيوډالانو په مخالفت روان و.(۱)

نورو شوروي پوهانو، و.م ماسون، او و. رومادين هم په خپل اثر د افغانستان تاريخ دوهم ټوک کې ددغه غورځنګ په باب داسې نتيجه اخلي. ليکي:

"دغه نهضت د خپل اصلي ماهيت له مخې ضد فيوډالي جريان و، ددې نهضت پيروانو د خانانو او عالمانو په مقابل کې د ځمکې د لاس ته راوستو او د دوی د امتيازاتو د منځه وړلو لپاره سخته مبارزه کوله. په "منتخب التواريخ" کې، چې په ۱۷ پيړۍ کې د يوه هندوستاني مورخ په قلم ليکل شوی دی، روښاني جريان ته بالکل بزګري نهضت ويل شوی دی."(۲)

خو له دې ټولو خبرو سره، چې دمخه وشوې څو مسئلې بايد يو له بله سره ګډې نه شي.

ـ د بايزيد روښان مذهبي، عرفاني او تصوفي شخصيت، چې د روښانيانو د غورځنګ پر ټول جريان يې اغېزه درلوده.

---

[1] اسلانوف، د روښانيانو ملي نهضت د "معتمد ژباړه" (کابل: پښتو ټولنه ۱۳۵۳ کال)، ۱۸ مخ.

[۲] و.م.ماسون، و.ا. رومادين. د افغانستان تاريخ، ۲ ټوک، بايزيد انصاري "د ګل محمد نورزي ژباړه" (کابل: پښتو ټولنه، لسمه ګڼه، ۱۳۴۹ کال) ۳۹ مخ.

_ بل هغه بدلونونه، چې د زمان په اوږدو کې د بايزيد روښان په ژوند او د هغه تر مرګ وروسته په دغه جريان کې منځ ته راتلل.

_ په دغه جريان کې عقيدتي مسايل.

_ له ټولنيزو_سياسي پېښو سره ددغه جريان د لارښوونکيو چلند.

_ او له خپلو مخالفينو سره د روښانيانو چلند.

مورخ پر دې باور يو، چې د روښانيانو د غورځنګ په ځير په يوه موثر جريان او د جريان د کلي بهير يوه کوچنۍ مقاله کې، د ضمني او دوهم لاس موادو له مخې څه ويل او د هغه په عمومي جريان د يوې جزيي پېښې تعميم د سختو تېرو تنو سبب کېږي. دا هېڅکله د يوې مقالې د حوصلې کار هم نه دی. همدا اوس د روښانيانو د غورځنګ په باب د پر اصلي او لومړني لاس مواد شته، چې مورخ ته د نوي مېتودولوجۍ او څېړنې د نويو اصولو په ترڅ کې تياره ګوتونه راروښانه کوي.

اړه ده ددې پرځای، چې ددغه دول يو عظيم جريان او دهغه پېښې د ځينو معاصرو تيوريو په چوکاټونو کې واچوو او يا يې د اروپا له ټولنيزو_سياسي او مذهبي مودلونو سره په تله کې واچوو او يا يې پرتلنه وکړو. ښه به دا وي، چې پخپله ددغه جريان خصوصيات، مشخصات، علتونه او عوامل وڅېړو او په پای کې تري خپل تعريفونه بشپړ کړو.

په دې اساس په دې اثر کې، چې په "حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي شخصیت" نومړي، هڅه شوې چې د روښانیانو د دورې په اصلي متونو په تېره په حالنامه اتکار وشي. له همدې کبله مې حالنامه د اساسي موادو په توګه غوره کړه. البته باید ووایو، چې زمونږ څېړنه یوازې د حالنامې په متن پورې ترلې نه ده، بلکې نومورې اثر په خپل ځای کې خاص اهمیت لري، چې زمونږ د څېړنې په یوه برخه کې به پرې څرګندې او تاکلې خبرې وشي.

په دې دول مونږ په دغه څېړنه کې د بایزید روښان د سیاسي شخصیت، د هغه د ملي او آزادي غوښتونکي شخصیت او نورو خواوو په باب څه نه وایو که څه وي هم هغه به ضمني جنبه لري، نه اساسي. په دې څېړنه کې هڅه شوې، چې په لومړي قدم کې د بایزید روښان د زېږېدو د تولنیز- فرهنګي چاپېریال په باب، په مقدماتي دول خبرې وکړو او وروسته د هغه د لنډ ژوندلیک له یادونې (چې په دې برو آثارو او څېړنو کې یې تفصیلي یادونه شوې ده) د بایزید روښان شخصیت د فلسفي او عرفاني افکارو په ابعادو کې، همدارنګه د وخت د فکري جریانونو څخه د هغه د تاثراتو په باب او په پای کې د بایزید روښان او د هغه د غورځنګ سترو اثراتو ته اشاره وکړو.

کله چې په دې څېړنه کې مونږ د بایزید روښان د افکارو فلسفي او عرفاني ارخ څېړو، د فلسفي مفهوم د ارسطو یې،

افلاطـــوني، ديكـــارتي او نـــورو فلســـفي ښوونځيـــو پـــه سيســتماتيک مفهــوم نــه دي، بلکــې بــې لــه شــکه چــې نومــورې د خپــل وخــت يــو عــارف، صــوفي او پيشــوا و. هغــه د خپــل وخــت مــذهبي او فکــري پروبلماتيــک او عرفــاني_فلســفي اړخونــه څېړلي دي، خــو پــه دې اثــر کــې مــوږ هڅــه کــړې د ځينــو مهمــو معاصــرو فلســفي ښوونځيــو د هګــل، ســارتر او مشــهورو اړواپوهــانو لکــه فرويــديونک او نــورو لــه نظــره ددغــه ډول فکــري ليــد تــوګي لنډه انــدازه ولګــوو. خــو دا بــه د څېړونکيــو پــه قضــاوت او مطــالعې پــورې اړه ولــري، چــې زمــوږ کــار تــر کومــه حــده نيمګړتيــاوې لــري او تــر کومــه حــده لــه دوبليکيشــن څخــه لیــرې دی. البتــه دغــه ليکنــه تراوســه پــورې د نــورو څېړونکيــو اړپــاره ډېــره لــږه د پــاملرنې وړ مســاله وه او کــه ده هــم ضــمني جنبه يې درلوده.

بايــد ددې تکــي يادونــه هــم وکــړو، چــې پــه دې څېړنــه کــې د بايزيــد روښــان د علمــي او فلســفي شخصــيت پــر څېړلــو ســربېره د بايزيــد روښــان او اســماعيليه افکــارو پرتلنــه هــم شــوې ده. د بايزيــد روښــان پــه افکــارو او عقايــدو کــې د حلــول او تناســخ د مفکــورو پــه بــاب هــم څرګنــدونې شــوي. د موســيقۍ د رواج، د ښځــو د حقوقــو او پــه دغــه جنــبش کــې د ښځــو د مقــام پــه بــاب څه ويــل شــوي او پــه پــای کــې پــر پښــتنې ټولنــه باانــدې ددغــه ســتر سياســي_فرهنګي او مذهبي غورځنګ اغېزو ته اشاره شوې.

دغــه راز هڅــه شــوې، چــې د څېــړنې پــر ميتــود او د کــار پــه

طرز باندې رومبنی فریضې او نظریې تحمیل او ونه تپل شي، بلکې د علمي او بې طرفانه قضاوت او د لاس ته راغلیو اسنادو او مدارکو په رڼا کې مسایل تحلیل او څېړو.

په نتیجه اخیستلو کې هم دا هڅه شوې ده.

له بلې خوا کېدای شي ددې اثر یو عمده ارزښت دا وګڼل شي:

زمونږ په کتابتونونو او فرهنګي موسسو کې تراوسه پورې ددغه اثر د موضوعاتو لړونکی اثر نه و. په دې شرایطو کې چې زمونږ د هېواد پرګنې، ولسونه، ملیتونه او مذهبي فرقې سره نږدې کړي، خالي دي. باید هڅه وکړو، چې د یوه واحد ملت د تکل او تکامل پر لور لا پاخه ګامونه واخلو. په همدې اساس د بایزید روښان او اسماعیلیه فرقې د افکارو پرتلنه او پر بایزید روښان ددغه فرقې د عقایدو د اثراتو مطالعه زمونږ د کار (په) ارزښت کې کمی نه راولي، بلکې بالعکس. هیله ده ګران لوستونکي په خپلو علمي او انتقادي نظریو سره ددې کار د بشپړتیا په برخه کې له مونږ سره مرسته وکړي.

و من الله التوفیق

محمد اکبر کرګر

د بایزید روښان د ژوند چاپېریال، زوکړه او زده کړه

الف: د بایزید روښان د وخت ټولنیزو فرهنګي حالاتو ته یوه کتنه

د روښانپېژندنې یا په بل عبارت د روښان د ژوند، حالاتو او د هغه د فکري سیر او سلوک د څېړنې لپاره لږ تر لږه اړ یو، چې د روښان د زېږېدو تاټوبی، د هغه د وخت (پس) سیاسي حاکمیت، فرهنګي چاپېریال، فکري او رواني اتموسفیر باندې رنا واچوو.

د بایزید روښان ژوند، زده کړه، چې وروسته به پرې هم رنا واچول شي، د مغلي امپراتوری په شرایطو کې ترسره

کېږي. د هغه تر زېږېدو يو کال وروسته بابر مغلي امپراتور هند ته ورځي او د لودي پښتنو حکومت سقوط کوي.

بايزيد روښان (انصاري) د خپل ژوند په مشخص پراو کې د روښان لقب ګټي. يوه مذهبي فرقه رهبري کوي او د خپل وخت (له) متداوله علومو څخه فيض اخلي. په دې دول هغه په خپل ژوند کې په خپلو سترګو مغلي حکومتونه وينې. د مغلو "مغل واره" تاراکونه وينې. د پښتنو د اوسېدو پر سيمو باندې د هغوی باج، خراج او سورسات وينې او له بلې خوا د هندي او پښتني فرهنګ په لمنه کې رالويږي. ددې لپاره چې د وروسته ژېړنو او نتايجو لپاره مو په آسانۍ سره لار هواره کړې وي، لازمه بولو چې په لنډه توګه د بايزيد روښان د عصر ټولنيز فرهنګي او فکري حالت ته يوه کتنه وکړو.

۱ـ ټولنيز حالات:

د پښتنو په تاريخ، فرهنګ او ټولنيز ژوند کې د تېر په پرتله شپاړسمه پېړۍ د نويو پېښو، واقعاتو او زېږېدنو زمانه ده. د منځنۍ اسيا يرغلونه، د مغلي دولتونو استبداد، له افغانستان څخه د هند پر لور د تل په څېر لېږد پدنې او نور عوامل ددې سبب شول، چې له اقتصادي پرمختګونو سره موازي ټولنيزه وده هم منځ ته راشي.

په پښتونخوا او دغه راز په افغانستان کې په خاص دول

په پښتني سيمو کې هم د نورو په څېر په بزګرو او کروندګرو د مالياتو حواله زياته شوه. که دمخه يوازې پر آبي او حاصلخېزو ځمکو حواله وه، دا وخت په غير آبي (للمي) او نورو ځمکو هم ماليه حواله شوه.

ـ پر مالګې او تمباکو مالیات لوړ شول. د لارې تکس هم په لارو يو جوپه والو او مسافرو وضع شو.

ـ د ګورګاني (مغلي) دولتونو له خوا د مالياتو د راټولولو لپاره ببرحمانه قوانين وضع شول.

ـ بزګران او په ټېره کسب ګران په تدريج سره کمپدل. دا کار (د) کرکيلې د کمزورتيا سبب هم کېده.

پېښور په لره پښتونخوا کې دلاهور او کابل ترمنځ هغه مناسبه سيمه وه، چې تر نورو پښتنې سيمو د لويې لارې پر سر پروت واو د تجارتي او ترانزېتي فعاليتونو مرکز کېدای شو.

"جلال الدين اکبر لومړنی بادشاه و، چې يوه لويه تجارتي لا يې پرانېستله. هغه ددې کار لپاره د خيبر دره، چې کابل او لاهور يې سره نږدې کول، غوره کړه او په ۱۵۸۱ع کال کې يې قاسم خان مهندس موظف کړ، چې د عراده جاتو د تېرېدو لاره جوړه کړي."(۱)

د صديق فرهنګ د يوې څېړنې له مخې په همدغو

---

[1] صديق فرهنګ، "محيط اقتصادی_اجتماعی و سياسی خوشحال خان" توريالی پښتون (کابل دولتي مطبعه، ۱۳۵۰)، ۱۷۱ مخ.

شـرايطو کـې پـه پښتونخـوا کـې دغـه ډول تـولنيز جوړښـت موجود و.

ـ ملاکـان يـا د زيـاتو ځمکـو خاونـدانو او د قبيلـو مشـرانو يـو پاسـنی قشـر او طبقـه جوړولـه، چـې مغلـي دولتونـو ورتـه پاملرنه کوله. د بډو او جاګير په واسطه يې د ځان تابع کول.

روحـانيون، چـې د قبلـوي شـخړو د فيصـله کولـو او لانجـو په هوارولو کې يې نقش درلود.

ـ رعيـت، يعـني بزګـران، شـپانه او مـزدوران چـې د اجـوري (چاريکه) په مقابل کې يې د ملکانو په ځمکو کې کار کاوه.

ـ ګاونډيـان، هغـه خلـک چـې لـه قبـيلې بهـر او نـورو سـيمو څخه راغلي او ځمکې يې نه درلودې.

ـ مريـان او غلامـان، چـې البتـه د پښتنـي تـولنې د جوړښـت په تناسب يې په ځينو متونو کې يادونه شوې ده.

لـوی اسـتاد پوهانـد عبـدالحی حبيبـي مرحـوم پـه خپلـه مهمـه مقالـه کـې، چـې "د روښـان پيـر عصـر او دده غـورځنګ" نومپـړي، د هغـه وخـت د پښتونخـوا د وګړيـو طبقـه بنـدي پـه څلـورو کتګوريـو کـې (چـې دمخـه ويـل شـوي تبويـب تـه نـږدې ده) څېړي.

ـ يـوه ډلـه هغـه خلـک، چـې د کوچيـانو يـا پوونـدوو پـه توګـه پـه شـين شـوبو او څړځـايونو پسـې ګرځېـدلی، سـترې رمـې يـې درلـودلې او د تـولنې د غـذا او ابتـدايي ثـروت لومړنـی سرچينه وه.

PDF Compressor Pro

ـ دوهم ټولنيزه ډله د کليو کروندګر و، چې په ښپرازو ځمکو کې مېشت او خواريکښ ديګانان وو. يا هغه قبيلوي لېږد پدونکي وو، چې کله به د څړځايونو له املې په تنګ شول، نو د نورو ورشوګانو په لټه کې به بل ځای ته مهاجر کېدل. دغه ډله خلکو به ښپرازې ځمکې د شېخ ملي د دفتر له مخې په هرو لسو کالو کې بدلولې. د دوی د استوګنې سيمه هم د خيبر نه تر آباسيندې پورې ښپرازه سيمه وه.

ـ دربيمه ډله خلک هغه وګړي وو، چې په ښارونو، ښارډو او کليو کې په صنعت او کسب ګرۍ مشغول وو او د دربارونو او لويو خانانو په خدمت کې وو. د هنر او فرهنګ په انکشاف کې يې رول درلود.

ـ څلورمه ډله هغه خلک وو، چې د خاص ټولنيز دريځ له مخې يې پورته پوړۍ يا له دربار سره اړيکې پيدا کړې، لکه حکمرانان، لښکرکښان او درباريان، روحانيون، ملايان او پيران او کله هم له لويو خانانو څخه عبارت وو. ټولنيز تحرک Socialmobilty هم په همدغه قشر کې ترسره کېده." .. او کله چې به له هغو نورو درو ډلو څخه ځيني غښتلي او بريالي راووتل، نو به هغه هم په دې لوړه ډله کې درېدل او د شاهانو او دربارونو په زور يې واړه يا غټ ملوکي مراکز جوړول. لکه ملک شاه منصور يوسفزی، چې خپله لور بي بي مبارکه يې بابر شاه ته واده کړه او ځان يې ددغه پاچا په دربار کې داخل کړ، د خوشحال خان ختک

کورنی، چې د ډهلي د مغولو له خوا ددې سيمې مشران او جاګيرداران وو.

يا مثلاً له روحانيونو څخه خواجه عبدالله احرار د آمو په شمال او جنوب کې د دوني مځکو او جايدادونو خاوند و، چې ځانته يې مستوفيان لرل. ملا عبدالله سلطان پوري، شيخ الاسلام، چې په هند کې د روښان معاصر و، کله چې (۹۹۰ق. ۱۵۸۱م) کې مړ شو، دېرش مليونه روپۍ ځني پاتې شوې."(۱)

۲ـ فرهنګي حالات:

د هند د ګورګاني امپراتورۍ په شرايطو کې د کابل، کندهار، بلخ او بدخشان له صوبو څخه په دولتي خزانه کې د دولت د عايداتو له زياتوالي ثابتېږي، چې د سوداګرۍ، کرنې او د صنعت چارو له ټولو ستونزو او خنډونو سره سره بيا هم پراختيا موندله. په دغه دوره کې به تل له ماوراء النهر او له ايران او خراسان څخه کسب کاران هند ته او له هغه ځايه به نومورو هېوادونو ته تله راتله. پوهان او عالمان به هم له يوه هېواد څخه بل ته تله. سوداګرو به هم د عثمانيه ترکيې، ايران او ماوراءالنهر نه بنکلي کالي او ټوتې او مالونه د خراسان له لارې هند ته او هندي مالونه، دواګاني او نور قيمتي شيان خراسان او ماوراء النهر، ايران او ترکيې

---

(۱) بايزيد روښان، خيرالبيان. (کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳)، ۴ـ۵ مخونه.

ته وړل راوړل. له دې لامله به تل ستړې تجارتي قافلې د کابل، کندهار او هرات له لارو تېرېدلې. امرتسر، پېښور، ملتان، شکارپور او کابل، کندهار،هرات، بخارا، خجند او مشهد د تجارتي کاروانونو او فرهنګي مبادلاتو ستر او مهم مرکزونه وو.

د هند او منځنۍ آسیا ترمنځ د تجارت او سوداګرۍ انکشاف پېښور ته بنه مناسب موقعیت ورکړ. د هند او خراسان او منځنۍ آسیا ترمنځ د لویې لارې جوړېدل، (پر) پېښور او د هغه په خواوشا سیمو ژوره اغېزه وکړه. په دې دول د پېښور او د هغه د خواوشا سیمې له نویو ټولنیزو اقتصادي بدلونونو سره مخامخ شوې او د وګړیو په ژوند او د ژوندانه په طرز کې هم بدلون راغی.

د روښانې غورځنګ د پیل تر وخته په پښتونخوا کې کتبې (لیک لوستې) ژبه دري یا فارسي ژبه وه. پښتو ډېره لږه او یا کمه لیکل کېده. روښانې غورځنګ ددې لپاره، چې په ولسونو او د سیمې اصلي اوسېدونکیو ته لاره پیدا کړي، خپل آثار یې په پښتو وکښل. فارسي رسمي ژبه وه. مغلي حکمرانانو د پښتنو قبایلو له مشرانو سره د پښتو، فارسي د ترجمانانو په وسیله خبرې اترې کولې.

د اکبر پادشاه په دربار کې به فارسي خبرې کېدلې او د پښتنو بندیانو خبرې هغه ته په فارسي ژباړل کېدلې.

فارسي د مدرسې ژبه وه. د فارسي ژبې مشهور شاعران،

صوفیان او عارفان لکه شیخ فرید الدین عطار، مولینا جلال الدین محمد بلخي، نورالدین عبدالرحمن جامي، ابو المجدود بن آدم سنایي غزنوي، حافظ شیرازي، سعدي او نور... زیات شاعران او هنرمندان د پښتنو په فرهنګي تولنو کې اشنا او پېژندل شوې څېرې وې. ددغو مشاهیرو د اثارو او کلامونو نمونې او تاثیرات په پښتو ادبیاتو کې لیدلای شو.

بایزید روښان او د هغه سرسخته مخالف اخوند دروېزه او د هغو پیروان په دواړو ژبو پوهېدل. تذکرة الابرار والا شرار په فارسي کښل شوی دی. د خیرالبیان زیاته برخه په (پښتو برسېره) په فارسي او عربي ده. د بایزید روښان حالنامه په فارسي ژبه کښل شوې ده.

له دې څخه جوتېږي، چې پښتونخوا د خپل سنکرتیک فرهنګي ځانګړیتوب له مخې لکه څنګه، چې په تجارتي لحاظ د غرب او شرق دلویې لارې او ان د وربنېمو د لارې پر تېر پرته وه، دغه ډول په بېلابېلو دورو کې د فرهنګي التقاط او یوځای کېدنو او ترکیبونو سیمه هم وه او ده. لذا پر پښتونخوا باندې د اسلامي فرهنګ د نفوذ له لارې د عربي فرهنګ اثرات بیخي زیات او لاسبري وو.

فارسي ژبه ددغو فرهنګونو په لاس بري کولو کې غوره وسیله وه. هندي او اردو ژبې هم بې اثره نه وې. لکه چې خیرالبیان په هندي (اوسنۍ پنجابي) هم کښل شوی دي.

اسلامي فرهنگ د وخت لاسبری او مسلط فرهنگ وو. د اسلام تر خپرېدلو وروسته اسلامي او په تېره عربي فرهنگ ته د پښتنو په منځ کې پراخه امکانات وو. په دې اساس د تاريخي حقايقو له مخې مورې په پښتونخوا کې هر ډول فرهنگي پديدې له عربي، فارسي او هندي فرهنگي اثراتو څخه پرته او مجردې نه شو څېړلای او نه يې هم مطالعه کولای شو. کله کله، چې د ژبنيو تعصباتو ځينې څېړې راپورته کېږي، له هغو څخه جوتېږي چې عاملين يې له تاريخي حقايقو ډېر ليرې او مجرد فکر کوي او يا د اتنوسنتريزم او يا کلچرسنتريزم په امراضو اخته دي.

۳ـ فکري او رواني حالات:

د مغلو د امپراتورۍ پراختيا او د هغې د دوام په موده کې په تېره د روښاني غورځنګ د منځ ته راتلو په شرايطو کې په فکري لحاظ يو ډول تشتت او پراګنده ګي بريښي. اساطيري، موهومي او خرافاتي ذهنيت پر ټولنه لاسبري دي. قبيله او په تېره په مجموع کې (د) پښتنو قبايلو لپاره د هغو مخالفين د افسانوي نسب نامو روايات جوړوي. غير پښتون اخوند د سيد علي ترمذي مريد دروېزه په تذکرة الابرار والاشرار کې د پښتنو د نسب او شجرې په باب غلط او غير علمي او غالباً موهومه نسب نامه ذکر کوي. نومورې پښتانه بني اسرايل يادوي. سره له دې، چې نومورې په خپله

په پښتو آثار کارې، خو د حاکمو پورې لپاره د خاصو سیاسي اهدافو په خاطر اظهار نظر کوي.

"د سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل په عقیده خواجه نعمت الله هروي لومړنی مورخ دی، چې په "مخزن افغاني" نومي کتاب کې يې پښتانه بني اسرایل بللي دي، خو څرنګه چې اخوند دروېزه هم په تذکرة الابرار والاشرار کې(*) همدغه نظریه وړاندې کړې ده او دا دواړه کتابونه تقریباً په یوه وخت کې لیکل شوي دي، نو مورخ د کاکاخیل صاحب نظریه د څېړلو وړ بولو."(۲)

استاد روهي له نومورېو نظریاتو داسې استنباط کوي:

"سید علي ترمذي، اخوند دروېزه د حضرت بنور صاحب زامن، میا نور او اخوند پنجو، چې له گورګاني دولت سره يې دوستانه تعلقات درلودل، د روښانیانو پر ضد يې د پر زیات تبلیغات کول او ځینې قومونه يې د هغوی له ملاتړ څخه راوګرځول. د هغو کسانو له جملې څخه، چې د روحانیت په لباس کې د سیاسي مقاصدو د پوره کولو په خاطر پښتنو ته ورغلي دي، اخوند دروېزه خاص شهرت

---

* د دروېزه له تذکرة الابرار والاشرار کې له ۷۹ مخ څخه وروسته دا تفصیل راغلی دی.
(ذکر احوال و انساب و اعمال افغانان و کیفیت الحاق این فقیر).
تذکرهٔ دوم.

۲ محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې (کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۶۰)، ۱۸ مخ.

لري."([1])

ـ په مطلوبه زمانه کې په مذهبي او عقيدتي لحاظ سره له دې چې افغانان اسلام ته ډېر له پخوا رااوښتي وو، خو اسلامي وحدت نظر يوازې په حرف کې و، نه په عمل کې. په پښتنو کې متعدد پيران او مرشدان راپيدا شوي او هر يو پير ځان برحق باله.

په هغه زمانه کې دا ډول مقولې عامې وې لکه، چې د حالنامې مؤلف يې هم يادونه کوي:

" لا دين لمن لا شيخ له" (څوک چې پير نه لري، هغه دين نه لري) او يا دا چې "من لا شيخ له فاالشيطان شيخه." (چې د چا پير نه وي، د هغه پير شيطان وي.)

په همدې ډول د روښان او اخوند دروېزه په زمانه کې په پښتونخوا کې د همدغه فضا او اتموسفير په موجوديت کې زيات شمېر پيران پيدا شوي وو. اخوند دروېزه په تذکرة

---

[1] ډومبنی اثر، ۱۸۸ مخ.

اخوند دروېزه د ټولو پيرانو په نسبت په خپل اثر تذکرة الابرار والاشرار ۱۵۱ مخ کې زيات د بايزيد روښان په آدرس ناوړه کلمات استعمالوي او د لعين خطاب ورته کوي، خو په مجموع کې د افغانانو سپکاوی هم کوي. وايي، چې :"از آنکه علمای افاغنين چون تحصيل تام ندارند بل تحصيل ناتمام هم ندارند، چی از علم دارند هر آئينه از جهلا اينمردم. در دين و ديانت و صلاحيت و عفت کمتر اند تا روزی از روزها نوشته اين لعين به خدمت حضرت شيخ علی ترمذی قدس سره و هم بره در رسيد. حضرت ايشان فرموده که قوی بلا برين مردم افغانين نازل شده.."

ابرار والاشرار کې د مبتدعو پیرانو یو اوږد لست وړاندې کوي. لکه پیر طیب، پیر ولي، بایزید انصاري، پیر عمر، پیر چالاک او نور، چې شمېر یې له پنځوسو څخه زیات دی او د یاد شوي اثر له ۱۵۹ مخ څخه وروسته یې په تفصیل یادونه شوې ده.

د پیرانو له تعدد او د هغو د لاسنیوي او له روابطو څخه د هغه وخت د ټولنې لاسبرې او حاکمه فضا، د خلکو روانې او فکري سطحه، ګډوډي او بې نظمي، پریشاني او د یو څه د پیدا کولو په خاطر لټه او تلاش بربښي، چې د وخت د ټولنې انسان په ټول سرسانده او سرسامه حالت کې د یوه روانې ایډیال او تسکین په لټه کې دی. سره له دې، چې استاد روهی ددغه حالت یو علت د وخت په موجوده شرایطو کې په دې ډول څېړي، چې له نورو عواملو څخه هغه عمده یو دی.

"د زیر بنا بدلون (په ځیو سیمو کې، فیوډالي طرز تولید د لومړني کمون سیسټم د پاتې شونو ځای نیسي) او په روبنایي موسسو او افکارو کې تحول، له مرکزي آسیا څخه د ګورګاني فاتحانو په راتګ سره د مختلفو کولتورونو ترمنځ تکر او پخلا کېدنه، د حاکمې طبقې اداري او سیاسي تګلاره، د عرفان او روحاني ریفورم په لباس کې د اجتماعي او اقتصادي تحول لپاره د خلکو قیامونه، د علومو په ساحه کې د تجدد او آزاد فکري لپاره د روښانفکرانو مبارزه او د

خرافاتو او انحرافاتو پر ضد د متشرعو عالمانو تبليغات او داسې نور."[1]

ـ د پښتنو په سيمو کې د پښتنو "پښتنې مرکزيت" او حاکميت هم موجود نه وو. اخوند دروېزه په دې باب ليکي، چې دوی پادشاهي د يو بل لپاره جايزه نه ګڼي. نومورې دا مساله د پښتنو د انفراديت پسندۍ او رتې ازادۍ غوښتنې د احساس نتيجه بولي. هغه ليکي:

" اين مردم افغان را از قديم رسم و آئين برآن بود که... در ميان يکديگر پادشاهی را بر خود جايز نداشتند چه ايشان را تکبر، خودبينی برآن داشته که چگونه در حضور يکی از اقربای خويش عجز فروتنی کشيم، خود نوکر و آن ديگر را پادشاه گوييم، بل مساوی يکديگر باشيم، رسم از آنست که افغانان را ملک گويند."[2]

کېدای شي دا دليل هم د هغه خاص فکري جوړښت او طرز فکر پيداوار وي او د مغلو د لاسبرۍ او د هغوی د دولت د قانوني کولو لپاره يو دليل هم وي.

نومورې بايزيد روښان او د هغه پيروان په دې هم محکوموي، چې ګواکې روښان او روښانيان د پادشاهۍ دعوه لري:

---

[1] محمد صديق روهي، ادبي څېړنې، ۱۸۸ مخ.

[2] اخوند درويزه، تذکرة الابرار والاشرار. (پېښور: ن،م، ۱۹۶۰)، ۸۳ مخ

"دغه لاپه يې په خوله کړه زه پادشاه د پښتنو يم
پښتنو سره به بنه کړم پښتانه راپسې ځي
زه به ماتې دروازې کړم د اګرې او د سيکرې"(۱)

ب: د بايزيد روښان لنډه پېژندنه:

۱ـ زوکړه:

بايزيد د قاضي عبدالله اورمړ زوی دی، چې پلار او نيکه يې د وزيرستان په کانې کرم(*) کې اوسېدل. په ۹۳۱هـ_۱۵۲۴م کال د پنجاب په جالندهر کې وزېږېد. د مور نوم يې بي بي آمنه يا ايمنه وه، چې د حاجي ابوبکر لور وه.

قاضي عبدالله د خپل وخت قاضي و. د تاريخ مرصع مولف ليکي:

"نقل دی له اخون درويزه(رح) نه، چې په مخزن کې يې کنبلي دي، چې عبدالله نومېده اورمړ وه. د کانې کورم په اورمړو کې، علم او صلاحيت يې ډېر و او له اولاده د

---

[1] اخوند درويزه، مخزن (پېښور، پښتو اکيډيمی، ۱۹۶۹) (کو) مخ.

* د کانې ګرام کلمه په بېلابېلو متونو کې په مختلفو ډولونو راغلې او کارول شوې ده. له هغې جملې لوی استاد عبدالحی حبيبي مرحوم په خپل اثر د پښتو ادبياتو په دوهم ټوک د کانې کوړم اصطلاح کارولې ده. (کانې کوړم د وزيرستان د بدر په وادۍ کې د غره لمنې ته يوځای دی، چې په پښتنو کې شهرت لري).
په ځينو نورو متونو کې د کانېکرام_کانيکرام او نورو ډولونو راغلي دي.

صالحانوو. ځوی يې پيدا شه نوم يې بايزيد کښېښود."[1]

همدارنګه د ډاکتر محمد شفيع په قول:

"د بايزيد د بيان مطابق دده د نسب سلسله په پنځه پېړۍ کې پير سراج الدين پورې او د هغه په واسطه په يوويشتمه پېړۍ کې د حضور کريم مشهور صحابي (ابو ايوب الانصاري رض) پورې رسي. دده مور ايمنه دده د پلار لرې ترله او د جالندهر د الحاج ابابکر لور وه. بايزيد په جالندهر کې په ۹۳۱هـ مطابق ۱۵۲۵م کې (يعني په هند کې د بابر د سلطنت د قيام نه يو کال اول) زېږېدلی و."[2]

استاد رشاد ليکي:

"... (قاضي عبدالله) په ارثي توګه د اسلامي تصوف له تاريخه سره آشنا و او د تبرک لپاره يې پر خپل زوی باندې د طيفوريه طريقې د مؤسس نامتو بزرګ بايزيد طيفور بسطامي (په ۲۶۱هـ ق مې) نوم کېښود."[3]

د حالنامې مولف ليکي، چې د عبدالله نيکه او د بي بي ايمنې (آمنه) نيکونه حقيقي وروڼه وو او د بي بي ايمنه پلار حاجي ابابکر و. وايي، چې اوه ځلي يې حج کړی او د حرمين

---

[1] افضل خان خټک، تاريخ مرصع، مقابله تصحيح او نوټونه له دوست محمد خان کامل مومند، (پېښور: يونيورسټي بک ايجنسي، ۱۹۷۴) ۲۳۷ مخ.

[2] محمد شفيع، "بايزيد انصاري"، پښتو، د مولانا عبدالقدوس ژباړه، ۴ ګڼه (پېښور: پښتو اکيډيمي، ۱۹۵۹)، ۲۰ مخ.

[3] د واصل روښاني څو شعرونه، د پوهاند عبدالشکور رشاد په مقدمه او تصحيح (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۵۳)، امخ.

شـريفين طـواف يـي کـړی و. او د ثـروت خاونـد ر اصـلي استوګنځی يـي په جالنـدهر کـي واقـع و، لـه منکوحـه يـي يـوه لـور او لـه وينـزي يـي دوه زامـن او يـوه لـور وه او د عبـدالله پـلار هـم غنـي او مالـدار و، سـوداګري يـي کولـه. نـوم يـي شـيخ محمـد و او د کوهسـتان د کـانيکرام پـه بنـار کـي يـي کـور درلود. يو وار هندوستان ته د تجارت لپاره تللی و.

د حالنـامي مولـف ددې يادونـه هـم کـوي، چـې بايزيـد لا د څلويښت ورځـو و، چـې عبـدالله غرونـو تـه د تللـو نيـت وکـړ، خـو کورنـۍ او د کورنـۍ غـړي يـې ورسـره پـه دې خـاطر لاړ نـه شـو، چې د هندوستان رسم و رواج يې زده کړی وو.

لـه دې ټکـو دا هـم جوتيـږي، چـې د بايزيـد کورنـۍ د خپـل وخـت عـادي او پـر ټيټـه پـوړۍ پـورې مربوطـه کورنـۍ نـه وه، بلکـې لـه يـوې خـوا د هنـدي فـرهنګ او هـم لـه خپـل بـومي پښتنـي فـرهنګ سـره اشـنا وه او لـه بلـې خـوا د خپـل وخـت "جهـان ديـده" کورنـۍ وه. (لـه) تجـارت سـره يـې هـم سـروکار درلـود او لـه دې څخـه دا هـم جوتيـږي، چـې نومـوړې کورنـۍ او د هغـې لـوی شخصـيت بايزيـد د خپـل وخـت يـو "ايليـت" او روښانفکره عنصر و.

حالنامـه پـه لومړيـو مخونـو کـې د بايزيـد د کوچنيـوالي، پېښـو او د مغلـو راتـګ تـه اشـاره کـوي. کلـه چـې عبـدالله کـور تـه لاړ، هلتـه يـې د مـور لـه درې لونـو او بايزيـد سـره د نفقـې او کسـوت خبـر اخيسـتلو څـو کالـه وروسـته هندوسـتان تـه د مغلـو

لښکر راغی. د پهرې پر ښار يې يرغل وکړ او د خداداد کور هم په پهره کې و. مال يې ورته لوټ کړ او شيخ خداداد له خپلې کورنۍ سره جالندهر ښار ته لاړ او له بايزيد سره کور ته لاړ او بې بې ايمنې، چې هرڅه درلودل د خداداد کورنۍ ته يې ورکړه. شيخ خداداد دري لورنې درلودې، يوه يې د بايزيد په نامه کړه. يو کال څخه زيات و کم مغولو هندوستان له افغانانو ونيو او افغانان د بهارپتنه ايالت ته ولاړل.

د حالنامې مؤلف زياتوي کله، چې مغول په هند حمله کوي او د پهره ښار ته ورځي، نو په افغانانو هيبت لويږي. وايي چې ځينو ښځې و ماشومان پرېښوول او وتښتېدل خو ځينې پوه شول، چې زمونږ ښځې او ماشومان به بنديان شي، نو ويې وژل. بايزيد د شيخ خداداد کورنۍ وساتله او زيات خلک له لوږې او تندې مړه شول او نور يې تر هت ولايت ته ولاړل. داسې سيمو ته ولاړل، چې آب و هوا يې نامساعده وه. ځينې ناجوړه شول او ځينې مړه شول. وروسته ټولو افغانانو اتفاق وکړ، چې له تندې مړه کېږو، نو ښه به دا وي، چې يو وار په ټول وس سره له مغولو سره جنګ وکړو او په ميدان کې مړه شو.

وروسته څوارلس زره جنګي ميړونه افغانان سره راجمع شول او اتلس زره زيات و کم د مغولو لښکر وو... د مغولو لښکر ماته ومونده او شپږ زره تنه يې ووژل شول. وروسته

بیا بهار د افغانانو لاس ته ورغی.

بابر ددغه جنګ په موقع وویل:

"افغانان ووژنئ او مال یې لوټ کړئ."([1]).

همدارنګه سید تقویم الحق کاکاخیل د همدغه پیښو په باب زیاتوی:

"بایزید د شپږو کالو و، چې د بابر پوځونو پښتانه تس نس کړل او د جالندهر پښتانه خپل اصلي وطن ته واپس راوتښتېدل. بایزید او د بایزید مور هم په دې اله ګوله کې کانې کرم ته راغلل..."([2])

مورې د خپل تېر اوږده بحث ماحصل او نتیجه په دې برخه کې هم راغونډولای شو، چې بایزید په غږولو سترګو سره مغول او مغولواله لیدلې او د هغې هیبت یې احساس کړی دی او وروسته یې که د مذهب په فورم کې سیاست هم کړی دی، د هغه سیاست د افغانانو او مغولي دولتونو د کشمکش سنتیز او برداشت و.

۲_ د بایزید د ژوندانه پراوونه:

لوی استاد اروابنیاد پوهاند عبدالحی حبیبي د بایزید د ژوندانه مراحل په دې ډول بنیي:

---

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، (کابل: علومو اکاډمی، ۱۳۶۴)، ۸ مخ_ (ګستتنر چاپ)

[2] اخون دروېزه، مخزن، مقدمه د سید تقویم الحق کاکاخیل (پیښور: پښتو کېډیمی، ۱۹۶۹، تر مخ.

"زېږېدنه: ۹۳۱ق ۱۵۲۴ م کال په جالندهر کې".

له خپل اکا شېخ خداداد او مور سره کاڼي کورم ته راتګ د ۱۹۳۷ ق_۱۵۳۰م) حدود د بایزید نکاح له بي بي شمسو سره (د تره لور). د ۹۵۵ق ۱۵۴۳م حدود په کاڼي کوړم کې د سیاحت او سلوک وخت له۹۵۵تر ۹۷۰ق_۱۵۴۳_۱۵۶۲م.

د پیر کامل درجې ته رسېدل او تبلیغ خپرول او د صراط التوحید تالیف (۹۷۸ق_۱۵۷۰م) د اشنغر جنګ او کابل ته تګ او له قاضي خان او مېرزا محمد حکیم سره خبرې کول، د ۹۷۹ق حدود (غالباً ۱۵۷۱م) د آغاز پور جنګ، ۹۷۹ق_۱۵۶۵حدود.

د تور راغه جنګ او د روښان وژنه. د ۹۸۰ق ۱۵۷۲م حدود.

دده خلف او زوی شېخ عمر او وروڼه یې مغولو مړه کړل. ۹۸۲ق_۱۵۷۴م". (۱)

په دې ډول له پورتنیو بېلابېلو نظریاتو څخه پوهېدای شو، چې بایزید روښان د یوه ټولنیز_سیاسي، فرهنګي، مذهبي او ملي شخصیت په توګه، چې ژوند او شخصیت (یې) له ټولنې سره په رابطه کې له کورنۍ سره په رابطه کې او د خپل ناسالم چاپېریال سیاسي او اقتصادي قوتونو،

---

[1] بایزید روښان، خیر البیان، (کابل: کابل پوهنتون، ۱۳۵۳)، ۱۰ مخ.

PDF Compressor Pro

روانـي اتموسـفير او نـورو زيـاتو عناصـرو سـره پـه رابطـه کـې بيلابيـل ابعـاد لـري. دغـه ابعـاد پـه يـوه نقطـه کـې نـه شـو څېړلای، بلکـې د هغـه د ژوندانـه ماضـي د هغـه د سرنوشـت تفکر او مستقبل بستره وه.

پـه عمـده ډول د بايزيـد روښـان د ژوندانـه مراحـل، چـې د استاد حبيبـي د نظـر لـه مخـې يـې گـورو، پـه درې برخـو څېړلی او مطالعه کولای شو:

لومړی مرحله:

د بايزيـد روښـان لـه زوکـړې څخـه د سـياحت او تجـارتي فعاليتونو تر پايه پورې.

دوهمه مرحله:

د سـلوک اختيـارول، چلـه او د پيـر کامـل درجـې تـه رسـېدل، تبليغ کول او پر ځان باندې د مريدانو راټولول.

درېيمه مرحله:

له آغاز پور نه نيولې تر شهادت پورې.

اول:

د پيـر روښـان د ژوندانـه پـه دې پـړاو کـې، چـې د هغـه لـه زوکـړې پيلېـږي او بيـا د هغـه د مسـافرتونو او تجـارتي کـاروانونو او يـا د سـير و سـياحت او سـلوک تـر وختـه دوام

کوي، ډېرې عمده او اساسي پېښې وينې.

د مغلو راتګ هند ته، د هغه کورنی چاپېيال، د هغه له مور سره د هغه د پلار ناوړه سلوک، د هغه زده کړه او تعليمات، د پلار قاضي عبدالله او يعقوب سره مخالفتونه او په تجارت پسې سفرونه. دا پراو د بايزيد بلوغ ته د رسېدو دوران دی. د ټولنيزې اړيکو هنې له مخې د هغه شخصيت اساسي عناصر او بعدونه په همدغه پراو کې ځای نيسي او وروسته د بيلابيل ډوله عکس العملونو په توګه رابرسېره کېږي.

دوهم:

د بايزيد روښان د ژوندانه هغه پراو دی، چې نومورې پکې په خفي ذکر مشغولېږي، عبادت او رياضت کوي او د توحيد لوړ مقام ته درسېدو په خاطر چله باسي. د خوبونو د ليدلو پراو، په دغه مرحله کې ځينې الهامي اوازونه اوري:

"ای د ادم زويه وګوره، ماته چې زه له تا سره يم او ته له ما سره، يعنې زه په تا کې يم او ته په ما کې او زه په هرڅه کې په خپل ذات سره ژوند ويونم او هرڅه، چې وو او دي او وي به، د خپل موجود له وجوده يې وينم."[1]

له يوولسو کالو وروسته، چې بايزيد د وصلت مقام ته رسېږي او حق تعالی ورته کشف کېږي، يو غيبي آواز ورته

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، ۴۵ مه.

کېږي، چې اسم اعظم ووايه، چې د توحيد مقام دې ثابت شي، چې د معرفت قربت او د وصلت (په) مقام کې توحيد ثابت نه دی، نو وروسته له څه وخته له هرڅه چې اواز اورېدل کېده، له هغه آوازه يې اسم اعظم اورېده.(۱)

د روښان د ژوندانه دغه پړاو د تفکراتو او تاملاتو پړاو دی. نومورې د ژوندانه په دغه پړاو کې فکر کوي، ذکر کوي، د سکر بېلابېل حالتونه وينې او هغه د تېر ژوندانه سير و سفر او د فرهنګي اغېزو تول علايم په مختلفو اشکالو د صوفي په وجود او تفکر کې بشپړتيا ته رسېږي او پوخوالی مومي.

فرهنګي او عرفاني آثار لکه خيرالبيان، مقصود المومنين، فخر الطالبين، حالنامه او نور ليکي. مريدان پر ځان راټولوي او د خپلو سرفروشو مريدانو يو لوی لښکر جوړوي. د هغه د تصوفي او عرفاني نفوذ ساحه پراختيا مومي. له محلي حکومتونو او متنفذو روحانيونو سره د خپل نفوذ د له منځه تللو وېره او ترهه پيدا کېږي او د متضادو قطبونو د منځ ته راتلو سبب کېږي. په فکري لحاظ ټولنه انقطاب پيدا کوي. څرګنده فکري دوګانګي د عرفان او شريعت په جامه کې منځ ته راځي او په نتيجه کې يې لومړنی مغولي ضد پاڅون رامنځ ته کېږي، چې د دغه قيام ځای د آغاز پور په نامه يادېږي.

---

[1] همدغه اثر، ۵۳ مخ.

PDF Compressor Pro

درپيم:

لـه دې هـم جوتېـږي، چـې ددغـه جگـړې پيـلِ روښـان تـه خـاص ارزښـت درلـود، چـې د جـنگ د پيـل پـر ځـای هـم د آغـازپور نـوم وړي او لـه هغـه وروسـته د نومـوړي او د هغـه د اخلاقـو لـه خـواد ظـالمو مغلـي حاميـانو او د هغـو د پلويـانو پـر ضـد ناپايـه او اوږده جگـړه پيلېـږي او پېـړۍ وروسـته هـم خپـل اثرات پرېږدي.

پـه لنـډ ډول: هغـه څـه، چـې ددغـه اثـر د ليکـونکي لپـاره پـه دې څېړنـه کـې پـه زړه پـورې دي، د هغـه د تفکـر سـير و سـلوک او د هغـه د نـړۍ ليـد د تکـوين پـراو دی، چـې د هغـه د ژوندانـه د لومـړني پـراو د اغېـزو پـر بسـتر عمـل کـوي. هغـه ورتـه د يـوې تـولنيزې او روانـي زميـنې حيثيـت لـري او نومـوړی پگـې د يـوه صـوفي، د يـوه هـادي، د يـوه روښـان او د يـوه "موحـد شخصـيت" پـه توگـه خپلـو ادعـاوو تـه رسـېږي او خپـل اثـرات پـه خپله تولنه کې پرېږدي.

حکمت بر سه گونه است:

_ یکی گفتار،

_ دوم کردار،

_ سوم دیدار

_ حکمت گفتار، عالمان راست

_ حکمت کردار، عابدان راست

_ و حکمت دیدار، عارفان راست

خط سوم: ناصرالدین صاحب الزمانی،

چاپ ۱۳۵۱ ص ۱۴۰

بایزید روښان د خپلو فلسفي او عرفاني افکارو په ابعادو کې

الف: د حالنامې پېژندنه:

حالنامه په ظاهر کې د بایزید روښان د یوه مرید، چې علي محمد مخلص نومېده او د ابابکر قندهاري کاسي زوی و، تالیف دی چې په روانه او ساده فارسي ژبه یې کښلی دی. دغه اثر د روښانیانو د غورځنګ د پېر پټ او ناروښانه ګوټونه روښانه کوي او هم په مفصله توګه د روښان او د هغه د اولادونو او مریدانو مبارزې او کوښښونه تشریح کوي.

خو ځینې څېړونکي په دې معتقد دي، چې حالنامه په

لومړي سر کې د بايزيد له خوا کښل شوې وه او وروسته بيا مخلص له سره وکښله، زياتونې يې پرې وکړې او بشپړه يې کړه.

د دبستان مذاهب مولف ليکي:

"و حالنامه کتابی دارد که در آنجا احوال خود را باز گذارده."[1] منظور يې بايزيد روښان دی، نه علي محمد مخلص.

او مخلص هم په خپله ددې اثر په باب ليکي:" فقير حقير علي محمد ابن ابابکر قندهاری مريد و خادم خاندان بايزيد انصاری قدس الله سره العزيز ميگويد، که بعضی از محبان و مخلصان که رعايت و مراعات خاطر ايشان از جملهء لوازمات و واجبات دانسته ازين فقير التماس داشتند، که حالنامه پير دستگير که از تدابير دوران و سامع ناسخان تغيير و تبديل به عباراتش راه يافته و صحتش به سقامت بدل گشته و نيز سوانح و حقايق فرزندان و احوال نبيره گان پير دستگير قدس سره و ديگر از احوالات که در منصهء ظهور جلوه گرامده... بسط تحرير و در نظم تقرير در آورده شد."[2]

خو کله چې حالنامه او د هغې متن لولو، له هغې څخه هم د بشپړوونکي (مخلص) دا خبره جوتيږي، چې نومورې

---

[1] ملا محسن فاني، دبستان مذاهب (کانپور: مطبعه نولکشور، ۱۳۲۱ه) ۳۰۹ مخ

[2] علي محمد مخلص، حالنامه، ۱ مخ.

اثـر د بايزيـد روښـان لـه خـوا پيـل شـوی او وروسـته د علـي محمـد مخلـص لـه خـوا لـه سـره ليکـل شـوی، بشـپړ شـوی او بيـا پکـي د بايزيـد روښـان د اولادونـو، مبـارزو او جدوجهـد بيانونه راغلي دي.

د مـتن لـه مخـي هـم د حالنـامې د لومـړۍ او وروسـتۍ برخې متـون او عقايـد، د افکـارو د بيـان او د پېښـو او حوادثـو د بيـان لـه مخـې سـره تـوپير لـري. پـه دې مانـا، چـې د حالنـامې لومـړۍ بـرخې د بايزيـد روښـان مـذهبي، عرفـاني او عقيـدتي اسـتدلالونه دي او پـه ځينـو برخـو کـې هـم مبـاحثې او ديالوګونـه دي، چـې پـه قرآنـي آيـاتو او "متشـابهو" احـاديثو لـه مخـې راغلـي او بيـان شـوي دي، خـو لـه دغـه لـړې بـرخې وروسـته، چـې تقريبـاً پـه غالـب ګومـان لـه مغلـو سـره د مخالفـت تـر بيـان پـورې رسـېږي، د بايزيـد لـه يـادښتونو نقـل شـوي دي او وروسـتۍ برخـه يـې مخلـص بشـپړه کـړې او لـيکلې ده. لـوی اسـتاد حبيبـي هـم دې ټکـي تـه د پښتـو ادبيـاتو تـاريخ پـه دوهـم ټوک کې اشاره کوي:

"داسـې ښکـاري، چـې د حالنـامې ابتـدايي بـرخې روښـان لـيکلې او بيـا نـو دغـه علـي محمـد مخلـص دده د اولادو احـوال هـم پکـې زيـات کـړی دی. وايـي چـې د علـي محمـد پـلار ابـابکر پـه کوچنيوالـه کـې د جـلال الـدين بـن بايزيـد پـه خـدمت کـې داخـل شـوی او بيـا نـو د احـداد پـه لښکـرو کـې و، څـو چـې پـه آخـر کـې د بايزيـد لـه لمسـيانو سـره هندوسـتان تـه ولاړ او لـه

رشيد خان سره، چې د روښان له کورنۍ څخه و، په دکن کې مستخدم او د شمس آباد په رشيدآباد کې ناندير ته نژدې اوسېده."([1])

دمخه ورته اشاره وشوه، چې حالنامه په روانه فارسي کښل شوې ده. په لومړيو برخو کې لکه، چې څرګندېږي د بايزيد استدلالونه او مباحثې دي، خو ځای ځای پکې د استدلال د قوت لپاره فارسي ابيات، مثنوي، قطعې او ځيني غزلونه راغلي دي، چې ټول يې تصوفي او عرفاني ارخونه لري. په دغو شعرونو کې د شيخ سعدي، مولينا او عطار نيشاپوري، بايزيد روښان او په خپله د مخلص او نورو شاعرانو شعرونه هم شته.

له دې ټکو څخه جوتېږي، چې هم بايزيد روښان د فارسي ادبياتو او عرفاني فرهنګ سره ښه آشنا و او هم علي محمد مخلص د وخت متبحر عالم او شاعر وو، چې د ځينو محققينو په قول د ديوان څښتن هم دی. د فارسي ژبې او فرهنګ او هم له عربي ژبي او ادب سره ښه اشنا او بلد و.

خو هغه څه، چې په حالنامه کې مورِ او زمورِ بحث او موضوع ته په زړه پورې دي، هغه د بايزيد افکار او فکري طرز دی. په دې برخه کې بايد ووايو، چې د حالنامې لومړۍ برخه هم له فکري پلوه کوم منظم او سيستماتيک اثر نه دی،

---

[1] عبدالحی حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ، ۲ ټوک، (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۲)، ۲۹۸مخ.

چې په هغه کې د بايزيد د افکارو ژوره کره کتنه وکړو. دغه اثر د بايزيد روښان د نورو آثارو په پرتله لکه خيرالبيان، مقصود المؤمنين، صراط التوحيد او نورو په څېر د عقيدې او ايمان منظم بيان نه دی، بلکې د هغه پر عقايدو سربېره د هغه د ژوند او د هغه د اولادونو د ژوندانه او مبارزو بيان هم دی.

د دبستان مذاهب ليکونکی د بايزيد روښان د نورو آثارو په باب لنډه يادونه کوي. وايي:

"او را تصانيف بسيار است، به عربی و پارسی و هندی و افغانی _مقصود المومنين به عربی است_ گويند حق با او بی ميانجی جبويل سخن کردی و کتابی دارد، خيرالبيان نام و آن به چهار زبان است. اول به عربی، دوم به فارسی، سوم به هندی و چهارم به پشتو يعنې لغت افغانی. همان يک مطلب را به چهار زبان گفته و آن خطابيست از حق تعالی بر حضرت بايزيد و آنرا صحيفهء الهی دانند."[1]

له بلې خوا د بايزيد روښان خپل لاس کښلې آثار د هغه د مريدانو لپاره مقدس او سپېڅلي آثار وو. د هغه مريدانو به په بنه اواز په جمع کې لوستل او د تبرک او تقدس په خاطر يې له ځان سره گرځول.

د مثال په ډول شېخ عمر په يوه جنگ کې خاص ددې

[1] ملا محسن فانی، دبستان مذاهب، ۳۰۸ مخ.

لپاره بېرته د جنګ ځای ته ورستون شو، چې د خیرالبیان یوه نسخه تري په یوه ځای کې پاتې شوې وه او د هغې د راوړلو لپاره د جنګ په ځای کې ولاړ و.

خو حالنامه د یادو شویو آثارو په څېړنه، بلکې سره له دې چې د بایزید او د هغه د مریدانو او پیروانو او اخلاقو سرګذشت دی، د اثر په لومړۍ برخه کې داسې څه شته، چې د بایزید روښان د عملي ژوندانه او د هغه د سیر و سلوک او فکري طرز په باب تري زیات څه پوهېدلای شو.

په دې اثر کې له بېلابېلو پېښو او واقعاتو سره د بایزید عکس العمل کښل شوی دی. ځینې شیان او ځینې حقایق، چې د بایزید په خپلو آثارو کې نشته، په حالنامه کې یې یادونه شوې ده. د محمد عبدالقدوس خبره به یو څه حقیقت ته نږدې هم وي، چې وایي:

"د کتاب د مطالعې د پسه د بایزید په باب کې د هر قسم بدګمانۍ، کول روا دي. زما په خیال "کونټ نویر"، چې په خپل کتاب "قیصر اکبر" کې څه خوشې خبرې لیکلي دي، هغه د حالنامې برکت دی".

سره له دې، چې زمونږ د بحث او څېړنې اساسي اثر یوازې حالنامه نه، بلکې په مجموع کې د بایزید د افکارو او عقایدو جاج دی. البته حالنامه زمونږ د څېړنې عمده اثر دی. دغه راز حالنامه م ونږ ته یوازې ټولې ښې خبرې ټولې منظمې مفکورې نه راڅرګندوي، بلکې بېلابېل ارخونه او

بعدونه راجوتوي. د مثال په ډول د بايزيد روښان خوبونه، چې کښدای شي د نوي اروا پوهنې د څېړنې او مطالعې په رڼا کې تفسير او تعبير شي، يا د هغه د پيروانو جنګونه او قساوتونه، چې د موضوعاتو په نورو ارخونو رڼا اچوي، څرګند شي.

په هر حال په حالنامه کې د بايزيد د افکارو تت او ناروښانه ارخونه ليدلای شو. هڅه به وکړو دغه ډول ناڅرګند نکات او خواوې رابرسېره او روښانه کړو.

ب: په حالنامه کې د بايزيد روښان د عقايدو عام جاج:

تراوسه پورې د بايزيد روښان د افکارو او عقايدو په باب ډېر نظريات څرګند شوي دي. ځينو هغه د يوه سياسي مبارز او ځينو د يوه متصوف او عارف، ځينو د پښتنو د استقلال او آزادۍ د لارې سالار، ځينو په همدې لړ کې د مغلي حاکميت او استبداد سرسخت مخالف او د هغه مخالفينو هم د "کافر"، "ملحد"، "اباحتي"، "رافضي"، "باطني" د "شريعت او سنت دښمن" او دا ډول ډېر هغه څه د بايزيد روښان په ادرس ويل شوي دي، چې په مجموع کې له روښان پېژندنې سره څه ناڅه مرسته کوي.

خو حالنامه کې له يوې خوا د يوه فکري سيستم څرګندوی نه وي، نو د بايزيد روښان د ګډوډ او څپانده ژوندانه او د هغه د مريدانو د مبارزو او سيرو سلوک هنداره

ده. په دې ډول کله، چې په حالنامه کې د بایزید روښان د عقایدو او افکارو عمومي انداه لګوو، نو د بایزید روښان د ژوندانه له بېلابېلو اړخونو سره مخامخېږو:

_ بایزید روښان د فکري تناقض په حالت کې.

_ بایزید د یوه صوفي او عارف په توګه، چې د سنت او عنعنې ټول چوکاټونه ماتوي او د یوه عصیان ګر او متمرد په توګه پېژندل کېږي.

_ بایزید د یوه مبارز او د ظلم او استبداد پرخلاف د یوه مجاهد په توګه.

_ او کله هم بایزید روښان د یوه روحاني متنفذ مشر په توګه، چې پر زړونو حکومت کوي او پر امیرانو سلطنت.

په لومړني قدم کې په حالنامه کې مور د بایزید له داسې شخصیت سره مخامخ یو، چې ځوان، حساس، بااستعداد او د ملکونو سیر و سفر یې کړی دی. هند او سمرقند یې لیدلي دي، د وخت له مروجه علومو سره مخامخ دی. په داسې چاپېریال کې راپورته شوی، چې په هغه کې پیري او مریدي رواج ده. هر څوک او هر انسان د یوه ایډیال په لټه کې دی. د کامل پیر له لوري عالي روحاني مقام ته ځان رسول، د هر انسان ایډیال دی. پیر روښان نه خو د یوې ببوزلې او نه خو د ډېرې بډایې او حاکمې کورنۍ شخصیت دی، بلکې په داسې منځنۍ حالت کې موقعیت لري، چې هم باید ښه ژوند وکړي او هم باید نوم او ننښان ولري. هغه په

انتخاب کې د مال او ریاضت په برخه کې د مال او سوداګرۍ چاره پربردي او د ریاضت لاره غوره کوي. د هغه لومړنۍ عداوت د مال او متاع پر مساله د خپل پلار او ورور یعني شیخ عبدالله او یعقوب سره پیدا کېږي او له دې فکري او رواني ثنویت څخه هم ځان ژغوري:

"وویل شیطان یا بایزیده! وګوره، چې عبدالله ستا په حق کې څه وکړه؟ لومړی یې ستا مور ته طلاق ورکړه او په کوچنیوالي کې یې له موره جلا کړې. د فاطمې له لاس لاندې وې او دویم څرنګه، چې قرآن دې پای ته ورساوه، د شاګردانو مېلمستیا او د استادانو هدایه یې ورنکړه... درېیم د خداداد لور ستا په نوم وه، هغه یې بل چېرې ورکړه. څلورم دا چې ته یې تجارت ته وګومارلې، چې ستا د کړاو له لارې زیات مال کور ته راغی او د وېش په وخت کې یې زیات مال له تانه غصب کړ".(1)

خو بایزید په همدغه ډول دوه ګوني فکري حالت کې، چې لا د لارې د غوره کولو په فکر دی، په یوه غره کې له یعقوب سره یوځای کېږي، یعقوب ویده کېږي او د هغه په وجود کې د بدۍ وسوسه، یعني شیطان هغه دې ته رابولي، چې د یعقوب د وژلو پرېکړه وکړي او هغه له ګرېنګ نه وغورځوي، خو د هغه په ځان او روان کې د نیکۍ وسوسه

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، ۲۷ مخ.

پیاوړي ده. هغه له دې لارې ژغوري او ورته وايي:"دا کار د کولو نه دی. که څرګنده شي، يو خو بدنامي ده، په دنيا کې د خدای بنده ګان به ووايي، چې د شيخ عبدالله زوی د ملا ابراهيم، سراج الدين او چراغ الدين له پشته وو د دنيا د مال په خاطر يې خپل ورور په ناحقه ووژه."(1)

د سارتر په قول د انسان په هستی کې يو د علوهيله ده. انسان غواړي په نهايت کې له ټولو لوړ وي، که دا نظر په کلي ډول د منلو نه وي، نو د ځينو غټر عادي انسانانو په باب، چې خاص فکري او رواني امتيازات لري، بايد ووايو.

کله چې له بايزيد روښان سره د وخت د يوه روښانفکر او مستعد انسان په توګه مخامخ شو، هغه په لومړي قدم کې داسې څوک وينو، چې د لوړو ايډيالونو د لرلو پر خاطر په ټولو کوچنيو او ټيټو بارکو پېښې ږدي او تري پورته خبرې. کېدای شي هغه ته دغه ډول تېرېدنو او ګذشتونو دا وس ورکړی وی، چې رب النوع ته د ځان رسولو په خاطر په کې د "ځاني" رب النوع فکر پيدا شوی وی، چې په وروسته ژوند کې په دې ټکو ښه بحث کېدای شي.

بايزيد په خپل فکري سفر کې له واحد ذات سره د وصال په نيت سفر پيلوي. هلته کلمه په جهر وايي او بيا ورته الهام کېږي، چې ورو او په زړه کې يې ووايي او بيا ورته غيبي

---

[1] هماغه اثر، ۲۸ مخ.

آواز کېږي، چې په خفّي ذکر مشغول شه، نو له دري څلورو کلونو وروسته پر کلمه باندې د هغه ایمان او باور پخېږي. د قرآن او احادیثو په رنا کې هغه غېر معدوم وینې او حق موجود:

"ای د آدم زویه! وګوره ماته، چې زه له تا سره یم او ته له ما سره. یعنې زه په تا کې یم او ته په ما کې او زه په هرڅه کې په خپل ذات سره ژوند وینم او هرڅه ...او وي به د خپل موجود له وجوده یې وینم".(1)

بایزید د سیر و سلوک په پراوونو کې الهامي آوازونه اوري، چې ذات باریتعالی څرنګه پېژني!

نومورې ځواب وایي:

"په هر طرف په هرڅه کې، چې ګورم د خپلې هستۍ د زړه په سترګو تا وینم او له څه، چې اورم ستا آواز اورم او هرڅه چې شته، په دواړو نړیو کې ستا له وجوده یې ګنم".(2)

له یوولسو کالو وروسته چې بایزید روښان د وحدت مقام ته رسېږي او حق تعالی ورته کشف کېږي، له حضرت عزت نه ورته آواز کېږي، چې: اسم اعظم ووایه، چې د توحید مقام دې ثابت شي، ځکه چې د معرفت، قربت او وصلت په مقام کې توحید ثابت نه و، نو له هغه وروسته چې یې له هرڅه اواز اورېده، له هغه نه یې اسم اعظم اورېده.

---

[1] هماغه اثر، ۴۵ مخ

[2] هماغه اثر، ۵۰ مخ.

د اسم اعظم له اسرارو تر خبرېدو وروسته بايزيد ته الهام کېږي، چې خلک دعوت کړي او هغو ته لارښوونه وکړي او مريدان پرځان راټول کړي.

"بعد از چند روز دو کس از یاران و محبان پیر دستگیر آواز شنیدند که ای محبان! بایزید را بعد از این بنام مخوانید میان روشان و یا پیر و روشان بگوئید".(۱)

بايزيد خپله دنده بولي، چې د خداى مخلوق څلورو اساسي ټکو ته متوجه کړي:

_ خلک د اسلام چارو ته سيخ کړي.

_ له غفلته يې منع کړي او د حق تعالى په ذکر مشغول شي.

_ له جهالته يې وژغوري او د توحيد علم ته يې راوبولي.

_ له ناوړه خصلته او بده خويه يې منع کړي او نېکه لاره ورته وښيي.

په دې ډول بايزيد روښان د يوه عارف او صوفي په توګه خلک دعوتوي. وګړيو ته لارښوونه کوي، هغوى له شرک ژغوري او د توحيد لارې ته يې سموي. هغه د خپل سير و سلوک اته مرحلې ټاکي (چې وروسته به پرې خبرې وشي) او خپلو پيروانو ته د هغو د عملي کولو هدايت او لارښوونه کوي.

خو بايزيد يو مبارز او مجاهد هم و، هغه وايي:

---

[1] هماغه اثر، ۱۱۵ مخ

"یعني دشمني نادار یا توانگر، و دشمنی مرد نادان با مرد دانا، و دشمن مرد بد کار با مرد نیکو کار، طبیعی است که هرگز تغییر نگردد."(۱)

نومورۍ خپل پیروان بنې لاري، عدالت او له ظلم سره نه پخلا کېدنې ته رابولي او د خواوشا سیمو امیرانو، حاکمانو ته هم خپل خلیفه ګان او داعیان لېږي.

"و به طرف قندهار خلیفه مودود فرستاد. چون در ملک قندهار رسید در قبایل کاسی تشریف برد."(۲)

حالنامه وایي، چې په قندهار کې د کاسي قبایل ټول د پیر روښان مریدان شول او پر هغو سربېره شینوارو، مومندو او صافیو، د هغه پیري ومنله او د بړیځو له قبیلې ته یې علي د خلیفه په توګه وټاکه. په قندهار کې د پیر روښان د خلیفه له ورتلو وروسته مغلي حاکم ته چا راپور ورکړ، چې یو څوک روښاني شوی دی او خپله وربره یې د جلال الدین زوی ته ورکړې ده. تر هغه وخته لا نجلۍ د تره کره وه، چې هغه جابر حاکم نومورۍ غواړي، بندي کوي یې او پرۍ ورته په غاړه کې اچوي او شکنجه کوي یې، چې هغه نجلۍ ماته راکړه.(۳)

دا یوه واقعه مو ددې لپاره ذکر کړه، چې له یوې خوا د

---

[1] هماغه اثر، ۱۰۷ اثر.

[2] هماغه اثر، ۳۶۱ مخ

[3] هماغه اثر، ۳۶۵ مخ.

روښاني غورځنګ د سازمان د پراخېدو مانا لري او له بلې خوا د مغلي حکمرانانو مخالفت ورسره جوتېږي او له بلې خوا پير روښان اکبر مغلي پاچا ته هم خليفه دولت لېږي. "... خليفه دولت خان را با کتاب (صراط التوحيد) پيش اکبر پادشاه فرستاد. چون خليفه پيش اکبر پادشاه رفت و کتاب (صراط التوحيد) پيش نمود، چون اکبر پادشاه صراط التوحيد را ديد، فرمود که من شيخ را به پيری قبول کردم و هر خدمت که بفرمايد، به جا آرم. بعد چيزی هديه برای پير دستگير فرستاد، خليفه را خلعت بخشيد."([1])

دغه راز يو خليفه بدخشان ته استوي. "بعد خليفه يوسف را با رساله‌ء فخرالطالبين به بدخشان پيش ميرزا سليمان فرستاد... بعد ميرزا سليمان کتابت، و اسب و يک پوستين به خدمت پير دستگير فرستاد و در آن کتاب مرقوم بود که مرا يکی از طالبان و مريدان خود بدانيد".([2])

دغه راز نور خلفاء هندوستان، بلخ او بخارا ته هم استوي. د حالنامې په قول: "بعد خليفه ارزاني را بسوی هندوستان مرخص نمود تا خلق الله از وی معرفت ذات و علم توحيد حاصل نمايد و بعضی خلفا را بسوی بلخ و بخارا فرستادند. تا مردم را دعوت نمايند و بسوی علوم توحيد راغب سازند و الحال نيز در آن سرزمين خلق و

---

[1] هماغه اثر، ۳۷۵ مخ.

[2] هماغه اثر، ۳۷۵ مخ.

مریدان پیر دستگیر قدس سره هستند".([1])

د پیر روښان د خلفاو له لیږلو او د پیر او هادي په توګه د هغه له منلو څخه جوتیږي، چې ورو ورو د هغه د معنوي نفوذ او روحاني سازمان ساحه پراخیږي. د هغه د نفوذ د ساحې په پراختیا سره زیات متنفذین او امیران د هغه دعوت نامې قبلوي. د وخت حکومت او محلي حکومتونه د ځان لپاره ساحه تنګه ګوري. د حالنامې مولف په ډاګه کوي، چې مغلي کوچني حاکمان له بایزید روښان سره له دې لامله مخالفت کوي، چې هغه "د پښتنو پیر" دی او د میرزا حکیم وزیران دا خبره په څرګنده وایي، چې:"که ما پس از این به حضرت عرض کرده بودیم، که شیخ (منظور تې روښان دی) کی روا خواهد داشت، که ما مردم افغان را در قید آریم و اسیر سازیم".([2])

ددغه تضاد له راپیدا کیدو څخه یعني د روښانیت او مغلوالې تضاد د شخړو د پیلامې سبب کیږي. همدغه پراو دی، چې بایزید پکې د یو قلندر او درویش په توګه نه، لکه څنګه چې وایي:"الحاا، ای عزیزان از بهرمن دلگیر نشوید و دل را پریشان مدارید، من مرد قلندر ام در این شهر چیزی نمی ماند و هر جا که بروم ملک خدای تعالی است..."([3])

---

[1] هماغه اثر، ۳۷۵ مخ

[2] هماغه اثر، ۳۸۱ مخ

[3] هماغه اثر، ۲۳۵ مخ

بلکي د يوه داسي شخصيت په توګه، چې د توحيد تر توغ لاندې او په سيوري کې حرکت کوي.

نېکي او بدي سره دښمنه بولي، ظلم او مظلوميت، جهل او پوهه سره نه پخلا کېدونکې بولي او په همدې جدوجهد کې بندي کېږي او کابل ته بيول کېږي. مېرزا حکيم دهغه استدلال اوري، له قاضي خان سره يې بحث ته کېنوي او تر مباحثو وروسته سرلوړی راوځي. مېرزا حکيم د هغه مريد کېږي، حالنامه وايي:

"چون وزيران و اميران ميرزا حکيم از ميرزا چنين شنيدند جمع شده عرض نمودند که رعيت و محکوم ما مردم افغان است و همیشه با ايشان جنگ و جدال داريم و فرزندان ايشان را به بند می آريم و از ايشان خراج ميستانيم چون ميرزا مريد شيخ شد، کی روا دارد که از افغانان خراج ستانيم و يا فرزندان ايشان در قيد آريم الحال بودن ما درين سرزمين ممکن نيست، ميرزا مايان را رخصت نمايد."([1])

ميرزا حکيم د افغانانو او حاکمانو د جنګ پيل په خپلو سترګو ليده، ناچاره شو او شيخ (بايزيد) ته يې وويل، ته په دغه قوم کې څه کوې، دا داسي طايفه ده، چې اودس او غسل او جنابت نه پېژني، نو ستا قدر به څه وپېژني، له تا به څه ګټه واخلي، خو کله چې بايزيد روښان د ميرزا حکيم

[1] هماغه اثر، ۳۴۱ مخ

خبرې واورېدې، ويې ويل: "زه خدای تعالی په همدې قوم کې پيدا کړی يم او پر داسې عالم باندې، چې د هغې وارث دی، ورته لازمه ده او پرې امر دی، چې بې لارو ته لاره وښيې او جاهل عالم کړي."(1)

حالنامه ليکي:

"خدای تعالی دوه خزانې له افغانانو پټې ساتلې وې. يوه خزانه يې د توحيد علم دی، چې له افغانانو پټ و او خدای تعالی د پيرو روښانو له برکته هغو ته څرګنده کړه او بله خزانه هم د موسيقۍ خزانه ده، چې د مير فضل الله ولي د خليفه حاجي محمد له (2) برکته افغانانو ته کشف شوه، ځکه افغانانو به په غنجکين (غيچکي) ستار اچاوه او واهه به يې او په رباب يې پنځه تاره په سرمده (سرنده) يې دوه تاره اچول او دوه تار يې ورته ويل، خو د حاجي محمد د زده کړې له برکته په سازونو کې يې زيات تارونه واچول او نوې نوې نغمې يې جوړې کړې، خو خو اکثراً دغه نغمې د نڅا لپاره او غير ملايمې نغمې وې، خو څرنګه چې دغه سازنده ګان د روښانو مريدان شول او د روښانو د خبرو او صحبت له برکته يې سرودونه او نرمې نغمې جوړې کړې او شپږ مقامه يې جوړ کړل، چې يو يې ناسري، دوهم يې پنځه پردې، دريم يې څلور پردې، څلورم يې دري پردې، پنځم يې د جنګ

---

[1] همدغه ځای

[2] همدغه اثر، ۳۵۹ مخ.

پـرده، چـې د جـنګ پـه وخـت کـې بـه وهـل کېـده، شـپږم د شهادت مقام.

او پـه دغـو مقـامونو کـې د پر بندونـه او نغمـې وهـل کېږي او بـل دا چـې پـه افغانـانو کـې لـه دوه درې بیتـو څخـه زیـات شـعرونه، نـه وو. "پیـر دسـتګیر قـدس سـره بـه زبـان افغـانی قصـیده هـا و غزلهـا و ربـاعی هـا و قطعـه هـا و مثنـوی هـا سـاختند و از طفیـل پیـر دسـتګیر قـدس سـره فرزنـدان و مریـدانش دیوانهـا گفتنـد و دُرهـای حقـایق و معـانی در آن سـفتند و بعضـی افغانـان کـه مریـد ایـن خانـدان نبودنـد، چـون شـعر و کـلام ایشـان دیدنـد، تقلیـد و تتبـع ایشـان کردنـد. امـا تقلیـد بـه تحقیـق کـی مانـد و بینایـان زنگـی ورو مـی را از دور شناسند."(1)

ج: د دبستان مذاهب په رڼا کې د بایزید روښان عقایدو جاج

دبسـتان مـذاهب، چـې ځیـنې یـې د مـلا محسـن فـاني اثـر بـولي او ځیـنې څېړونکي یـې د موبـد شـاه موبـد اثـر او د ځینـو څېړونکیـو پـه عقیـده، چـې وایـي ددې اثـر مؤلـف پـه بشـپړه توګـه څرګنـد نـه دی. پـه اسـلامي فـرهنګ کـې د عقایـدو او فکري جریانونو د مطالعې په برخه کې معتبر اثر ګڼل کېږي.

د ځینـو څېړونکیـو پـه عقیـده، چـې وایـي د دبسـتان مـذاهب مولـف هـم لـه اسـماعیلیه فـرقې پـورې اړه درلـوده، خـو پـه هـر

---

[1] همدغه اثر، ۳۶ مخ.

صورت، هغه څه چې مورِ ته په زړه پورې دي، دا دي چې په نومورې اثر کې هم یو کوچنی فصل د روښانیانو په باب کښل شوی دی. ددغه اثر د مولف په قول، چې وایي:

"پدرم شاه بیگ خان رغون مخاطب به خان دوران میان بایزید را دیده بود."[1]

په دې ډول دبستان مذاهب په دغه کوچني فصل کې تر زیاته حده د بایزید روښان پر عقایدو او افکارو رڼا اچولې. د پورتنۍ وینا له مخې، چې یادونه مو وکړه او هم د اثر ددغه برخې له محتوی څخه جوتیږي، چې د اثر مولف نسبتاً په بې غرضانه ډول د بایزید روښان عقاید بیان کړي دي. له بلې خوا د مولف استناد هم تر حده په حالنامه باندې دی. نومورې لیکي:

"... و از خرد ی‌باز اورا میل به مبدا بود چنانکه پرسیدی که آسمان و زمین موجود است، اما خدای کجاست چون خواجه اسمعیل که از اقربای ایشان بود، در واقعه بیشتر شد بریاضت پرداخت و جمعی از ارادت او منفعت دیدند بایزید خواست مرید او شود عبدالله مانع شد..."[2]

دبستان مذاهب هم د حالنامې په څیر، خو لږ څه په اختصار سره د بایزید د عقایدو بیان کړی دی، خو په دې توپیر سره، چې د دبستان مذاهب د مؤلف خپله لید توګه هم

---

[1] دبستان المذاهب، ۳۰۹ مخ.

[2] همدغه اثر، ۳۰۴ مخ

برېښي. په دې مانا، چې وايي له ابتدا څخه د هغه میل او غوښتنه له "مبداء" سره وه. یعني هغه څه، چې په وروسته لږ څه فلسفي بحث کې پرې رنا اچولای شو. دبستان مذاهب زیاتوي:

"حکم شد به بایزید که بگو رایتک و عرفتک بک و حق با او گفت فضوح الله ینا هون من فضیح الاخره استعجلوا به الحسنه و لا تستعجلوا بالسیه.

خداوند با او سرود...

بایزید در مانداگر نماز میگذارم مشرک میشوم و اگر نمیگذارم کافر. پس فرمان رسید که نماز انبیا گذار پرسید که آن کدام است. حق تعالی فرمود صفت معبود بود پس ان صلواة اختیار نمود."([1])

دبستان مذاهب د بایزید د نبوت د مسالې یادونه هم په دې صراحت سره کوي:" حق تعالی اورا به نبوث برگزید و به پیغمبری دست گرفت".([2])

خو د دبستان مذاهب مؤلف ددغه خبرې یادونه د اخوند دروېزه او نورو مؤلفانو په څېر نه کوي، بلکې په داسې لهجه او صراحت یې وړاندې کوي، لکه پخپله چې هم په دې معتقد وي، خو حواله یې بیا هم حالنامه ده.

دبستان... هم د بایزید پر ضد د هغه د مخالفینو د

---

[1] ایضاء، ۳۰۵ مخ

[2] ایضاء، ۳۰۵ مخ

اعتراض یادونه کوي. وایي چې د هغه مخالفینو بایزید ته وویل، چې حق تعالی پر تا امر کړی دی ووایه، چې ماته جبراییل راځي او زه مهدي یم، خو خلکو ته کافر او بې لارې مه وایئ. دبستان مذاهب بیا هم دا خبره تکراروي، چې هغه خپل ځان نبي باله او خلک یې ریاضت او لمانځه ته دعوتول، خو لوری یې نه ښوده. زیاتوي:

"فرمود غسل با آب حاجت نیست چه همین که با درسید تن پاک میشود چه چار عنصر از مطهرات است و گفت هر که خدا را و خود را شناسد، آدمی نیست و اگر موذی است حکم گرگ و پلنگ و مار و کژدم دارد، پیغمبر عربی گفته اقتل الموذی قبل الایذا و اگر نیکو کار و نماز گذار است حکم گاوو گوسفند دارد کشتن آن جایز است، بنا برین مخالفان خود شناسی را کشتن فرمود چه اینها حیوانانند اولئک کالانعام بل هم اضل و گفت.

هر کس خود را نشناسد و خبر از زنده گی جاوید و حیات ابدی ندارد، مرده است و حال مرده که وارثان آن چنین مرده باشند، به زنده گان رسد، بنا برین نیز حکم بر قتل نادان کرد و اگر هندو را خودشناس یافتند، بر مسلمان ترجیح میدادی او با فرزندانش مدتها راه میزد، اموال از مسلمانان وغیره ستده، خمس اموال در بیت المال میداشت چون حاجت شدی بر اهل استحقاق قسمت کردی و او و فرزندانش همه از فسوق مجتنب و از زنا و از اعمال

ناشایسته و از بردن مال موحد ان و ستم بر یگانه نینان به کران بودند ..."[1]

دبستان... له هغه وروسته، چې د بایزید روښان د آثارو یادونه کوي، دا هم څرګندوي، چې :"ګویند حق با او بی میانجی جبرئیل سخن کردی."[2]

په دې ډول په دبستان مذاهب کې هم په ډیرو لنډو عباراتو سره د بایزید روښان د عقایدو اندازه لګول شوې ده. ددغه مطالبو د څېړنې په رنا کې د بایزید روښان د شخصیت په باب څو فرضیې مطرح دي:

_ بایزید روښان د نبي او هادي په توګه.

_ بایزید روښان د واجب الوجود د مدعی په توګه.

_ بایزید روښان د اسلامي متصوفینو او عارفانو په لړ کې د یوه عارف او متصوف په حیث.

مورخ د بایزید روښان د وخت د اصلي او هم د فلسفي پوهنو او عرفاني_تصوفي تعلیماتو په رنا کې په دې باور یو، چې د بایزید روښان د څو اړخیز شخصیت تحلیل او شننه تر ځینو حدودو پورې امکان لري. د پورتنیو مواردو په باب وځېړل شي، ځکه یادې شوې فرضیې، کله د نړۍ د نورو متفکرینو او فلاسفه وو په تېره د معاصرو سترو لیکوالو په آثارو کې هم وینو، چې په همدې فصل کې پرې رنا اچوو.

---

[1] ایضاء، ۳۰۸ مخ.

[2] ایضاء، ۳۰۹ مخ

د: د بایزید روښان د شخصیت روانـــي او انفسی اړخ:

" ته لومړی ووایه ، چې
خوب دې لیدلی دی ، چې
بیا زه ووایم ته څوک یې "

فاف: تعبیر خواب و بیماری های روانی.
فروید_۵۹ مخ

حالنامــه د بایزیــد روښــان د عرفــاني او معنــوي شخصــیت زیــات اړخونــه بیــانوي. نومــوړی اثــر پــه ناخودآګــاه او نــاخبره توګــه د بایزیــد د ځینــو ســایکولوجیکو او روانــي غوښتنــو اړخونــه هــم څرګندوي، چې په عمده توګه د هغه د خوبونو په ترڅ کې ځینې تکي جوتېږي.

لــه بلــې خــوا پــر خوبونــو باندې اعتقــاد او د خوبونــو انګېــزو تــه پاملرنــه د بایزیــد روښــان لپــاره تــولنیز فرهنګــي بنســټ هــم لــري او هغــه لــه یــوې خــوا د پښتنــي عنعنــوي تــولنې موجودیــت، اســلامي فــرهنګ او د وخــت لاســبری تــولنیز روان و، چــې مــوږ دمخــه پــه لومــړي فصــل کــې ورتــه ګوتــه نیــولې ده، لــه بلــې خــوا پــه اســلامي فــرهنګ او د هغــه تــر اغېــزې لانــدې پښتنــي ټولنــه کــې، پــر شــیطاني او رحمــاني خوبونــو بــاور څــه لــږ مثالونــه نــه لــري، بلکــې پــه اســلامي فــرهنګ او زده کــړو کــې پــه وار وار د حضــرت یوســف ع، د حضــرت محمــد ص، او نــورو ســترو شخصــیتونو د خــوب لیــدلو یــادونې شــوي دي، چــې مــوږ یــې لــه بیا ځلي یادونې ډډه کوو.

پــر دې اســاس بــې ځایــه بــه نــه وي، چــې د څــو تنــو اړواپوهــانو

په تېره د فرويد او يونگ د نظرياتو په رڼا کې د بايزيد روښان انصاري د دنيا دغه اړخ هم تحليل کړو.

د فرويد په عقيده، خو بونه يوازې د مختلفو حسي تحريکاتو نتيجه نه ده، چې امکان لري يوازې د يوه ويده انسان لپاره رامنځ ته شي، بلکې دا هم بايد ووايو چې خوب خپله ځانګړې مانا لري او هغه زمور د باطني غوښتنو، آرزوګانو، اندېښنو او د ټولنيز چاپېريال د پېښو انعکاس دی. فرويد دې نتيجې ته رسېږي، چې خوب زمور د شعور له عملونو څخه يو عمل دی. خوب په هماغه وخت او حالت کې، چې د انسان خطرناکې هيلې او له جنايت څخه ډکې غوښتنې په بې ضرره او ناڅرګنده توګه جبيره کوي او پرته له دې، چې بل چاته آزار ورسېږي، خوب ليدونکی ارضا کوي. د خوب ليدونکي لپاره د خوب د حالت دوام ورکوونکی هم دی. نومورې زياتوي:

"دا خوب دی، چې د طلايي هيلو او زمور د لورړو او عالي غوښتنو د ترسره کېدو په خاطر، چې په واقعي او ويښه دنيا کې يې تحقق له درده ډک او خطرناک دی. مور (آرام)، خوشحاله او بې له تشويشه خوب کولو څخه برخورداره کوي."[1]

هدف دا دی، چې د زياترو خلاقو او سترو شخصيتونو

---

[1] فروید، تعبیر خواب و بیماری های روان. "ترجمه:ایرج پور باقر"،(تهران: انتشارات آسیا، چاپ دوم. ۱۹۶۳ع)، ۱۱مخ

هیلې او آرزوګاني د هغوی د ناخبره شعور له لارې پېژندل کېږي او څېړل کېږي. بایزید روښان هم هغه ځلانده څېره ده، چې پر ظاهري او څرګند شخصیت سربېره ډېره پیاوړې او غني باطني دنیا لري.

کېدای شي په حالنامه کې چې کوم خوبونه ثبت شوي دي، د پښتنې ټولنې د عنعنوي ځانګړنو په مقیاس او دا رنګه د اسلامي فرهنګ ارزښتونو ته په پام سره، چې خوبونو ته خاص ارزښت ورکوي، د هغه د راتلونکي شخصیت د ودې، تکامل او بشپړتیا لپاره غوره روانې انګیزې ګرځېدلې وي. همدارنګه بایزید روښان ته دغه خوبونه د راتلونکیو معنوي مقاماتو د حصول لپاره هم د الهاماتو سبب شوي دي.

په هر صورت مورخ د اړواپوهنې د څېړنو په ترڅ کې د بایزید روښان د شخصیت په رغښت کې له دغه روانې اړخونو سترګې نه شو پټولای، نو ځکه څه ناڅه یادونې ته یې اړه ده.

په حالنامه کې د بایزید روښان خوبونه په دې ډول دي:

ـ "بیان در آمدن خواطر ملکی در دل بایزید قدس سره"[1]

ـ "خواب دیدن بایزید قدس سره خضر علیه السلام را"[2]

ـ "بیان سبب نزول الهام بر بایزید قدس سره و دانانیدن معنی کلمه..."[3]

[1] حالنامه، ۲۷ مخ.

[2] حالنامه، ۳۹ مخ

[3] حالنامه، ۴۲ مخ

_ "خواب دیدن پیر دستگیر که در خانه من زنار دلران آمده اند."(1)

_ "بیان سبب جمع آمدن منافقان که بایزید دیوانه شده است، باید بست تا به شعور آید."(2)

په دغه لنډ فهرست کې وینو، چې د بایزید د څرګند عمل او ظاهري چلندونو په څېر د هغه دننني او نفساني تمایل او رغبت هم زیات مذهبي او ديني دی. کله چې د نورو ادیانو او مذاهبو د سترو کسانو په باب ګورو، د بایزید نفاسیت هم له هغو سره د پرتلنې وړ دی او ان ځینې الهامي او هاتفي پیغامونه د خوبونو او خاصو روانې حالاتو له مخې راڅرګند ېږي.

د مثال په ډول: د بنو اپریه (Benoit Perier) په نوم یو اروپوه په خپله یوه رساله کې، چې نوم یې دی "خوب او د ستورو لیدلو په باب اټکلونه" او په ۱۵۹۸م کال یې خپره کړې، د خوبونو لیدلو په باب زیات څه لري. نومورې د خوب لیدلو علتونه پر څلورو برخو وېشي.

د هغه په نظر جسمي ناروغي هم کېدای شي. چې ناروغ له سخت عاطفي انقلاب سره مخامخ کړي یا له هیلې، امید او یا وېرې څخه ورته یو حالت پیدا شي، بل علت د شیطان مکر او د هغه نفوذ او اغېزه ده، چې د مذاهبو یو رب النوع

---

[1] حالنامه، ۱۳ مخ

[2] حالنامه، ۱۶۲ مخ

يـا مسـيحي شـيطان دا كـار كـوي. هغـه ليکـي:" انسـان لـه هغـه څـه څخـه، چـې بايـد ترسـره يـې کړي او يـا يـې ترسـره کـوي، مخکـې لـه دې چـې خبـر شـي، شـيطان تـرې خبرېـږي او شـيطان د خوب په ترڅ کې هغه څه انسان ته ورښيي."[1]

خـو هغـه څـه، چـې مـوږ تـه پـه زړه پـورې دي، هغـه د خوبونـو څلـورم علـت دی، چـې څېـړونکي ښـودلي دي، چـې زمـوږ لـه موضـوع سـره هـم رابطـه لـري او يـا کېـدای شـي ارتبـاط پيـدا کړي.

د بنواپريـه پـه عقيـده، چـې يـونگ تـرې اقتبـاس کـوي، هغـه خوبونـه څرګنـدوي، چـې:"د خـدای لـه لارې بنـده تـه الهـام کېـږي، د خوبونـو ملکـوتي علامـه د هغـو لـه مضـمون څخـه عبـارت ده، پـه دې مانـا چـې دې خوبونـو داسـې مسـايل روښانـه کـړل، چـې علـم پـرې لـه فضـل او الهـي عنايـت پرتـه امکـان نـه درلـود. لکـه د راتلـونکي امکانـات، د زړه اسـرار او د ايمـان رمزونـه، خدای پخپلـه خپـل بنـده ګـان ددغـو خوبونـو لـه اصـالت څخه خبروي."[2]

نومـوړی دا خبـره هـم واضـح کـوي، چـې شـيطاني خوبونـه هـم انسـان لـه ځينـو اټکلونـو خبـروي، چـې انسـان د هغـه پـر دروغـو بـاور وکـړي، خـو دا چـې کـوم يـو شـيطاني او کـوم يـو ربـاني

---

[1] کـارل ګوسـتاويونک، روانشناسـی و دیـن "ترجمـه، فـواد روحـانی" (تهـران: فرانکلین، ۱۳۵۴)، ۶ مخ.

[2] ایضاء، ۶۰ مخ

دی، نو د هغه بېلوالی سخت دی، خو له کومه ځایه چې زمونږ په وجدان کې یوه رښا شته، نو د هغې روښنایی په مرسته یې مونږ الهامي منشاء پېژندلای شو.

همدا ډول کارل گوستاویونک په دې لړ کې د خوبونو د ربانې منشاء په باب د یو بل اروا پوه کاسپاریوسر د خوبو اتکل هم رانقلوي او لیکي:

"یوازې هغه خوبونه الهي منشاء لري، چې د سپېڅلي کتاب په موجب د اسماني وحې خاصیت ولري. دا ډول خوبونه هر څوک نه گوري ان هغه څوک، چې د وحې او الهام خاص انتظار هم ولري، بلکې یوازې د ادیانو په لویانو او پېغمبرانو پورې اړه لري، چې یا د خپل تصمیم او یا د الهي مشیت پر بنسټ دا ډول خوبونه وینې..."[1]

د پورتنیو ویل شویو تکو او مطالبو پر استناد کله، چې د بایزید روښان د ځینو خوبونو الهامي اوازونو او مخصوصو روانې حالتونو ته گورو، هغه د یو عارف، صوفي، د وجد او شور جذبې خاوند دی. لکه چې وایي: "له اوله له مبدا سره د هغه رغبت" و، نو د هغه په نیم ویښ او نیم آگاه حالتونه، د هغه د خوب حالتونه له الهامي خوبونو سره سرخوري. حال دا چې په بحث او خبرو اترو او استدلالونو کې هم هغه د الهام له نزول څخه انکار نه کوي.

---

[1] ایضاء، ۶۱ مخ.

د بايزيد روښان له ټولو روئيايي حالتونو څخه مهم او ډېر غوره هغه دی، چې نومورې خضر عليه السلام په خوب کې وينې. دا د هغه د ژوند هغه حالت دی، چې له يوه نوي بدلون او انفسي انقلاب سره مخامخېږي. د حضرت خضر عليه السلام په ليدلو سره هغه په نوي روانې دنيا کې قدم ږدي او ځان له عادي بهير څخه جلا کوي، سره له دې چې د بايزيد روښان د خوب ليدلو دغه برخه په تفصيل سره په حالنامه کې راغلې، په دې ډول پيلېږي:

"چون روح جاری پير دستگير قدس سره در عالم مثال رفت ديد که بزرگی روی بسوی قبله نشسته است و من از آن بزرگوار ميگذشتم و آن بزرگوار فرمود که ای بايزيد! از من بی حاصل ميگذری. پس پير دستگير قدس سره گفت شما کيستيد! آن بزرگوار فرمود من مهتر خضر هستم. پير دستگير گفت که مرا بر تو يقين است، اگر من ميدانستم که تو خضر عليه السلام هستی من آمده قدم بوسی نموده از تو دعا ميخواستم.

چون پير دستگير قدس سره برگشته قدم بوسی کرد گفت: که مرا دعا کن. خضر صلوات الله عليه فرمود که من ترا دعا نکنم و ليکن ميخواهم که با من برادر دين شوی و دين خود با من شريک و برادر دين تو شوم. مرا دعا بکن که دعای تو مرا کافی است..."([1])

---

[1] حالنامه، ۳۹ مخ

دغه حالت ټول په خوب لیدلو کې تېرېږي، خوب لیدونکی[1] یا بایزید روښان پکې له خضر علیه السلام سره په بحث او خبرو اترو کې پر خپې ګناهګاری له اعتراف څخه پیل کوي، خو مقابل لوری (خضرع) ټینګار کوي، چې له تا سره د دین په ګډون کې ماته کوم زیان او ضرر نه رارسېږي. دا په واقعیت کې د روښان د روانې تسکین او پر خپله پاکۍ باندې د باور د پیاوړتیا ډېره حساسه مرحله ده، تر هغې چې بایزید له بسم الله الرحمن الرحیم له ویلو وروسته له خضر علیه السلام سره د دین د شریکولو خبره کوي او بالمقابل خضر علیه السلام له بایزید روښان سره د دین شریکولو اعلام کوي، له دې وروسته وایي:

"پس دل پیر دستگیر قدس سره گفت: که امروز کرم فرمایی و سایه همای خود بخانه من انداز، اگرچه میدانم که به آب و طعام حاجت ندارد اما از طفیل تو دیگران مستفید شوند بهتر است. خضر صلوات الله علیه قول نموده بر خاسته همراه ایشان روان شد. پیر دستگیر قدس سره در دل اندیشه کرد که اگر این شخص مهتر خضر صلوات الله علیه است فبها و اگر کسی دیگر است سخن بود گذشت..."([1])

بایزید په همدغه حالت کې له زیاتو شکونو او تردیدونو څخه تېرېږي، هغه په الهامي او غیبي ډول پوهېږي، یا

[1] حالنامه، ۳۹ مخ

پوهـول کېـږي چـې لـه حضـرت خضـر علیـه السـلام سـره یـې ملاقـات کـړی دی، بیـا پـه همدغـه حالـت (د خـوب لیـدلو پـه حالـت) کـې یـوې چینـې تـه ځـي او هلتـه تـول اوبـه څښـي، زیـات وګـړي وینـي، خـو د مینځـو لـه لاسـه لـه اوبـو د بایزیـد روښـان تنـده نـه ماتېـږي، تـر هغـې چـې حضـرعٔ د هغـه لـه زړه پوهېـږي او پخپلـه اوبـه ورکـوي او پـه همدغـه اوبـو د هغـه بشـپړه تنـده ماتېـږي. "پـس مهتـر خضـر صـلوات الله علیـه گفـت: الحمـدالله رب العـالمین از دسـت مـن بـآب حیـات سـیراب شـدی. بعـد از خـواب بیـدار شـد آه سـرد بـر آورد و گفـت: کاشکی از این خواب زود بیدار نشدمی..."(۱)

کلـه چـې مـوږ د بایزیـد روښـان د خوبونـو پـه لـړ کـې د همدغـه خـوب مـواد او عناصـر وینـو لـه هغـو هـم جوتېـږي او د هغـو لـه سـمبولونو او پخپلـه د خـوب لـه روان څخـه، چـې د بایزیـد خـوب د هغـه د کمـال پـه لـور یـو فکـري روانـي حرکـت دی. هغـه پکـې لـه ټـول شـک او تردیـد څخـه تېرېـږي او یـو ډول روښانیـت تـه لاره پیـدا کـوي. لـه بلـې خـوا د اوبـو څښـل او هغـه هـم د حضـرت خضـرعٔ لـه لاسـه د هغـه د بیـا ځلـي ژونـد مانـا ورکـوي. اوبـه د ژونـد او حیـات سـمبول دی. یـونګ پخپلـو نتیجه ګیریو کې دې ته رسېږي، چې وایي:

"د خوبونـو د تعبیـر لپـاره بایـد یـوازې مـواد غـوره شـي، چـې

---

[1] حالنامه، ۴۱ مخ

په څرګنده توګه او محسوس ډول د خوب جزء دی. خوب خپل ځانګړي محدودیتونه لري او یوازې خپل ځانګړی شکل مومي ته وایي، چې ورپورې اړه لري او څه شی تري مومي لیرې کوي."[1]

پر دې اساس کله چې د پورتني خوب عناصر او اجزاء وینو، په هغه کې هم سمبولونه او فکري او رواني حرکتونه په څرګنده د بایزید روښان له عمل او مبارزې او هڅو سره مطابقت لري، خو د هغه پر رواني او شعوري حالت باندې مذهبي او ديني فضاء ډېره په څرګنده رابلنه ده او دا یوازې د بایزید روښان په باب نه، بلکې د نورو مذهبي او رواني شخصیتونو په برخه کې هم صدق کوي. د مثال په ډول: د منځنیو پېړیو په کلیسایي لیکنو کې له دې خبرې انکار نه کېږي، چې امکان لري، یو خدایي نفوذ احیانا په خوب کې ظاهر شي، خو په دې برخه کې ټینګار نه دی شوی او طلب هم دا حق ځانته ساتلی، چې پر هره برخه باندې وپوهېږي، چې آیا هغه څه چې د خوب په صورت کې ظاهرېږي اعتبار لري او که نه...."سره له دې، چې کلیسایي تصدیقوي، چې ځینې خوبونه د خدایي منشاء لري، خو زیات تمایل نه لري، چې خوبونو ته جدي پاملرنه وکړي، بلکې حتی له دې عمل نه ځان ژغوري، پر دې اساس له دې څخه هم انکار نه کوي،

---

[1] کارل ګوستاویونګ، انسان و سمبولهایش. (ترجمه ابو طالب صارمی) چاپ دوم، ۱۳۵۹ (تهران، انتشارات امیر کبیر ۱۳۵۹) ۲۷ مخ.

چې امکان لري ځینې خوبونه د خدای له خوا د سیده الهام لرونکی وي."[1]

دغه راز حالنامه د بایزید روښان د نورو خوبونو او روانې حالتونو په باب نور تکې هم لري. د مثال په ډول له پلار سره د مال د تقسیم په باب هم د اثر په (۲۲) مخ کې یو خوب وینې، چې اوبه پر پټیو ورسموي او دوه تنه نور راځي او هغه یوې کندې ته ورسموي، خو د حالنامې مؤلف ددغه ساده خوب تفسیر او تعبیر هم بیانوي.

همدا ډول په یوه بل خوب کې، چې هغه هم دینې او الهامي منشاء لري او د یوې نسبتاً پیچلې مسالې حل له ځانه سره لري، هغه هم په زړه پورې دی. دغه خوب د بایزید د پیر د پیدا کولو په باب دی. په دې ډول د نومورې خوب یوه برخه: "اما در آن ایام این چنین کس یافت نمیشد که در وی صفت پیر بیابم تا مرا راه راست نماید... ناگاه شبی اسمعیل پسر شیخ محمود و عمزادهء بایزید قدس سره پدر خود را در خواب دیدي. میگوید او را که در فلان طاق فلان کتاب است، در وی فلان اسم نوشته است. اگر آنرا بخلوت بخوانی، منفعت دین بیابی. چون خواجه اسمعیل از خواب بیدار شد، تفحص نمود و آن کتاب را یافت و در آن کتاب اسم اعظم نوشته دید. خواجه اسمعیل فی الحال حجره

---

[1] یونگ، روانشناسی و دین، ۳۳ مخ

تاریک ساخت و در خلوت نشست و اسم اعظم آغاز کرد و شب بیداری اختیار نمود..."[1]

حالنامه د بایزید روښان د تره د زوی شیخ اسمعیل خوب رانقلوي. یعني هغه څوک، چې پر بایزید روښان باندې یې معنوي نفوذ درلود. په هر حال دغه خوبونه او یا الهامي حالتونه د حالنامې او په تېره د بایزید روښان د معنوي شخصیت او د غېب په اسرارو باندې د پوهېدو غوره او څرګند اړخ جوړوي او د پورتني حالت اقتباس او ثبت به هم د بایزید روښان د خوبونو لپاره یوه ذهني زمینه وي.

په هر حال! دا او داسې نور مطالب او مسایل په مجموع کې د بایزید روښان د انفسي او دننني شخصیت ښکارندوی او څرګندوی دی. فروید عقیده لري، چې د خوب ارزښت په داسې شرایطو کې، چې عقل پر حس او اراده غالبېږي او اوس یې وخت تېر شوی دی. په هماغه وخت کې یې ارزښت او اهمیت په اسانۍ د پوهېدو وړ و، ځکه چې په هغه دوران کې فلسفي تفوق درلود او نن ورځ طبیعي علومو دغه تفوق له منځه وړی دی. ځینو پوهانو خوب د ذهن یو ډول استقلال بالله او ځینو هم د طبیعت په نسبت د حواسو له بنده ګۍ څخه خوبونه د روح خلاصون او ژغورنه بللې، خو د فروید په عقیده:"زمونږ په دوران کې له

---

[1] حالنامه، ۳۷ مخ

عارفانو او زاهدانو پرته نور څوک ددغه ډول عقایدو پلویان نه دي."([1])

دا سمه ده، چې طبیعي او مثبته علوم به د خپلو معیارونو او پرنسیپونو پر بنسټ له دغه ډول مسایلو سره روغه جوړه ونه لري، خو مور له دي هم انکار نه شو کولای، چې د انسان دننۍ او انفسي دنیا هم ډېره پېچلي او له رنګینیو ډکه ده او دغه پېچلتیا د روانې او د هغه د بېلابیلو حالتونو د راسپړلو او شننې په ترڅ کې څېړلای شو.

فروید د دوپرل یو عارف شخصیت عقیده په دي باب یادوي، چې یوازې ببداري او ویښه نه، بلکې خوب هم د متافزیکي دنیا د پوهېدنې په اسانتیا کې تر هغه ځایه، چې په انسان پورې اړه لري، ګټور عامل دی.

خوب د ببداری او رښتیا د وخت د روانې فعالیتونو دوام هم بللای شوی او دا هم کېدای شي، چې هغه مقصدونه چې د ورځې په ترڅ کې یې پرې بری موندلی دی، لوری ورکړي. خوبونه د انسان شکایتونه، ستونزې رفع کوي او کېدای شي د شاعرانو او آهنګ جوړوونکیو لپاره د نویو الهامونو منبع شي.

په لنډ عبارت سره:" د غېب ویلو هغه قدرت، چې خوب ته منسوبېږي، د هغو مشاجراتو او خبرو اترو سبب شوی که ضروري باورونه پرې له مشکلاتو او شکونو سره مخامخ

---

[1] فروید، تعبیر خواب و بیماریهای روانی، ۵۸ مخ.

شوي پر ځای ده، چې په دې برخه کې له هر ډول نفي یا انکار څخه ډډه وکړو. ددې لپاره چې ددغه ډول قضایاوو روانې حقیقي توجیه امکان ډېر زیات دی."[1] ددې برخې په پای کې کله، چې خپلې خبرې راټولوو او د نتیجې په توګه وغواړو څه ووایو، زمونږ بیان بیا هم د بایزید روښان انصاري د عارفانه، صوفیانه شخصیت پر محور څرخي، د هغه "روان" او ذهني نړۍ د هغه تر ظاهري او څرګندې دنیا پېچلې ده او یا په بل عبارت د هغه ظاهري شخصیت د هغه د انفسي او دننیو بعدونو یوه "نیمه څرګنده" برخه ده. کله چې حالنامه ګورو او کله چې د هغه بحثونه او استدلال ته ګورو او یا د هغه نورو آثارو ته پاملرنه کوو، په ډاګه وینو چې مورږ له یوه داسې شخصیت سره مخامخ یو، چې هغه درېدا او تمېدا نه منې، د هغه تن او روان د هغه جسم او روح له یو ډول هیجان، شور او جذبې څخه ډک دی. هغه په هرڅه او هره شېبه کې له اسفل څخه اعلی ته د "بدلون" او "کېدلو" په حالت کې دی.

د: بایزید روښان د یو عرفانی او فلسفی شخصیت په توګه:

په اسلامي تمدن کې دوه فکري جریانونه زیات د غور او تأمل ور دي. دغه دوه جریانونه له فلسفه او تصوف دي.

[1] فروید، تعبیر خواب، ۵۹۰۰ مخ.

"پل نويا" د پروفيسور ارنالدز له قوله ليکي:

"د اسلامي نړۍ فلاسفه وو د واقعي مسايلو پر وړاندې له عجيب رندوالي څخه کار اخيستی دی. ددې پرځای، چې د هستۍ او ژوند د اسرارو په باب فکر وکړي، دې پر وخت يې په دې لګولی، چې د ارسطو او افلاطون دا متن او يا هغه متن د ځان لپاره د فهم وړ وګرځوي."[1]

په اسلامي نړۍ کې فلاسفه په يو مجرد چاپېريال کې بند او د ژوند له واقعيتونو څخه ګوښی په فکر کولو بوخت وو. فلسفې په جامده او مجرده توګه د افلاطون او ارسطو تپر بحثونه تکرارول. پرته له دې، چې دا په نظر کې ونيسي، چې هغوی په خپله د يو ډول خاصو شرايطو پيداوار وو. په دې ډول د يوه پوه دا طرح په شرقي اسلامي نړۍ کې صدق کوي، چې:

"د فلسفې واقعي مسايل فيلسوف مطرح نه کړل، بلکې صوفي طرح کړل، د صدق او اخلاص مشکله لاره يې غوره کړه. فيلسوف د مسالې د حل لپاره د ارسطو او افلاطون پر وينا اتکا وکړه. فقيه د ديني ارشاداتو ظواهرو ته پنځاه يووړه، خو يوازې صوفي ځان ته مراجعه وکړه او د شخصي تجربې لاره يې غوره کړه."[2]

---

[1] سيد بهاوالدين مجروح "پيام صوفی بت شکن به بت پرستان قرن بيستم، ادب، شماره دوم (کابل: کابل پوهنتون، ۱۳۵۵) ۱۷ مخ

[2] همدغه ځای

خو په همدې لړ کې، چې کله د بايزيد روښان تصوفي او فلسفي ابعاد څېړو، مشکله به وي، چې هغه د خپلې زمانې او يا د هغه د ماضي له متفکرينو، فلاسفه وو او متصوفينو سره پرتله کړو. وينو چې کټ مټ هغه د هېچا په سلو کې سل پيروي نه ده کړې او نه يې د کوم متفکر او فيلسوف او صوفي تقليد کړی دی.

پير روښان د خپل وخت ډېر هوښيار او تېز فهم انسان دی. د دروېزه په قول "اين ملعون مرد زيرک و تيز فهم بوده."([1]) دغه راز سيد تقويم الحق کاکاخېل د دروېزه خبره په بل عبارت هم راوړي. ليکي:

"دا کم علمه خو ډېر ذهين بې مرشد صوفي په علم باطن او سلوک دواړو کې د يو خاص مقام او يو خاص انداز دعوېدار و. دې کې شک نشته، چې ډېرو سختو رياضتونو دده په خوله او نظر کې يو خاص اثر پيدا کړی وو."([2])

په هر حال د بايزيد روښان تصوفي او فلسفي مطالعه مورډ د اسلامي مدنيت او شرقي ټولنې د يوه صوفي او متفکر په توګه څېړو:

عرفان څه شی دی؟ په واقعيت کې عرفان داسې پوهه ده، چې پر روحاني او نه تشريح کېدونکي حالت ولاړه ده. په دغه حالت کې انسان ته دا احساس پيدا کېږي، چې له مطلق ذات سره مستقيم او بې واسطه اړيکې پيدا کړي. دا

---

[1] اخوند درويزه، تذکرة الابرار والاشرار، ۱۲۷ مخ.

[2] اخوند درويزه، مخزن (لها) مخ

احساس البته روحاني حالت دی، حدود نه لري. داسې حالت، چې په هغه کې عارف مطلق ذات د برهان په وسیله نه، بلکې د ذوق او وجدان له مخې پېژني.

د زرین کوب په قول په یاد شوي حالت کې عارف داسې حالت لري، چې هغه نه بېانېږي. هغه څه، چې د نومورې په وجدان کې دي، اندیشه نه ده، بلکې مجرد احساس دی. پر دې اساس د هغه حالت تر زیاته حده سلبي او منفي دی او هغه نه شي کېدای نورو ته تلقین او القاء شي. که څوک وغواړي دغه حالت تجربه کړي او پرې پوه شي، باید عرفان ته مخه کړي، عارف شي، تر هغه چې څوک عاشق نه شي، د عشق شور او جذبه نه لري، تر هغه چې څوک عارف نه وي، د عارفانو په حالت نه شي پوهېدای.

په دې ډول هغه څه، چې د عارف په دننني روان کې ګرځي، د هغه په نزد ادراک او معرفت دی او هغه د یو لړ حقایقو او واقعاتو حکایت کوي، چې له عقل او استدلال څخه اوچت مقام لري. دا حالت د عارف پر تن او روان خاصه اغېزه کوي او د هغه دنني ژوند ته ځانګړی رنګ ورکوي.

د معرفت دغه حالت په مسلمانانو په تېره په متصوفینو پورې اړه لري. سره له دې، چې هغوی د شریعت پیروي کوي، خو له خدای تعالی سره د مستقیم او بې واسطه ارتباط امکان ته هم قایل دي او هغه ته د رسېدو لپاره سلوک او ریاضت غوره کوي.

"ماکس هورتن د هندوانو او برهمنانو د مذاهبو د عقایدو اغیزه په تیره د حلاج پر خبرو او ځینو نورو متصوفینو لکه بایزید او جنید باندې هم پیاوړې احساس کړې ده. هارتمان د هندوانو اغیزې ته پر نورو عواملو سربېره زیاته پاملرنه کړې او دغه نظریې د یو لړ قرائینو په مرسته هم تایید کړی دی.

د فونکرمر هندي او بودایي عنصر، چې د نومورې په عقیده جنید او بایزید(*) یې مظهر دې، خبرې کړې او بل عنصر یې هم ښودلی، چې هغه مسیحي رهبانیت دی، چې حارث محاسبي او ذوالفنون مصري یې مظاهر بللي دي.([1])

داکتر عبدالحکیم هم دا خبرې جوتوي. وایي:

"په دې دوو وینو حلاج، چې د جنید په اند یو مجنون و. له بایزید سره، چې ځینې بې د فناد طریق لومړنی اعلاموونکی بولي، بشپړ توافق لري او بایزید (بایزید بسطامي) په دې دلیل سره، چې په داسې خاوره کې لوی شوی، چې له بودایي افکارو څخه خړوب شوي او د نیروانا له بودایي عقیدې څخه یې اغیزمن بولي."([2])

---

* مطلب ترې بایزید بسطامي دی، چې د روښان کورنۍ هم ورته عقیدت درلود او د بایزید روښان پلار د تبرک لپاره پر خپل زوی د بایزید نوم کېښود.

[1] عبدالحسین زرین کوب، ارزش میراث صوفیه، چاپ سوم، (تهران:امیر کبیر، ۱۳۵۳ـ. ۱۳ مخ.

[2] عبدالحکیم، عرفان مولوی، "ترجمه احمد مهدی"، (تهران، ۲۵۳۶) ۱۳۲ مخ

PDF Compressor Pro

دغه راز د بايزيد روښان د سلوک او مقاماتو په پراوونو کې هم دا حالتونه ليدلای شو.

_ بايزيد روښان له هندي فرهنګ څخه په بشپړه توګه متاثر دی. هغه هند کې لوی شوی، زده کړې يې حاصلې کړي او هلته يې ژوند او تګ راتګ کړی دی.

_ له بلې خوا هغه په خپل انفسي سير او سلوک کې داسې څرګند عارف دی، چې پر بې واسطه اوسېده پوهې (معرفت) باندې ايمان لري او د هغه لپاره تبليغ او تلقين کوي.

"يوه شپه، چې پير دستګير قدس سره ناڅاپه آواز واوريده، چې يا بايزيده! خپل معرفت بيان کړه، چې ما څرنګه پېژنې؟ ځواب يې ورکړ: يا بار خدايا په هر طرف، په هر څه کې، چې ګورم د خپلې هستي د زړه په سترګو تا وينم او له څه چې اورم ستا آواز اورم او هرڅه چې شته، په دواړو نړيو کې ستا له وجوده يې ګنم."[1]

بايزيد روښان هم سيده او مخامخ له حق تعالی سره خبرې او د زړه راز وايي. دی هم د نورو عارفانو په څېر د زړه پر پاکی او د وجدان پر آواز باور لري. د حالنامې مولف ليکي:"او د طريقت غسل د زړه تشول دي. د نفس او شيطان

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، ۵۰ مخ

له وسوسې او له ټولو ګناهونو ځان ژغورل."(۱)

بایزید روښان هم په خپل فکري او انفسي سیر کې د ځینو متصوفینو په څېر له معمول چوکاټ څخه وځي. پر سننو او ټولنیزه مواخذه پښې ږدي، نوي مسایل رابرسیره کوي، په علم لدنی(*) یې باور خپړوي او نوي فکري پراوونه

---

[1] علي محمد، مخلص، حالنامه، ۷۰ مخ

* علم لدنی: په فرهنګ لغات اصطلاحات و تعبیرات عرفاني کې په دې ډول تعریف شوی دی:

(علم لدنی علمی است که بنده از خدا آموزد بدون واسطه، ملک و یا پیغمبر به حکم (و آتینا فی لدنا علما) و علمی است که اهل قرب را به تعلیم الهی و تفهیم ربانی معلوم و مفهوم شود نه_لدنی و علم یقین آنکه علم یقین_ بدلایل عقلی و شواهد نقلی و فرق علم ادراک نور ذات و صفات الهی است و علم لدنی ادراک معانی و کلمات از حق است بی واسطه بشر، آن بر سه قسم است: وحی، الهام و فراست.

انصاری گوید: مصطفی را علم یقین بود به خطاب لااله الا الله اورا از علم یقین با عین الیقین خواندند و آن که از عین الیقین او را به حق الیقین بردند.

علم الیقین استدلالی است، عین الیقین استدراک است، حق الیقین حقیقت است.

علم الیقین مطالعت است، عین الیقین مکاشفت است، حق الیقین مشاهده است، علم الیقین از سماع بود، عین الیقین از الهام رود، حرالیقین از سبب بازرستن است.

حق الیقین از انتظار و تمییز آزاد کشتن است.)

(سید جعفر سجادی، فرهنگ لغات و اصطلاحات، ۳۴۱ مخ)

مولوی یې علم عندالله هم بولي، چې مانا یې له علم لدنی سره یو شان ده.

علم الانسان خم طغرای ماست علم عندالله مقصد های ماست. (دفتر پنجم بیت ۲۵۸۷) دا عقیده، چې انسان د ځان دننه له منطق او حس څخه پورته د پوهې

طـی کـوي. د تـولنې د لاسـبري فکـري طـرز څخـه اخـوا گـام اېښودلـو او هغـه د نـورو متصـوفينو او عارفـانو پـه څېـر تـومتي وي، ځکه چې نوې ادعاگانې وړاندې کوي.

صـوفي د انسـان د شخصـيت.د کمـال پـه اړه د پېغمبـرې او وحـي پرځـای بـل مفهـوم هـم کـاروي، چـې پـه مطلـق ډول د اهـل سـنت لـه آئـين سـره مخـالف دی. پـه اسـلام کې د پېغمبـرې ډېـره لـوړه انسـاني مرتبـه ده او خـاتم الانبيـاء ص يـې ډېـره بشـپړه نمونـه گڼل کېږي.

لـه خـاتم الانبيـاء څخـه وروسـته د وحـي او نبـوت بـاب وتـړل شـو. لـه پېغمبـر ص څخـه وروسـته پـه هـره پېـړۍ کـې يـوازې عالمـانو او احيـاکوونکيو ددې حـق درلـود، چـې د خلکـو د زده کـړې او لارښـوونې چـارې پـر غـاړه واخلـي، خـو مسـيح او مهـدي ص، چـې د هغـو ظهـور د قيامـت د ورځـې د نـژدې والـي مانـا لـري، د وحـي د بـابونو تـړل د معنـوي اذهـانو لـه ژورو اړتيـاوو سـره مطابقـت نـه درلود، نو صوفيانو دا حکم ليرې وغورځاوه:

"زيـاتره صـوفيان لـه اهـل سـنت سـره د سـازش پـه خـاطر پـه ظـاهر کـې د اسـلام د پېغمبـر ص د رسـالت پـای تـه رسـېدو تـه

منشاء لري، چې د هغه تر لاسه کول د تفکر له لارې امکان نه لري او يـوازې د زړه د صافولو له لارې هر هغه څه چې د خدای جزء دي حاصـلېږي، د صـوفيانو يـوه ټينګه عقيده ده. مولوی همدا عقيده په دې ډول بيانوي:

عقل دو عقلست اول مکسبی_ که در آمـوزی چـو در مکتـب صـبی. (عقـل ديگـر بخشش يزدان بود_ چشمه آن در ميان جان بـود... (عبـدالحکيم، عرفـان مولـوی، پاورقی ۱۱۱ مخ)

قايل و، خو بله عقيده يې راوړاندې کړه او هغه دا چې ولايت له نبوت څخه لوړ دی. له کومه ځايه، چې دغه عقيده همدومره له کفر ډکه په نظر راتله، نو يو بديعي تعبير يې تري وکړ، چې د مسلمانانو له نظره د منلو وړ شي. وې ويل، چې: محمد ص په خپله د نبوت او ولايت دوې خواوې لري، خو دويمه جنبه يې پر لومړی برتري لري. نبوت دوې خواوې لري:"د خدای خوا او د مخلوق خوا حال دا چې ولايت همدا يو اړخ لري. يعنې يوازې د خدای اړخ. يوازې د خدای اړخ لاس نسبت دې ته، چې په عين حال کې دواړو خواوو ته يې نظر وي، بهتره او بې تکليفه ده."([1])

په اسلامي مدنيت کې شيعه فرقې دا مساله د پيغمبر روحاني وراثت ته په قايلېدو په امامت سره حل کړه او هغه څه، چې ځينو امامانو ځان ته منسوب کړل، هغه له پيغمبر څخه وروسته وترل شوه. په اسماعيله فرقې کې دا مساله ځانګړی خصوصيت لري (چې وروسته پرې مفصل بحث کېږي) سره له دې، چې په شيعه فرقه کې عقيده دا ده، چې غايب امام ژوندی دی او هره شېبه ددې ګومان شته، چې بيا راوګرځوي او اسماني ملکوت پر ځمکه برقرار کړي. لکه چې دمخه وويل شول امامت په غلو کې د کامل انسان مفهوم لري.

---

[1] عبدالحکيم، عرفان مولوی، ۱۱۳ مخ

د انبیاء وو ټول صفات_له شریعت راوړلو پرته_ اولیاوو ـه منسوبوي. د انبیاو ټولې ځانګړنې په بل ډول او نورو الفاظو او تعبیراتو سره اولیاوو ته منسوبېږي. ولې د خدای دوست دی او د هغه له خوا رالېږل شوی دی. ولې د کرامت خاوند دی او نبي د معجزې خاوند. ددې لپاره، چې د نبوت پر حریم تېری نه وي شوی، وحی د اولیاو و په مورد کې بل نوم غوره کړ. الهام یا د زړه وحي ونومول شوه. غزالي، چې هم د سنیانو ویاند دی او هم د عرفان، ددې نظر په درلودلو سره چې د نبوت علم د انسان د معنوي تکامل لوړه مرحله ده، مهم ګام اوچت کړ."

د بایزید په مباحثو کې هم په ډېر مهارت او زیرکۍ سره او هم په ډېر تیت پرک ډول دغه فکري اړخونه لیدلای شو. د مثال په توګه: ځیني محققین لکه عبدالقدوس قاسمي د دروېزه له قوله څرګندوي، چې بایزید روښان د پېغمبرۍ مدعی هم و. ویل به یې، چې جبرییل ماته راځي او پر ما باندې وحي نازلېږي. خپل تعصنیف خیرالبیان ته به یې الهامي کتاب وایه او ویل به یې، چې دا پر ما باندې خدای نازل کړی دی. نومورې ددغه ادعا لپاره د دومهرونو نقش جملې دلیل راوړي. په دې ډول:

"سبحان الملک الباری، جدا کرد عالم نوری از ناری، بایزید انصاری."

ددې نقش نه دا ثابتېږي، چې دی د خپلې خدایی مدعی و. د بل مهر نقش دا و:

"بايزيد مسكين ـ هادي المضلين" نقش نه دا ثابتيږي، چې دی د پيغمبرۍ مدعی و.(۱)

حالنامه لږ څه په تفصيل سره د بايزيد روښان د نيول کيدو او د کابل مغولي حکمران ميرزا حکيم ته د بيول کيدو جريان ليکي. کله چې بايزيد روښان د ميرزا حکيم په امر له قاضي خان سره بحث کوي، د روښان له خولې د پيغمبرۍ ادعا يا د محدوديت ادعا ردوي، خو له همدغه تردید څخه ځيني تکي جوتيږي، چې د بحث وړ بربښي او په ناسيده توګه مورخ ته د بحث وړ تکي راڅرګندوي.

"ميګويم که هادي ام راه رسول الله عليه السلام را مينمايم و علی النبی (ممکن علم النبی وي) دانانم و مريدان را طريق توحيد هدايت ميکنم و از ظلالت و جهل و شرک باز ميګردانم و حاسدان از روی حسد به جای هادی مهدی و به جای ولی نبی ميګويند."(۲)

دلته د بايزيد روښان له خپل قول څخه دوه تکي پوهيږو: يو دا چې دی هم د توحيد لارښيي او هم د ولايت د درجې دعوه کوي. د ولايت مقام د سلامي متصوفينو په نزد هماغه څه دي، چې مورخ ترمخه ورته ګوته ونيوه او بحث مو پرې وکړ، خو کله چې دی خپلو مريدانو ته د توحيد د لارې لارښوونه کوي، په خپله همغه مقام کې دی، چې د "وحدت غسل" يې کړی دی.

---

[1] د همدغه مطلب لپاره وګورئ: اخوند درويزه، مخزن، ۱۲۵ مخ.

[2] علي محمد مخلص، حالنامه، ۳۳۷ مخ

بایزید په فکري لحاظ دا پراو ترمخه تپر کړی دی او د حق په صفت موصوف شوی دی. د حالنامې مولف (یا بشپړوونکی) لیکي:

"یا بایزید. مر ترا باید که غسل وحدت اختیار کنی و موصوف به صفت حق شوی. و آنکه در خواب دیده بودی که پیالهء پاکی مینوشم و تعبیر آن نفهمیده بودی الحال بشنو که پیاله پاک همین اسم اعظم مذکور است و از غسل پاک و منزه است".(۱)

له قاضي خان سره له بحث او پورتنی یادونې څخه د بایزید روښان د اعتقاد پټول جوتیږي، خو مورږ بیا هم د بایزید روښان دیالوګ ته دوام ورکوو. هغه د قاضي خان د بلې پوښتنې په ځواب کې وایي:

"بعد پرسید که شنیده میشود که میګویی برمن وحی(*)

---

[1] علی محمد مخلص، حالنامه، ۷۱ مخ.

* سجادي وحي په دې ډول تعریفوي: "وماینطق عن الهوی ان هوالا وحی یوحی" وحي د نبوت له خواصو څخه ده او په دوه ډوله ده: یو الهي کلام او نبوي حدیث، چې ټول اقوال یې وحي ده او کلام یې د جبرییل په وسیله د رسول په زړه کې خای نیسي، خو ځینې نبوي احادث د جبرییل له واسطې پرته راغلي دي او ځینې یې د جبرییل د نزول په وسیله او ځینې یې نفث په وسیله نبي په زړه کې چې فرمایلي یې دي: "و نفث روح الامین فی ورعی" او د جبرییل له تنزل څخه مراد، چې د روح الامین علی قلبه دا وحي الی عبده ما وحی "ته د هغه تنل دی له ملکي صورت څخه په بشري هیات کې او له نفث څخه د هغې مراد له غیب څخه، له حجاب څخه ماوراء د نبي زړه ته الهي وحي ده. له تمثیل څخه په بې واسطه ډول لکه، چې فرمایي: "قل انما انا بشر یوحی الی"

می آید. پیر دستگیر جواب داد، که غلط میگویند من میفرمایم که بر من الهام (**) میشود و ندای غیب رحمانی و شیطانی چگونه فرق و تمییز مینمایی پیر دستگیر قدس سره فرمود که تمییز میان الهام و وسوسه و میان ندای رحمانی و شیطانی از دلیل آیت و حدیث اقوال مشایخ میکنم..."(۱)

همدارنگه الهام هم په دي ډول تعریفوي: الهام په لغت کې د مطلق اعلام په مانا دی او په شرح کې د خاصې مانا القاء ده. په زړه کې د فیض په ډول له اکساب فکر کولو او استغاصه څخه پرته، بلکې یو غیبي وارد دی، چې زړه ته لاره مومي. ځینې وایي په زړونو کې د خیر القاء ده.

الهام د مبتدیانو مقام دی او له هوښیارۍ څخه لوړتیا لري، چې کله په روحي او سماع ته نژدې حالت کې او کله د خوب په وسیله حاصلیږي او کله مشاهده کیږي.

بابا طاهر په شرح کلمات کې وایي:

" الهام باطن ته د خیر او یا د شر القاء ته وایي او د بنده په زړه کې د چارو صفت دی او هغه څوک، چې د الهام رنا یې په زړه کې وځلیږي او غیبي چاري په هوښیارۍ سره وپیژني.

همدارنګه په مثنوي کې پر قرآن باندې د وحې اطلاق

(فرهنګ لغات و اصطلاحات و تعبیرات عرفانی، ۴۸۵مخ.)

[1] ایضاء ۳۳۹ مخ

شوی دی او د وحي کتاب هم ورته له دې لاملـه وايـي او هـم يـې الهـام د غېـر انسـاني موجوداتـو عامـل او شـامل ګڼلـی او کله هم وحي په غير انساني موجوداتو کې بولي."

هغـه د قاضـي خـان د پـوښتنې پـه وړانـدې د خپـل اثـر د نـزول مساله هم څرګندوي. وايي:

"... مردمـان ميگوينـد کـه ميفرمـايی کـه بـر مـن از روی وحـی کتـاب نـازل شـده و آن چهـل سپاره است. جـواب فرمـود کـه آنچـه مـدعيان ميگوينـد خـلاف است، زيـرا کـه مـن گفـتم حـق تعـالی از روی الهـام بـر دل مـن کتـاب نـزول فرمـوده است و نـام آن خيرالبيـان اسـت، چهـل البيـان در آن مـذکور اسـت. چنانچه غوثيه بر غوث الاعظم از روی الهام نزول شده."(1)

د پورتنيـو اسـنادو او مـدارکو او هـم د نـورو زيـاتو څېړنـو لـه مخـې، کلـه چـې د بايزيـد روښـان څـو اړخيـز شخصـيت راوسـپړو، دې تـه اړ يـو چـې د نـوې ساه پـوهنې پـه رڼا کـې د هغـه فکـري او سـلوکي سـفرونه مطالعـه کـړو. بايزيـد د يـوه وتلـي او نتلـي شخصـيت پـه توګـه سـنت شـکن او د نـورو عرفـاني شخصـيتونو پـه څېر عصيانګر دی. هغـه چاتـه د تابعيـت غـاړه نـه ږدي او نـه خـو پـه موجـوده زمـان او مکـان کـې د تمېـدنې صـبر او زغـم لـري، نـو ځکـه هغـه د يـوه صـوفي او عـارف پـه توګـه دشخصـي او رواني تجربو لاره غوره کوي.

[1] ايضاء، ۳۳۹ مخ

بايزيد روښان، د شخصي تجربې لاره او مقامات

د حالنامې له مطالعې او همدارنګه د بايزيد روښان له نورو آثارو څخه جوتېږي. چې د هغه دشخصيت يو عمده ارخ تصوف او معرفت دی. په فکري او انفسي لحاظ هغه پر شخصي ـ رواني تجربه ټينګار کوي. نوموړی په خپل انفسي سير کې له زياتو پراوونو وروسته د مسکين پراو ته رسيدلی دی. هغه په دغه سفر کې د زمان پر ديالکتيک باور لري. (پرته له دې چې د ديالکتيک اصطلاح وکارول شي) هغه په زمان کې له خامې نه پوخوالي ته رسېږي او د خپل سلوک پراوونه وهي.

په عمده ډول د بايزيد روښان خيرالبيان او صراط

التوحيد د هغه د رواني تجربې څرګندوی دي. هر صوفي او عارف او په تېره بايزيد د خپل رواني سلامت د ترلاسه کولو لپاره له خپله ځانه پيل کوي او له ځانه مرسته غواړي او له بلې خوا خپل انفسی سير د خپل کار د يو تخنيک او دسپلين په توګه کاروي او د همدغه فکري او رواني مېتود له مخې لوړو فکري پوړيو ته ځان رسوي.

له بلې خوا بايزيد روښان هم په زمان کې له ټيټو پوړيو څخه لوړو پوړيو ته ځان رسوي. له محسوساتو څخه معنوياتو ، له ظاهر څخه باطن ، له خامۍ څخه پوخوالي ته او له کثرت څخه د وحدت په لور پرمخ ځي. د موضوع د ښې روښانتيا لپاره به بده نه وي، چې د بايزيد روښان د اتو مقاماتو ذکر وکړو:

الف: د شريعت مقام:

د بايزيد روښان په نزد دا هغه مقام دی، چې سالک پکې د اسلام پر پنځو بناوو پابند دی. د بايزيد په فکري انفسي سير کې د تفکر او تأمل لومړی پړاو دی. يا د خپلو تفکراتو د پيل پړاو دی. بايزيد ددغه پيل اصول او پرنسيپونه په دې ډول څرګندوي:

" او بايزيد! زه دطريقت ور و هغه ته پرانيزم، چې د شريعت په علم چارکا ، د هغه پس وده و ته د طريقت پوهه وروبخښم د حقيقت ور وهغه وته پرانزم چې د طريقت په علم

چارکا. دغه پس يې د حقيقت له پوهې خبر کړم. د معرفت ور و هيغه و ته پرانزم چې د حقيقت په علم چار کار د غه پس د يگانه گي پېژند گلي وروښيي. عيان."([1])

ب: د طريقت مقام:

د طريقت په مقام کې سالک هڅه کوي، چې په خپل ځان کې د پرښتو او صاف او د پېغمبرانو اعمال پيدا کړي.

دغه اعمال او صفات په خپل ذات کې د حق تعالى صفات دي. بايزيد ته الهام کېږي او خيرالبيان يې څرگندوي، چې:

"راوښايه و ماوته تاريکي روشنايي له معنى په خپل فرمان او سبحان! او بايزيد! کم عقلي، منکري، گناه، غفلت، جاهلي، ناداني، مې له خپلې تاريکۍ کړي دي. عقل، ايمان، جارواته، نفته او ياد او علم مې له خپلې روښنايي کړي دي عيان."([2])

گورو، چې په دغه پراو کې سالک په خپل انفسي سير کې له دوو لارو سره مخامخېږي او په همدې مقام کې يې هغې لارې ته لارښوونه کېږي، چې هغه د نېکو صفاتو او د حق تعالى د روښنايي د لوري څرگندوی دي، نو کله چې سالک له دغه پراوه تېر شي، په خپلې رواني لړۍ کې بل

---

[1] بايزيد روښان، خيرالبيان (پېښور: پښتو اکيډيمۍ)، ۲۱۸مخ.

[2] ايضاء ۲۲۹ مخ.

مقام ته پورته کېږي، ړومبنی مقام نفي وي. دغه نفي په زړه پوري تکاملي او ديالکتيکي نفي ته ورته ده او د حقيقت مقام ته داخلېږي.

ج : د حقيقت مقام:

په دې ډول د حقيقت په مقام کې سالک هغه حالت پيدا کوي، چې د پېغمبرانو وي. خفي ذکر کول پکې دايمي مساله ده او له دې لارې باطني صفايي (درونې سپېڅلتيا) ته رسېدل امکان پيدا کوي. د بايزيد په مقاماتو کې خفي ذکر ډېر ارزښت لري. د حقيقت له مقام څخه وروسته سالک د معرفت مقام ته رسيږي.

د : د معرفت مقام:

دا مقام د انبيارو د راز مقام دی. سالک په دې مقام کې د حق ديدار ته رسېږي. په هرڅه کې د ذات الهي جلوه لټوي او څلور شرطونه لري. سالک بايد دغه شرطونه پرځای کړي:

۱ـ يعنې نفساني غوښتنې بايد ترک کړي،

۲ـ هېڅ ډول حرص ونه لري،

۳ـ شهوت بايد پرېږدي،

۴ـ طمع بايد هېڅ په ذهن او فکر کې ونه ګرځوي.

سالک بايد له دغه شيانو په کلکه ځان وژغوري.

خيرالبيان ليکي:

"او بايزيد! د معرفت زده د يگانه گي زده او چاريي هغه ده چې هر چار زما په حضوري کا ادميان."(۱)

او په بل ځای کې راوړي:

"گوره! په معرفت کې مقام د قربت د وصلت و د وحدت سکونت دی، په تا دې وي اعلام او عارف واجد مقرب واصل موحد مسکين وي عيان."(۲)

په دې ډول که د هگل درې گوني فکري مراحل په نظر کې ونيسو، نو د شريعت مقام د تېز (حکم) پراو دی او د معرفت مقام له انتي تېز سره ورته والی لري. البته دا په فکري او رواني بهير کې مطالعه کېږي. له دغو مراحلو او پراوونو څخه د معرفت مقام خاص ارزښت لري.

ځکه د بايزيد په قول د معرفت په مقام کې د قربت، وصلت، وحدت او سکونت ته نژدې کېدل دي. يعنې له کثرت څخه د وحدت پر لور فکري حرکت دی. په معرفت کې قربت حاصلېږي.

هـ : د قربت مقام:

په دې مقام کې يوازې د سالک غوږونو ته د حق اواز ورسېږي، د مخلوقاتو اوازونه ورته د حق تسبيحات ښکاري او د سماع په خوند هم پوهېږي. خيرالبيان دغه

---

[1] ايضا، ۲۵۳ مخ.

[2] ايضا، رر

فکري حالت په دي ډول څرګندوي:

"ګوره! هر علم زما له علمه دی، هر نوم زما له نومه دی، هر زور زما له زوره دی، هر اواز زما له اوازه دی، هر رنګ زما له رنګه دی، هره ستروي (لويي) زما له لويۍ ده، هر ښاپست زما له ښاپسته دی، هره تياره زما له تاريکۍ ده، هره روښنايي زما له روښنايي ده، هر قهر زما له قهره دی، هر رحم زما له رحمه دی، زه له هرڅه سره يو يم، په تا دي وي اعلام."[1]

و : د وصلت مقام:

سالک په دغه مقام کې خپل اوصاف هېروي، اوربدل، ونيول، تلل، هرڅه يې د حق تعالی په ذات وي، بې له خدايه بل هېڅ نه وينې. د وصلت مقام داسې مقام دی، چې سالک لا پکې خپله هستي نه وي ورکه کړې.

د: د وحدت مقام:

د وحدت مقام کې سالک خپله هستي فنا ګوي، د بشريت اوصاف يې پای ته رسېږي او رباني اوصاف پيدا کوي. په دي مقام کې د خپلې هستۍ احساس هم خفي شرک دی. په دي ډول سالک پکې له شرک نه فارغ دی.

د هګلي مېتود له مخې ددغه مقام په ديالکتيکي نفي

---

[1] ايضا، ۲۶۳ مخ

سره د فکري بهیرٌ د سنتیز پړاو یعنې د سکونت پړاو ته رسېږي. په ړومبنیو پړاوونو کې هم دغه مېتود د انطباق وړ دی. بایزید روښان د خپل الهامي اثر خیرالبیان په حواله څو وارې د خپل مسکنت مقام تثبیتوي. په دې ډول:

"گوره! آدمیان زما په هستۍ که(ې) دي، زما هستي ده په آدمیان. لکه کبونه په اوبو او اوبه په کبو کې، لکه کبونه په اوبو ژوندي وي، هستي په ما ژوندی دی آدمیان، په تا دې وي اعلام."(۱)

آیا په دې ډول:" کب چې په اوبو کې گرزي مخ یې و اوبو ته شي هستي هر لور ته، چې و جاروزي مخ یې و هلته شي د آدمیان."(۲)

بایزید په خپل انفسی سیر کې د ټولو مقاماتو تر نفي وروسته عالي پړاو ته رسېږي، د حق تعالی په مقام کې مسکنت اختیاروي. دغه وروستی پړاو په خیرالبیان کې په دې ډول څرگند شوی دی:

"گوره! زما خوښي ده، چې مې په یگانه گۍ وپېژنې، چې وپژنې بیا مومې زما حیاتي، بقایي، مال، ملک، توانگري، عزیزي، قراري، خوی راحت تر (و) به مسکین شي عیان."(۳)

او یا په دې ډول، چې وایي:

---

[1] ایضاء، ۲۶۹ مخ

[2] ایضا، ۲۶۹ مخ

[3] ایضا، ۲۸۹ مخ

"ګوره! ورمنډن په سکونت کې په عارف مسکین هغه دی، چې له غښتې قرار اوسي، نه دې غواړي زیات زما له حیاتي له بقایي له مال له ملکه، نه دې غواړي ب(پ) زما له توانګرۍ له عزیزۍ له قراري زما له خویه له راحت که غواړي هېڅ کله نه به مومي ته باور کړه په دا وینا، چې دی کلام."(1)

د مسکنت مقام د تفکر او انفسي سیر له مخې د بایزید وروستی او عالي پړاو دی، چې هغه ځان په هغه هستۍ کې محوه کړي، چې د هغه له شاه رګ څخه هغه ته نژدې دی. په دې مقام کې ددغه هستۍ او مسکین توپیر مسکین لپاره شرک دی.

ح : د سکونت مقام:

په دې مقام کې د سالک روح آرام مومي، غوږونه، سترګې، پزه، هرڅه د حرامو له اورېدو، لیدو او بویولو نه فارغ وي، یعنې بې له خدایه د هېڅ څیز احساس هم نه کوي. د سالک بدن که په ظاهر کې هرڅه کوي، اثر یې روح ته نه رسېږي. سالک ته حکم دی، چې تر مرګ دمخه ځان ووژني، روح یې په دې دنیا کې د بدن له قیده آزاد دی، بدن خو ځي او روح ساکن وي.

بایزید، چې ځان ته مسکین ویل، ځان یې د سکونت د مقام څښتن باله.

---

[1] ایضا، ۲۹۰ مخ

د معاصري ساه پوهنې او فلسفې له نظره صوفي په خپلو مقاماتو او په خپل انفسي سير کې د نفې او اثبات پراوونه طی کوي، خپل ځان په "زه" او واقعي هستی کې احساسوي. د بایزید روښان په مقاماتو کې لکه، چې دمخه مو ورته گوته ونیوله، د حقیقت په مقام کې د باطني (درونې) صفایی په لټه کې کېږي او د معرفت په مقام کې رومبنی مقام نفې کوي.

انساني ځانگړنې نفې کوي، پر نفساني شهواني، طمع او حرص پښې ږدي او نفي کوي یې. د وحدت په مقام کې له کثرت نه تېرېږي او هرڅه واحد وینې او د سکونت مقام په واقعیت کې هغه مقام دی، چې د هستی او نیستی ترمنځ موجودیت لري او هغه د هگل په قول د (کېدون یا شول) حالت دی. هگل وایي:"ژرنگه، چې هستي او موجودیت په زمان کې واقع دي، متحرک او د تغییر په حال کې دي، نو اضداد او تناقضات په خپل نفس کې لري. حرکت له یو پړاو نه بل متناقض پړاو ته له تېرېدو بل څه نه دی، د دیالکتیکي حرکت عمومي نظري شکل له دې پرته بل څه نه دی. لومړی "د هستی" پړاو دی او دا د اثبات مرحله ده. دوهمه د "نیستی" پړاو دی، چې د نفې پړاو دی او دریمه د "کېدون یا شون" (شدن) مرحله ده، چې ترکیب یا د هستی او نیستی مرحله ده. په دغه لړی کې په دغه پړاوونو کې د اثبات او نفي له مراحلو د "شول" مفهوم راووځي. صوفي دغه مفهوم په خپله شخصي تجربه کې په غور سره درک کوي. دا داسې مفهوم دی، چې په زمان کې واقع دی.

د لويديزې فلسفې او شرقي تصوف

په رښاکې د بايزيد روښان مقام

په دې برخه کې اړه ګڼو لرې څه د هګل د افکارو او شرقي تصوف په باب تأمل وکړو.

مهمه خبره دا ده، چې د هګل د معرفت بهير په ذهني او فردي حدودو کې، چې له لاک څخه تر کانت پورې زماني حدود کې پاتې دي، نه متوقف کوي، بلکې د معرفت پر عيني تظاهر باندې (په مدنيتونو کې د روح د تصاويرو په صورت او وروسته د علم ترحده لوړوالي) کې ورته پاملرنه

کوي. دا هغه دنده ده، چې لږ تر لږه د "معرفت د تیوری" په وړاندې مطرح ده. یعني د معرفت تاریخ په مشخص شکل په بیلا بیلو مدنیتونو کې لږ تر لږه د تحقیق وړ ده او په خپله سخت کار دی. مارکس وایي، چې په "هګلي انجیل" یعني فنومنولوژۍ کې لومړی فرد پر (عاقل) شعور بدلیږي او له نړۍ سره د (معقول) محمول په توګه مقابل کیږي، چې د هغه په برکت ژوند او تاریخ د شعور په مختلفو مناسباتو کې د هغه پر محمول بدلیږي.

هګل د پدیدې او تحلیل له لارې غوښتل خپله فنومنولوژیکه پوهه تینګه او مستدله کړي او خپل حکم، چې د "مطلق ایده" تینګه ستنه وه، د مثلث پر اساس ورته بدلون ورکړي، تز، انتي تیز او سنتیز داسې شکل دی، چې په نابشپړه توګه د کانت او په بشپړه توګه په ذهني ایدیالیزم کې ریښې لري.

دا حکم په دې ډول دی:

۱_ منطق،

۲_ طبیعت (انتي تیز)

۳_ دایده متحوله اشکال (د سنتز په ډول) مطلقه روح.

د هګل په عقیده دا "مطلق" روح دی، چې هرڅه د هغه نتیجه ده او د ټولو شیانو ترمنځ اړیکې د هماغه روح په واسطه امکان پیدا کوي. دغه جهاني عقل " یا "جهاني روح" (Wiltgeist) یا (مطلقه ایده) هغه څه دي، چې د نړۍ له

پیدایښت څخه یې دمخه موجودیت درلود او موجودیت یې د طبیعت په جهان پورې تړلی نه دی.

داسې ښکاري، چې د (مطلق روح) په باب د هګل عقیده، چې بې له شکه د هغه هدف تري خالق او واجب الوجود دی، دا دی چې دا ارواح په خپل "فیضان" سره په نړۍ کې "بدلیږي" او بیرته خپل اصل ته ورګرځي. د هګل دغه مفکوره یعنې د (فیضان) مفکوره د خدایي مبدا په ذهن کې ژوندۍ کوي. هګل "د فیضان"(*) مفکوره د آسماني عرفان او آسماني عرفان د قدس اکوستین او بیا هغه له فلوطین څخه اقتباس کړې ده. اړه ده دلته لږ شان ددغه متقابلو اثراتو په باب لږه رڼا واچوو.

وایي، چې "فلوطین" شرقي عقاید او فلسفه د هغه مسافرت په ترڅ کې، چې ایران ته یې وکړ، زده کړل. ایران ته د فلوطین د مسافرت په باب ځینو مورخینو او له هغه جملې

---

* فیضان یا فیض په لغت کې تویدل، ورکول او د زیات باران په مانا، په اصطلاح کې په زړه کې د هغه امر القاء ده، چې د الهام په ډول په زحمت سره حاصلیږي. حق تعالی د فیض یا فیضان مبدا

القدس او فیض مقدس.

فیض القدس: د ذات د اولیت پر اساس د هغه د تجلی مانا لري او د هغه ذات باطنیت څرګندوي.

فیض مقدس: هغه وجودي تجلی ده، یا د ځینو صوفیانو په عقیده آسماني تجلیات دي، چې د استعدادونو په مقتضی د ظهور موجب ګرځي او همدارنګه فیض واسطه، له مفهوم څخه هدف کامل انساني دی، چې د خلکو او حق ترمنځ واسطه دی.

مرحوم فروغي په خپل اثر سير حكمت كې كښلي:

"فلوطين په اسكندريه كې د امونيوس ساكاس په خدمت مشرف شو او له هغه سره د ملگرتيا له بركته يې فلسفه او عرفان زده كړل او ويې غوښتل، چې د ايرانيانو او هندیانو له حكمت سره آشنا شي. هغه ددې هدف لپاره د روم له امپراتور "گرويانوس" سره چې د اردشير ساسانې له زوی، شاپور سره يې جنگ و، ايران ته راغلی و."[1]

د نومورې اثر د ليكونكي په قول د فلوطين نورو پيروانو هم ايران ته سفر كړی، چې د فلسفې په تاريخ كې ثبت دی. ددغو مسافرتونو په باب ليكي:

"امپراتور ژوستينان د نوي افلاطونيانو يوه ډله فلاسفه د بت پرستۍ له لاملـه د خپل حكومت له قلمروه ولېږل. دغه پوهان ايران ته راغلل او د انوشيروان د كسرې په دربار كې يې ډېر ښه هركلی وشو.

د جند شاه پور سلطنتي مدرسه دوی ته ورکړ شوه، ډغه مدرسه يو ځل بيا د فلوطين او د هغه د ملگرو تر ستنېدو وروسته بلې ډلې ته، چې فارس ته لېږل شوې وه، ورکړ شوه او په حقيقت كې د اسكندريې حوزه جند شاپور ته ولېږدول شوه".[2]

---

[1] عميد زنجانی، تحقيق و بررسی در تاريخ تصوف. (تهران دارالكتب اسلاميه، ۱۳۴۶)، ۶۷ مخ

[2] ايضاء

PDF Compressor Pro

ددې ټکو له څرګندولو څخه زمونږ هدف دا دی، چې لږ تر لږه څرګنده کړو، چې پر لویدیزه فلسفه باندې د شرقي فلسفې او تصوف پر اثراتو سترګې نه شو پټولای.

په دغه فکري جریانونو کې یو ډول ورته والی او مشابهتونه لیدلای شو. دغه ورته والی مونږ په راوروسته فلسفي لیدتوګو او تصوفي بنوونځیو کې وینو. په هر حال اوس راځو اصلي مطلب ته.

د "برهمن" له نظره د ټولو موجوداتو منشاء واحده ده، څرنګه چې له اوره سپرغی الوځي، همدارنګه جزیي روح له کلي روح څخه منشاء اخلي او لکه څرنګه، چې د ټولو اوبو منشاء یو بحر دی، نو ټولې اوبه او باران که هر ډول دي، بېرته بحر ته ستنېږي.

په اسلامي فلسفه او عرفان کې هم "فیضان" لرغونی ماضي لري. شیخ اشراق هم په (غربت غرب) کې د روح دغه حرکت له یووالي څخه "بېګانه ګي" یا غربت ته تمثیل کړی دی. انسان له علوي نړۍ څخه، چې په شرق کې وجود دی، سفر پیلوي او په "سفلي" عالم ـ چې په غرب کې یې هستي بولي ـ د تن په زندان کې بندي شوی دی. دغه مفکوره په شرقي ذوق او خلاقیت کې ډېره ستره سرچینه شوه، چې په شرقي عرفاني ادبیاتو کې یې ځای پیدا کړ. اقبال وایي:

نعره زد عشق که خونین جگری پیدا شد
حسن لرزید که صاحب نظری پیدا شد
فطرت آشفت که از خاک جهان مجبور
خود گری، خود شکنی، خود نگری پیدا شد
خبری رفت گردون به شبستان ازل
حذرای پر دلیان، پرده دری پیدا شد
آرزویی خبر از خویش به آغوش حیات
چشم واکرد و جهان دگری پیدا شد
زنده گی گفت که در خاک تپیدم همه عمر
تا از این گنبد دیرینه دری پیدا شد.

زیاتره صوفیان د "فیض اقدس" او "فیض مقدس" په باب خبري لري. فیض اقدس یا ازلي قضا او د اشیاوو ثبوت دی، خو د هګل په نظر "مطلق روح" مشخص او عیني دی، د شعور په تحلیل سره روح خپل ځان کشفوي او د طبیعت، انسان او تاریخ ماهیت توصیفوي او د هغه د پراختیا او انکشاف په اثر تاریخ منځ ته راځي.

هګل وایي: فلسفي فعالیت د "حقیقت" د منځ ته راتلو سبب کیږي. هغه څه، چې دا حقیقت نفي کوي، خطا دی. خو هیڅ شی مطلقه خطا نه ده. د فکر حرکت مخ په وړاندې خپله رومبی مرحله نفي کوي، خو دا نفي هم په مطلقه مانا نه ده، بلکې د تیر حالت رفع او ارتفاع ده یعنې خطا رفع کوي، خو د حقیقت مجموعه د نوې "ارتفاع" پرېږدي او نه بولي.

په دي ډول فلسفه يو "تاريخي" او "نسبي" ليد دی، ځکه حقيقت هر وخت د نوسان په حالت کې دی او د فلسفې تاريخ د حقيقت تدريجي او دايمي راسپړنه ده. په تاريخ کې او پخپله د کلی روح فعال ارخونه دي، چې مطلق روح واحد او يوازينی جوهر اساسي مقوله ده. ټول او هرڅه د هغه په لوري اړه لري او هغه ته ببرته ورګرځوي او يوازې يو روح دی، چې د ټولو شيانو څرګندوی دی. هګل هم په مونيزم (د نړۍ په يووالي) معتقد دی، خو اسلامي عرفان پر توحيد عقيده لري، نو په دې ډول نتيجه اخيستلای شو، چې دا دواړه سره توپير لري او د هګل مونيزم له عرفاني وحدة الوجود سره تشبيه کول يوازې د کار اسانول دي.

خو د مولوي دا نفي د يو عارف په توګه هم مطلقه نفي نه ده، بلکې د تېرو حالتونو نفي ده، چې وايي:

از جمادی مردم و نامی شدم
و زنما مردم ز حيوان سر زدم
مردم از حيوانی و آدم شدم
پس چه گويم که ز مردن گم شدم
بار ديگر از فلک پران شوم
و آنچه اندروهم ناید آن شوم...

د صوفيانو او له هغه جملې د روښان په افکارو کې همدا حقيقت يعنې په زمان کې د هستی موقعيت ډېر په زړه

پوري دی. که صوفي له مقاماتو خبرې کوي، په دې مانا ده چې د زماني په پروسه کې خپل موقعیتونه او مقامونه وینې او تجربه کوي. پرونۍ ورځ شاته پرېږدي، نفې کوي یې، څټ ته نه ګوري، هغه د نن په مقام کې موقعیت لري او هغه هم د نفي په حالت کې دی. د راتلونکي په لور ګام ږدي، صوفي د زمان او هستۍ په واقعیت کې حقیقت لټوي.

بایزید روښان هم د نورو شرقي اسلامي متصوفینو په څېر هېڅ بیروني قدرت ته نه تسلیمېږي. د یوه پوه په قول د شرق صوفي او لویدیځ انسان دواړه د پرومته د ارمان لاره غوره کړې او په دوو اساسي ټکو کې سره د عمل او نظر اشتراک لري:

" لومړی دا چې: دواړه سرنوشت ته نه تسلیمېږي، بلکې ورسره پنجه وهي، هېڅ بیروني اقتدار نه قبلوي او د لاسبرو سیاسي، مذهبي، قدرتونو په وړاندې عصیان کوي. د خپلې ارادې په قوت او ځانګړتوب سره هڅه کوي، چې په خپله د ژوند او هستۍ مانا پیدا کړي او یا یې ایجاد کړي. دواړه د مانا هستوونکي او ایجادوونکي دي او د مانا د پیدا کولو او ایجادولو په هڅه کې ځان مومي او ځان هستوي.

دوهم: دواړه لوړ مقام ته د رسېدو هیله لري، چې هدف هماغه په کمال کې د خپل شعور تحقق دی او دغه تحقق د رباني طبیعت انفجار او انفلاق دی، چې په انساني

موجوديت کې ترسره کېږي."([1])

سره له دې، چې بايزيد روښان د نورو متصوفينو په پرتله په خپل کار کې ډېر ببرنډی او د پښتنې کرکتر له مخې له وخته دمخه عصيان کوي، خو بيا هم پورتنی يادشوی حالت يې په اړه صدق کوي.

د حالنامې مولف (بشپړوونکی) د بايزيد روښان په باب دا ټکي جوتوي، چې د نومورې ټول موجوديت ته ټکان ورکوي:

"و هر که هستی خود را از هستی من جدا شمارد اعمی است و در هر عدد دليل احد است و در هر عدد که دليل احد نه بيند اعمی است. در هر مخلوق دليل خالق است، هر که مخلوق را بی دليل خالق بيند اعمی است. در هر حادثه دليل قديم است، هر که حادث بی دليل قديم است، هر که حادث بی دليل قديم بيند اعمی است و در هر مزروق دليل رازق است هر که مزروق را بی دليل رازق بيند اعمی است."([2])

بايزيد روښان د وحدت په سير کې همدغه ډول مکاشفې ته رسېږي، هرڅه نفي کوي او يوازې يو واحد ذات ثابتوي.

"و چون پير دستگير قدس سره از بحر محيط خبر شد تن

---

[1] سيد بهاوالدين مجروح "پيام صوفی بت شکن به بت پرستان قرن بيستم" ادب، (کابل: پوهنځی ادبيات و علوم بشری، ۱۳۵۵)، ۲۶مخ؟

[2] علي محمد مخلص، حالنامه، ۳۶ مخ

خـود را و جملـه عـالم را بـه مثـل مـاهی بـه چشـم در آن بحـر اعظـم غـرق میدیـد و چـون مـاهی در آب و آب در مـاهی مشـاهده مینمـود بـدان کـه چـون مـاهی نفـس کشـد در بحـر روان و آب دریـا بـا نفـس در رود و چـون نفـس بـرارد و آن آب همـراه نفـس برآمـده بـه آب دریـا محلـق شـده روان گـردد. همچنـین بـار دگـر بـا نفـس درآیـد و برآیـد. هـم بـر ایـن منـوال دیـد کـه از دریـای محـیط آب حیـات کـه ممدزنـده گـانی ابـدان اسـت در مـی آیـد و موجـب حیـات و قیـام اجسـام گشـته بـاز رجعـت نمـوده.... و محـو ذات نامتنـاهی میگـردد. بـار دیگـر آب دریـا و محـیط سـبب حیـات و قیـام قالـب میشـود و همـراه ایـن آب در جـوی قالب جاریست."([1])

حالنامه وروسته وايي:

"و چـون پیـر دسـتگیر قـدس سـره از خـود نیسـت و فـانی گشت، هستی خود را با هستی حق یکی و باقی دید..."([2])

منصـور حـلاج هـم دې پـرې تـه ځـان رسـېدونکی بالـه او بایزیـد روښـان هـم، چې خلـک او مریـدان پـر ځـان راټولـول، پـه واقعیت کې د رباني انفلاق او انفجار په پرې کې وو.

نومـورې هغـه کسـان، چې د توحیـد لاره یـې نـه غـوره کولـه، مشرکان او کافر ګڼل.

کلـه چـې هغـه ذوه واړې د سـید علـي ترمـذي او د هغـه لـه

---

[1] همدغه ځای

[2] هماغه اثر، ۵ مخ

مريد اخوند دروېزه سره بحث کوي، دويم وار بحث هم بې نتيجې پاى ته رسېږي او درېيم وار د هغه د وژلو او له منځه ورلو قصد کېږي. بايزيد روښان له هغه ځايه ځان ژغوري. د درېيم وار بحث په نتيجه کې اخوند دروېزه د سيد علي ترمذي له قوله وايي:

"ايضا بعد از آن جماعت کثير از مسلمانان يوسفزى با خود همراه برديم اما اين ملعون حاضر نيامد چه از خجالت ميترسيد پس حضرت شيخنا فرمود که چون اين ملعون خود را، بل اتباع خود بمراتب منصور حلاج رسانيده ميداند، بايد که اين مشکل قول منصور حلاج بکشايد و روشن کند..."[1]

منصور حلاج هم د خپل سير و سلوک په پراوونو کې دې نتيجې ته رسېږي، چې:

"حقيقه المحبه قيامک مع محبوبک بخلع او صافک والا نصاف باتصافه" يعني د عشق حقيقت دا دى، چې د دلدار په څنګ کې ودرېږې، له خپلو صفاتو تېر شې او د هغه په صفاتو موصوف شې.[2].

منصور حلاج په دې معتقد دى، چې کله انسان خداوندي وحدت اظهاروي، خپله خودي تاييد او

---

[1] اخوند دروېزه، تذکرة، ۱۵۲ مخ

[2] لوى ماسينيون، قوس زنده گي منصور حلاج، "ترجمه روان فرهادى"، چاپ دوم، (تهران: کتابخانه منوچهرى، ۱۳۵۸)، ۱۹ مخ

تصديقوي، نو د خپلې خودې تصديق په ماهيت کې له خدايه سره يووالی دی.

د پير روښان مخالف ترمذي هم په نومورې دا تور لګولی دی، روښان منصور حلاج ته نږدې دی.

عبدالقدوس قاسمي، چې د اخوند دروېزه له پيروانو څخه دی، ليکی:

" د هغې دوو بحثونو تفصيل اخوند درويزه صاحب نه دی ليکلي، خو دومره وايي، چې نور عالمان دده د عقلي استدلال په جواب کې عاجز وو. مونږ په عقلي او نقلي دلايلو دې ملزم کړو. اجمالاً دا هم بيانوي چې ددې مناظر و موضوع يوه د شفاعت مسأله وه، ځکه چې دی د شفاعت نه منکر و او بل د "همه اوست" مسأله وه، ځکه چې ده به د حسن بن منصور حلاج غوندې انالحق دعوی لرله."[1]

دا بېله خبره ده، چې آيا بايزيد روښان به د ترمذي او دروېزه اخوند د دلايلو په وړاندې عاجز و او کنه ددې خبرې تناقض، صحت او سقم له پورتني قول څخه هم جوتېږي.

خو د روښان او حلاج په فکري جوړښت کې يوازې دومره توپير بربښي، چې منصور حلاج پر چا باندې د شرک حکم نه کوي، بلکې خپله لاره تعقيبوي، خو بايزيد پر افرادو باندې د شرک له حکم نه پس په ډېر احتياط چلند کوي او

---

[1] مولانا عبدالقدوس "د بايزيد روښان مذهبي افکار" پښتو مجله، دوهمه گڼه، (پېښور: پښتو اکاډيمی، ۱۹۶۹)، ۷۵ مخ.

زیات د خپلې عقیدې او رایې اظهار نه کوي. محافظه کاره کېږي، خو منصور حلاج خپله نعره په جهر وایي.

* * *

معاصر فیلسوف سارتر هم دا ډول عقیده لري، چې د انسان د هستۍ په ژورو کې د علو هیله ځای لري. انسان غواړي په نهایت کې له هرڅه لوړ وي. په ټولو نړۍ لیدونو کې د انسان او خدای د اړیکو مسأله ځای شوې ده او که لږ غور وکړو، دغه مسأله په دوه ډوله مطرح ده. یوه دا چې انسان هیله لري، چې پخپله رب النوع اوسې او یا دا چې د واجب الوجود مریی او بنده وي. دغه مسالې په انساني ټولنو کې دوه ډوله فرهنګ ایجاد کړ. په دې ډول، چې:

انسان د رب النوع کېدلو پر فرهنګ متکی وي او بله دا چې د انسان اتکا د بنده ګۍ پر فرهنګ وي. دغه دوه ډوله فرهنګ دوه بېلابېل او متضاد طرز فکرونه، نړۍ او جهانونه ایجاد کړي دي.

لومړی ډله هڅه کوي اوسنۍ نړۍ، طبیعت او ټولنه خپلو عالي مدارجو او کمال ته ورسوي. همدا یې اساسي هدف ګرځي، خو دویمه ډله د بنده ګۍ ډله عالم، نړۍ او طبیعت موقتي او د لږ وخت لپاره او ژوند وسیله ګڼي او په بله نړۍ کې انساني کمال او بهتره دنیا ځان ته ګوري.

په دغو دواړو برخو کې زیات مثالونه شته په اساطیرو کې

"وايـي چـې پرومتـه غوښتـل د اربـاب الانـواع پـه قـدرت او وس وپوهنـې او لـه هغـو سـره سـيالي وکـړي. بـالاخره پـه دغـه رمـز پـوه شـو او اور يـې د خـدايانو لـه خـدای "زوس" څخـه پـټ کـړ. د اربـاب إلانواعـو رب النـوع "پرومتـه" پـه کـار پـه قهـر شـو، امـر يـې وکـړ چـې پـه سـمندر کـې يـې پـه يـوې سـترې پـرځې پـورې وتـړي او شـهباز تـه يـې امـر وکـړ، چـې د هغـه ځيگـر تـر ابـده څيـرې کـړي، خـو پرومتـه پـر ټولـو اربـاب الانـواع باانـدې لعنـت وايـه. يـوه ورځ د اربـاب الانواعـو د مشـر اسـتازی هـرمس د هغـه ليـدو تـه ورغـی، پرومتـه ورتـه وويـل: ای هـرمس! د عـذاب پـه دغـه سـختو شـيبو کـې دې تـه حاضـر نـه يـم، چـې خپـل برخليـک سـتا د خوښيـو او خوشـاليو پـر برخليـک باانـدې بـدل کـړم. زه خـوښ يـم چـې پـه همـدغې ډبـرې پـورې تـر ابـده تـړلی اوسـم، نـه دا چـې سـتا د وفـا داره اسـتازي پـه څيـر د خـدايانو د خدای بنده اوسم".(1)

د نـړۍ پـه معاصـرو ادبيـاتو کـې هـم دا مثالونـه ليـدلای شـو. نيچه وايي:

"کـه واجـب الوجـود موجـود وي څرنگـه امکـان لـري، چـې زه يـو لـه هغـو څخـه نـه اوسـم." يـا دا چـې:" افسـوس پـر هغـو کسـانو چـې عاشـق دی، خـو نـه شـي کـولای پـه خپـل تـرحم لاسـبری شـي. يـوه ورځ راتـه شـيطان وويـل: ان رب النـوع هـم د ځـانگړي جهـنم

---

[1] سيد بهاوالدين مجروح، ادب، (کابل: ۱۳۵۵)، ۲مخ.

لرونکی وی. د هغه جهنم له بشر سره د هغه زښته زیاته مینه ده او اوس مې واوریدل، چې ویل کیږي واجب الوجود له بشر سره د ترحم په نتیجه کې له ژوند سره مخه بنه وکړه."(۱)

داستایوفسکي مشهور لیکوال په خپل مشهور شاهکار برادران کارامازوف کې د خپل قهرمان له خولې لیکي:

"ایوان په قهر وویل:

_ آیا واجب الوجود شته که نه.؟

_ نو، آه جدي ده. گرانه واجب الوجود مې شاهد دی، چې خپله هم نه پوهیږم.

_ ته نه پوهیږې، چې له دې ټولو سره بیا هم واجب الوجود وښیي، ته خارجي وجود نه لرې، ته خپله زه یم او نور هیڅ. ته یوازې زما د خیال سیوری یې.

او یا به بنه وي چې ووایي مورږ د یو ډول فلسفي افکارو لرونکي یو.

"فکر کوم، نو یم". په دې برخه کې باور لرم، حال دا چې د نورو په باب او د هغه څه چې زما په شاوخوا کې دی او دا ټول موجودات واجب الوجود او شیطان، باور نه لرم، ځکه ماته ثابت شوې نه ده، چې هغوی شته او که یا زما د تصور زېږنده دی او یا زما د شخصیت تدریجي پالنې ته وایي، چې یوازې او له زمان څخه مستقل وجود لري...

۱ـ چنین گفت زردشت. قسمت دوم (تهران، ۱۳۵۱)

خو له دي زيات څه نه وايم، ځکه تصور کوم چې ته به ما ووهي."([1])

داستايوفسکي په خپل دغه مشهور اثر کې د خپل قهرمان په خوله ايوان کارامازوف له خوا د دويم شخص يا شايد شيطان له خولې، چې د هغه په تن کې دی اليوشاته وايي:

"وجدان! وجدان څه شی دی؟ ما پخپله وجدان منځ ته راوړی دی، نو د څه لپاره ځان وزوروم (د عادت له مخې، د هغه عادت له مخې چې له اوه زره کالو راهيسې يې په بشر کې ځای نيولی، نو دا عادت بايد پرېږدو او واجب الوجود اوسو."([2])

سارتر په دې برخه کې اوږد تفصيل لري:

وايي: انسان هغه موجود دی، چې د رب النوع هيله په سر کې لري. هغه د هستی او نيستی د اثر په پای کې دا عبارت په بله ژبه بيانوي. د انسان آرزو د مقدساتو په مخالف جهت کې ده.

انسان د انسان په توګه ځان هېروي، چې له دې لارې له ځانه رب النوع جوړ کړي. دا عبارت په دې مانا دی، چې انسان له هغه موجوديت څخه، چې په داسې شرايطو کې يې

---

[1] داستايوفسکي. برادران کارامازوف. "د مشفق همداني ترجمه" (تهران: جاويداهن، ۱۳۴۴)، ۷۸۷ مخ.

[2] ايضاء، ۸۰۰ مخ.

لـري، ناراضـي دی او لـه هغـه موقعيتـه چـې لـري خپـه دی. پـه دې ډول د زيـات کمـال پـه لټـه کـې دی او هيلـه لـري، چـې ځـان کمـال تـه ورسـوي. دا کمـال څـه شـی دی؟ دا کمـال د واجـب الوجـود وجـود دی، چـې مطلـق او کامـل دی، خـو انسـان پوهيـږي چـې د رب النـوع هيلـه پـه سـر کـې بـې ځايـه ده پـه دې ډول هڅـه کـوي چـې ځـان کمـال تـه نـږدې کـړي او ددې لپـاره هڅه کوي له بديو او چټليو ځان وژغوري."

کـه مـوږ تصـور وکـړو هغـه څـه، چـې ارزښـت لـري پـه نـړۍ تملـک دی او يـا کـه فکـر وکـړو، چـې اعمـال لـه مخـه تاکـل کيـږي او زمـوږ سرنوشـت ليکـل شـوی دی، نـو پـه مـاتې او فنـا محکـوم يـو، خـو هغـه څـه چـې څرگنـد او سـم دي پـه دې ډول نـه دي او زمـوږ اعمـال لـه مخـه نـه دي تاکـل شـوي، ځکـه کـه زمـوږ سرنوشـت لـه مخـه تاکـل شـوی وی، زمـوږ تـولې هڅـې بـه د نيـک مرغـۍ او کمـال پـه خـاطر بـې ځايـه وي حـال، دا چـې پـه څرگنده يې وينو، چې داسې نه ده.

ايـريس مـوردوک، چـې د ژان پـل سـارتر پـه افکـارو کـې يـې څېړنې کـړي، ددغـې موضـوع د تحليـل پـه تـرڅ کـې دې نتـيجې ته رسـيږي ليکي، چې:

"سـارتر مـوږ تـه تشـريح کـړې ده چـې څرنگـه کـولای شـو ځـان لـه دغـه تنبـل او هـوس پـال نفـس څخـه وژغـورو. هغـه لاره چـې نومـوړی يـې وړانـديز وي، هڅـه او فعاليـت دی داسـې هڅـه او فعاليـت چـې له عالي او فوق العاده هدف سره يوځای دی."([1])

[1] ايريس موردوک، ژان پل سارتر، "ترجمه مهدی افشار" (تهران: کاويان، ۱۳۵۲)، ۱۰۹ مخ.

له پورتني بحث څخه څه پوهيدای شو؟

بايزيد روښان په خپل فکري، فلسفي او عرفاني سير کې يو صوفي او عارف دی، خو داسې صوفي نه چې د کوټې او جومات په کونج کې کښني او رياضت او چله وباسي، بلکې له شور، وجد او عصيان څخه دی. هغه د نورو سترو متصوفينو په څېر د خپل طريقت اتم پړاو ته ځان رسوي او هلته مسکنت غوره کوي. نومورې خودپرسته شعور د افراط ترحده قرباني کوي. هغوی چې د نومورې په حالت کې نه دي، مشرکان يې بولي، ځکه د توحيد لاره يې نه ده غوره کړې، خو په بل پړاو کې چې کله له کوره ووځي او هجرت کوي، خپلې لارې ته يې فکر کېږي او له تأمل او غور څخه کار اخلي.

بايزيد د مذهبي فرقو، سياسي قدرتونو او مستبدو حاکمانو په وړاندې عصيان کوي، خو د نومورې عصيان يوازې په تش لاس نه دی، بلکې هغه له عصيانګرو څخه لنبکر جوړوي او د هغه د لنبکر موجوديت د هغه هدفونو ته د تحقق په لاره کې مبارزې ته دوام ورکوي.

د بايزيد روښان فکري طرز لکه، چې دمخه ورته اشاره وشوه د شرقي متصوفينو له کوم يوه سره په بشپړه توګه نه شي ترسره کېدلای، ځکه هغه د هندي فرهنګ اغېزې پر ځان لري. د اسلامي مدنيت د عصيانګرې فرقې اسماعيليه

اغېزې پرې شته، د پښتنې ټولنې د فرهنګ تاثيرات له ځانه سره لري. په دې دول ځينو څېړونکيو، چې د هغه فرقې ته (يې) خاصه روشنيه فرقه ويلې، بې مورده نه ده. په دې اساس د هغه د افکارو څېړنه بايد په ټولو اړخونو کې ترسره شي، نه په يوه حکم سره.

په عرفاني او فلسفي لحاظ بايزيد روښان د اسلامي مدنيت او فرهنګ پښتون نماينده دی. هغه په پښتنې ټولنه کې د يو عارف او صوفي په توګه تفکر او تأمل کړی دی. که په نورو ټولنو کې د هغو متفکرينو او فلاسفه وو مسايل مطرح کړي، بايزيد روښان په پښتنې ټولنه کې د انساني موجوديت په باب د خپل دوران مسايل د يوه صوفي او عارف په توګه مطرح کړي، خو د وخت ستونزو او سياسي شخړو په خپله ده ته زياته موقع نه ده ورکړې، چې زيات فکري کار او هلې ځلې وکړي او پر هغه څه، چې فکر کوي هغه د زياتې پخوالي درجې ته ورسوي.

PDF Compressor Pro

له اسماعيليه عقايدو سره د بايزيد روښان د عقايدو پرتلنه

د درويزه اخوند له خوا پر بايزيد روښان باندې د اسماعيليه عقيدې اتهام او يا هغه ته منسوبول څه نوې خبره نه ده. په زياتو څېړنو او ليکنو کې ورته محض اشارې شوې دي. دغه "انتساب" يو خو د بايزيد روښان د سرسخته مخالف اخوند دروېزه له خوا شوی او له بلې خوا د بايزيد روښان په خپلو آثارو کې هم په دې باب مطالب موجود دي. د اخوند دروېزه په آثارو کې په دې باب په زړه پورې مسايل

بيان شوي دي. کېدای شي نومورې دغه عقيده له بايزيد روښان سره د مباحثې په نتيجه کې پخه کړې وي، مونږ په بله برخه کې په دې باب خبرې کوو.

خو کله چې د بايزيد روښان په آثارو کې پلټنه کوو، دغه ډول طرز فکر تر زياته حده په حالنامه کې جوت او څرګند شوی دی. مولينا عبدالقدوس د بايزيد روښان په باب په خپلو څرګندونو کې مخالفې او موافقې نظريې تبويب کړي دي. يوه يې د اخوند دروېزه او د مغلو مؤرخينو نظريه ښودلې. بله يې د استاد قيام الدين خادم نظريه، درېيمه يې خپله نظريه چې نسبتاً "غير جانبدارانه" يې ښودلې ده. خو کله چې د ډاکتر محمد شفيع د رسالې په باب، چې "بايزيد انصاري" نومېږي او د انګرېزي انسايکلوپيډيا اف اسلام په نوي ايډېشن کې خپره شوې، ليکنه کوي، دې ټکي ته ګوته نيسي چې د ډاکتر محمد شفيع نظريه ځکه ډېره غير جانبدارانه ده، چې هغه ته د بايزيد روښان لومړني ماخذونه يا آثار لاس ته ورغلي دي او د هغې پر استناد يې کښلې ده. هغه ليکي:

"د ډاکتر محمد شفيع صاحب مضمون ډېر وزنې په دې دی، چې ده ته د بايزيد مقصود المؤمنين او حالنامه دوه نوي کتابونه دستياب شوي دي او د حالنامې نه ده ډېر معلومات اخذ کړي دي."(۱)

---

۱ محمد شفيع "بايزيد انصاری"، پښتو مجله (پېښور: پښتو اکېډيمی، ۱۹۵۹)، ۱۹ مخ

په دې دوله په تاکلې برخه کې د بایزید روښان د عقیدې د روښانتیا لپاره د هغه د خپلو آثارو لکه مقصود المؤمنین، فخرالطالبین او خاص دوله حالنامه او نور عمده آثار دي. باید یاد کړو، چې څو کاله دمخه د بایزید روښان په نړیوال سیمینار کې چې په کابل کې (۱۳۵۴کال) جوړ شوی و او مقالې یې د "روښان یاد" په اثر کې چاپ شوي دي، په هغو مقالو کې هم په دې باب کومه جوته او څرګنده یادونه نه شته.

له نیکه مرغه اوس، چې د حالنامې اصل متن په لاس کې دی، هیله ده چې نور آثار هم ترلاسه شي، نو په زغرده ځینې ادعاوې په دې اګه کولای او ځینې ردولای شو. د موضوع د بنه تحلیل لپاره به هڅه وکړو د بایزید روښان د "باطنیه" عقیدې په باب د اخوند درویزه د خپلو آثارو پر استناد په سیده او ناسیده توګه څرګندونې او له هغه وروسته لومړی د اسماعیلیه عقایدو لنډ جاج او بیا د بایزید روښان په آثارو کې د هغو اثرات وڅېړو.

PDF Compressor Pro

اخوند دروېزه او د بايزيد اسماعيله يا "باطنيه" افكار

كله چې د بايزيد روښان په باب د اخوند دروېزه عكس العمل وينو، حتماً دا ذهني تپوس رامنځته كېږي، چې نومورې ولې په دومره ستغه ژبه او ناوړه كلمات و د بايزيد روښان نوم يادوي. حال دا چې د بايزيد روښان په ټولو آثارو كې هېڅ كله چاته مشخصې بدې رڼې نه شته، بلكې له عامو مسايلو سره چلند كوي. خو دروېزه هڅه كوي، چې په خپلو آثارو كې د بايزيد روښان د اسماعيليه عقايدو په ارتباط غير علمي، غير مستند او ناروا تورونه ولگوي.

اخوند دروېزه هم په تذكرة الابرار او هم په مخزن كې د پيير روښان په اړه ناوړه كلمات استعمالوي او هم زيات

عقيدتي شيان پري يا خو تور لگوي او يا يې ورته منسوبوي. يو له هغه انتسابونو څخه د "اسماعيليه" او "باطنيه" عقايدو په ارتباط مساله ده، چې بايزيد روښان ته نسبت کېږي، خو هم په مخزن او هم په تذکره کې د بايزيد روښان په باب ځيني ضمني مطالب شته. د مثال په ډول کله يې د علميت په باب خبرې کوي، کله يې يو عامي سړی بولي، وايي چې د هغه د اثر خيرالبيان جملې او عبارات سم نه دي او کله يې د زهد او رياضيت په باب خبرې کوي، خو په دې ترڅ کې د اخوند دروېزه ړوند تعصب او د وګماتېزم هم جوتېږي. کله چې نومورې د بايزيد روښان په باب خبرې کوي، هغه د اهل سنت او جماعت او اهل تشيع په باب هم څه وايي. هغه په بېرحمانه ډول اهل تشيع غندي او هغوی اباحتي بولي. وايي:" و در معرفة المذاهب است، شيعه علی را از اصحاب ديگر افضل دانند و هر که علی رضی الله عنه را از ديگر اصحاب دوست تر ندارد او را کافر گويند. انتهی کلام و در مجموع ملکی آورده است. بدانکه مذهب اباحت ديرينه است مخفی بود..."[1]

اخوند دروېزه په جدي توګه د اهل تشيع مخالفت کوي او په دې باب مفصل بحث کوي. دغه راز نومورې په ډېر مهارت او زيرکۍ سره په يوه مجلس کې د ښځو او نارينه وو

[1] اخوند درويزه، تذکرة الابرار والاشرار، ۷۳ مخ

PDF Compressor Pro

یوځای کېدنه غندي، لکه چې د قبایلي پښتنو په فرهنګ کې دود نه ده او د مشهور اسماعیلیه رهبر حکیم ناصر خسرو بلخي په باب یو حکایت راوړي لیکي:

"... نقل است که چون ناصر خسرو علیه الرحمه زنان را و مردان را در جمعیت و در ذکر جلی میفرمایند. خواجه از خواجه های ترک بدو نوشته، چونکه خلاف شریعت بجا آوردید، آتش را با پنبه جمعیت نمی باشد، مگر به فساد یکدیگر که این هنگام حضرت ناصر خسرو صندوقی تراشده و پنبه و آتش را در ان بالای یکدیگر ته ترته نهاده روان کرده و نوشته که نظر مردان این قدر تاثیری دارد که آتش با پنبه فساد و عناد نمی ورزد..."([1])

یاد شوی حکایت ددې لپاره راوړی شوی، چې ځینې کسان خپل نسب علي رض کورنۍ ته رسوي، سره له دې چې کرامات به ولري، خو نوموړی تړې داسې نتیجه اخلي، چې سمه او پرځای لاره په اهل و نسب نه، بلکې د سنت جماعت په لاره تینګار کول دي.

دغه راز نوموړی د شرق نامتو پوه او فیلسوف شیخ الرئیس ابوعلي سینا، چې پلار یې د اسماعیلیه فرقې مشهور داعي و، د پوهې او علم په برخه کې مثال راوړی. لیکي:

---

[1] همدغه ځای

" و ایضا سعادت صراط المستقیم بر علم نیست چه شنیده باشی که بوعلي سینا امام اهل منطق بنهایت علوم رسیده بود اخرالامر رفت و این بایزید نیز قدر تحصیل کرده بوده به آیت باری تعالی موقوف بر فضل و عطا اوست."([1])

نومورې د بایزید روښان د پیرې په مقابل کې د علم او فضیلت مقام هم غندي او وایي، چې ابن سینا هم دېر عالم او فاضل شخصیت و، خو همداسې لاړ.

د اخوند دروېزه لپاره زهد او ریاضت هم اساسي مسأله نه ده، په تېره ذ بایزید روښان په باره کې هغه ددې بعد او اړخ درلودلو او غندلو لپاره شیخ صنعان(*) مثال راوړی او لیکي:

"... اما اکثرا این مردم اهل صلاح و اهل علم میباشد، اما چون هدایت باری تعالی موقوف بر انساب نیست چه اکثر اولاد پیغمبران کافر شده... و ایضا شرف راهی است راست، موقوف بر صلاح و زهد عبادت نیست، چه قصه شیخ صنعان را شنیده باشی که در ریاضت چه جهد ورزیده و کافر رفته و این پیر تاریک در بد(و) احوال چه ریاضت

---

[1] همدغه اثر، ۱۳۷ مخ

* شیخ صنعان، چې د شیخ عطار په منطق الطیر کې یې یادونه شوې، دېر زاهد او متفي سړی و، چې کله یې په یوه ترسایي نجلۍ زړه باېلود، نو دین او ایمان یې له لاسه ورکړ، شراب یې وخوړل او قرآن یې وسېزه. زنار یې وتاړه او خوګبانی یې کوله. د دوستانو د دعاو له برکته هوشیار شو او له معشوقې یې لاس واخیست بیا نجلۍ په هغه پسې راغله او د هغه دین یې قبول کړ.

اختیار کرده بود آخر الامر به کفر دور افتاد..."[1]

اخوند دروپزه په ټولو آثارو کې د بایزید روښان پر ضد د تبلیغ مسأله نه ځنډوي، بلکې دوام ورکوي. نومورې په مخزن کې هم لیکي:

"اما بعد از حصول مبلغ از علم از روی به سوداگری نهاده تا از سمر قند دو اسپ آورده و به هندوستان برده و چون در موضع کالنجر رسید او را با ملا سلیمان ملحد ملاقات افتاده تا بعد از صحبت و مجالست همدیگر خیالات فاسده و خطرات ناموجهه در دل او متمکن ساخته بحدی که بایزید را کافر مطلق و منکر دین حق گردانید..."[2]

نومورې د خپلو انتساباتو په لړ کې زیاتوي:

"...و عوام الناس را دعوت نموده و گفته که بی پیر کامل بخدای راه نیست. پس بیاید من شما را به خدای برسانم، واتیه واتبعوالیه الوسیله را تا ویل مینموده که وسیله بخدایی پیر است...

القصه این ملحد بسیار در باب طلب پیر رسالها نوشته و آیات را محض غلط و غیر محل تاویل میکرده و احادیث مفتریات خود تراشیده در آن درج کرده..."[3]

---

[1] اخوند درویزه، تذکرة الابرار والاشرار، ۱۳۷ مخ

[2] اخوند درویزه، مخزن (پښتو اکېډیمی، پېښور، ۱۹۶۹)، ۱۲۲مخ

[3] اخوند درویزه، مخزن، ۱۲۲ مخ

په زړه پوري خبره دا ده، چې سمرقند ته د اسونو په سوداګرۍ پسې د بايزيد روښان تګ او له هغه ځايه د اسونو رانيول او په هند کې پلورل، دې ټکي ته هم زمونږ پام رااړوي، چې سمرقند په هغه وخت کې د منځنۍ اسيا ستر بنسټار او د اسلامي مدنيت او فرهنګ يو عمده مرکز و. اسلامي علومو، فلسفې، منطق او نورو علومو پکې رواج درلود. ابن سينای بلخی هلته تګ راتګ او شپې ورځې سبا کړې وې. د اسلامي نړۍ زياتو مشهورو پوهانو او فلاسفه وو نفوذ درلود.

له بلې خوا د تاويل په باب د بايزيد روښان د عقيدې اظهار او څرګندونه هم بې له څه نه ده. کېدای شي بايزيد روښان اسماعيليه افکار يا له ملا سليمان څخه او يا په هند کې (لکه چې د خراسان د جزيزې حجت ناصر خسرو هم د هند په ملتان بنسټار کې اسماعيليه فرقې لپاره تبليغ کړی و(*) او يا د نورو زده کړو او تاثيراتو په نتيجه کې دا عقيده ګرځولې وي. په هر صورت د تاريخ مرصع ليکونکی هم دغه ډول اظهار نظر د اخوند دروېزه له قوله کوي.

خو هغه څه، چې په دې برخه کې څو شېبې دمخه وويل شول يعنې د بايزيد روښان په افکارو کې "باطنيه" او اسماعيليه اثرات، ددې ټولو ټکو او مطالبو عمده ماخذ

---

* ميخائيل. ای.زند په نور و ظلمت در ادبيات ايران په ۹۱ مخ کې ليکلي، چې ناصرخسرو د هند په ملتان کې اسماعيليه فرقې ته رااوښتی و.

اخونـد دروېـزه و. کېـدای شـي اخونـد دروېـزه دا خبـره ددې لپـاره هـم غځـولې او کېـش کـړې وي، چـې د "اهـل سـنت" او د افغانـانو په ټولنـه کـې ښځـې مسـتورې وي او لـه نارينـه وو سـره يوځـای ناسـته نـه کـوي او نـور مطالـب... چـې د بايزيـد روښـان د ناسـتې ځـای ورک کـړی او خلـک د هغـه پـر ضـد راحريـک کـړي. د خونـد دروېـزه ادعـاوې پـه دې برخـه کـې تـر ډېـره حـده پـورې په هغـه ليکنـو او څېړنـو کـې، چـې د حالنـامې لـه بيـا ځلـي چـاپ او تکثيـر څخـه دمخـه شـوې وې، هسـې تهمتونـه بلـل شـوي دي او يـا د هغـه ذاتـي دښمنـي توجيـه شـوې ده، خـو زمـوږ تنـده پـه هسـې خبـرو او بـې ځايـه تورونـو لګولـو نـه ماتېـږي، ار يـو بيـا هـم د بېلابېلـو فکتورونـو او عناصـرو پـه رښـا کـې د بايزيـد روښـان او يـا د هغـه د مريـدانو پـه اقوالـو استناد وکـړو. اړه ده، چـې لومـړی وپوهېـږو اسـماعيليه فرقـه څـه ډول بنيادونـه او اصـول لـري او وروسـته د بايزيـد روښـان پـه افکـارو کې د هغو اثر څومره او څرنګه دی.

ب: اسماعيليه اصول او پرنسيپونه:

ددې لپـاره چـې لـږ تـر لـږه زمـوږ مقايسـوي څېـړنې تـه لاره هـواره شـي، اړه ده وپوهېـږو چـې د اسـماعيليه فـرقې اصـول څـه دي او څرنګـه مـنځ تـه راغلـه. څېـړونکي او پوهـان پـه دې عقيـده دي، چـې د اسـماعيليه فـرقې مـنځ تـه راتلـل او ظهـور د اسـماعيل بـن جعفـر الصـادق او د هغـه د وروړو موسـى بـن

جعفر ترمنځ د امامت پر مسأله باندې د اختلاف په نتيجه کې ترسره شو. د اسماعيل په کورنۍ کې د امامت پر مسأله معتقدين د اسماعيليه يا باطنيه په نامه يادېږي. دوی په دې عقيده لري، چې له امام جعفر څخه وروسته څرنګه، چې د هغه زوی اسماعيل له پلار څخه دمخه له نړۍ سترګې پټې کړې دي، نو امامت محمد بن اسماعيل ته منتقل شو، چې هغه بشپړ "سابع" بولي. يا د امامت اوومه دوره په هغه پای ته رسېدلې بولي. له محمد څخه وروسته امامان پر دوو ډولو ووېشل، يوه ډله يې پټ يا "مستور" امامان وو، چې په پټه به په بنارونو کې ګرځېدل حال دا چې ددې دعات يا دعوت کوونکي به په څرګنده په رابللو مشغول وو. "له پټو يا مستورو امامانو څخه وروسته د امامت دوره عبيدالله مهدي ته ورسېده، چې خپل دعوت يې څرګند کړ او وروسته د هغه اولاد يو په بل پسې امامان دي او هر څوک چې له هغو سره په مخالفت کې مړ شي "مات ميته جاهليته"[1] بلل کېږي.

د اسماعيليه فرقې پيروانو د خپلې عقيدې په خاطر منظم تبليغ کاوه. د دوی تبليغاتو هم منظم او سازماني بڼه درلوده. له اسماعيليه دعوات څخه يو هم ابو عبدالله حسن بن احمد، بن محمد، بن زکريا، چې په ابو عبدالله رشيعي

[1] داکتر ذبيح الله صفا، تاريخ ادبيات در ايران، جلد اول، چاپ هفتم (تهران: فردوسی، ۱۳۶۶)، ۲۴۶ مخ.

باندې مشهور و، زیات قدرت پیدا کړ او د افریقا په شمال کې یې دا غالبه دولت چپه کړ او ابو محمد عبیدالله المهدي، چې په سجلماسه کې بندي و، آزاد کړ او ادعا یې وکړه، چې دی د علي د کورنۍ هماغه منتظر مهدي دی او امامت په ده پورې اړه لري. په دې ډول یې د افریقا په شمال کې فاطمیه دولت (۲۹۷هـ) جوړ کړ.(۱)

د اسماعیلیه فرقې یوه مشهوره څانګه د درزیه په نامه یادیږي. ددې ډلې پیروانو عقیده درلوده او یا عقیده لري، چې د خدای روح په علي والعزیز او وروسته د هغه په زوی الحاکم کې حلول کړی دی. ددې ډلې زیاتره مشران ایرانیان وو. "لکه حمزه بن علي الزوزني، حسن بن حیدرالفرغاني، چې په اخرم محمد ابن اسماعیل انوشتکین النجاري الدوزي مشهور و."(۲)

د اسماعیلیه فرقې پیروانو په خپل دعوت او رابلنو کې خاص مراحل تاکلي او رعایت کول یې او د هغوی دعات هم د خاصو درجو له مخې تاکل کیدل او وروستۍ مرتبه یې د "حجت" په نوم یادیده، چې ډیرو لږو دعاتو دغه درجه ترلاسه کړه. له هغې ډلې څخه امیر ناصر خسرو بلخي یمګاني او حسن صباح دغه درجې ته رسیدلي وو. اسماعیلیه د خپل دعوت په لوړو مراحلو کې فلسفه او دین یو له بله

---

[1] هماغه خای

[2] هماغه اثر. ۲۴۸ مخ

بشپړوونکي بلل او ان ستر فلاسفه يې د انبياوو په ډله کې شمېرل. اسماعيليه وو عقيده درلوده او لري يې، چې پيغمبران عامه سياست تنظيموي او فلاسفه خاصه حکمت. له دې لامله اسماعيليه وو په خپلو رابلنو کې د مدعيونو ذهن مخکې له مخکې له يوناني فلسفې سره اشنا کاوه. دغه راز اسماعيليه وو په فکري لحاظ په اسلامي مدنيت کې ستر رول ولوباوه. اسماعيليه وو په اوونۍ کې يوه خاصه ورځ غونډه کوله، چې ښځو هم د نارينه وو په غونډو کې گډون کاوه.

اسماعليه وو د عقلي علومو، فلسفي او منطق په پرمختگ کې خاص رول ولوباوه. څرنگه چې د دوی د ظهور شرايط د فقهاوو او محدثينو د لاسبرۍ شرايط او د تعصب دوره وه، چې د استدلال او کلام خاوندانو ته يې زياته موقع نه ورکوله. د بحث او مناظرې غونډې يې ددې سبب شوې. چې پيروان يې له عقلي علومو سره بلدتيا پيدا کړي. "يو له هغو کسانو څخه، چې له کوچنيوالي څخه يې په دغو غونډو کې گډون کاوه او بحثونه يې اورېدل، ابو علي سينا و، چې د خپل سرگذشت د بيان له مخې يې له پلار او نيکه څخه د فلسفې، حساب او هندسې، روح او عقل په باب زيات څه اورېدلي وو او د هغه اسماعيلي پلار، چې په يوناني فلسفه يې باور درلود، نومورې يې دې ته اړ کړ، چې فلسفه او

عقلي عُلوم زده کړي."([1])

اسماعيليه وو.د اسلامي فرهنگ په پراختيا، د فارسي ادب په وده او تکامل کې، چې ناصر خسرو بلخي يې ښه او په زړه پوري نمونه ده، په زړه پوري ونډه اخيستې ده. خو پردې سربېره دغه فرقې يو لړ اساسي پرنسيپونه او اصول هم درلودل، چې په لنډه توګه يې يادونه کوو:

۱ـ باطنيت:

اسماعيليه فرقه پر باطنيت باندې باور لري، باطنيت يعنې د ديني مدارکو يعنې قرآن او نبوي احاديثو پر دننيو او باطني مقاصدو او معانيو باندې باور درلودل دي.

داکتر سجادي په خپل اثر فرهنگ لغات و اصطلاحات و تعبيرات عرفاني کې د باطنيه په دې ډول شرح کوي:

"باطنيه. کسانيکه گويند تقيد با احکام شريعت وظيفه عوام است که نظر آنها بر ظواهر است و خود را از قيد تعلق به شريعت آزاد دانند و اهتمام آنها به مراعات باطن است باطنيه نامند " (نفحات ص ۱۳)([2])

مشهور اسماعيليه حجت او نامتو عالم او فاضل ناصر خسرو هم په خپل مشهور اثر جامع الحکمتين کې د باطن او

---

[1] ايضا، ۲۴۹ مخ

[2] سيد جعفر سجادي، فرهنگ لغات و اصطلاحات و تعبيرات عرفاني، چاپ دوم (تهران: کتابخانه ظهوري، ۱۳۵۴)، صفحه ۸۹.

تاویل خاوندانو عقاید په دې ډول شرح کوي:

"و اهل باطن و تاویل گفتند سخن خدای تعالی اندر قرآن بر سبیل مثل است چنانکه میگوید "قوله" و لقد خربنا للناس فی هذا القران من کل مثل" و خدای تعالی این قرآن کریم را به سفارت جبرییل و وساطت محمد مصطفی علیه السلام سوی ما فرستاد که امت مصطفی ایم، بر ما واجب است که امثال را که اندر قرآن است از خویشتن دور نیندازیم، بل قرآن را تنبیه و تخدیر خویش دانیم از خدای تعالی و (مثل) بپارسی "مانند" باشد.

پس واجب است بر ما که مانند آنها نباشیم که مثل بر در شان ایشانست، بل از آنها باشیم که مثل نیک در شان ایشان است، چنانکه خدای تعالی گفت: قوله: الذین لا یؤمنون بالآخرة مثل السوء و لله المثل الاعلی و هوالعزیز الحکیم "و اهل (ظاهر) کتاب خدای را بر خویشتن نگیرد و به عذاب خدای هلاک شود..."([1])

د اسماعیلیه فرقې پیروان د ایاتو او احادیثو پر تاویل باور لري. په ظواهرو باور نه کوي او پر دې نبوي حدیث ټینګار او تکیه کوي، چې:

"ان هذا القران انزل علی سبعه احرف لکل حرف ایه منها

[1] ابو معین ناصر خسرو، جامع الحکمتین، به تصحیح و مقدمه فارسی و فرانسوی، (هنری کربین، داکتر محمد معین) چاپ دوم، (کتابخانه ظهوری، ۱۳۶۳)، صفحه۳۷

ظهرو بطن" يعني همدغه قرآن په اوو تورو نازل شوی او هر حرف يې يو ايت دی او هر ايت يې بيرون او دننه لري."([1])

په همدې ډول اسماعيليه فرقه د باطنيت په اصولو کې د قرآن پر ديارلسم آيت استناد او اتکا کوي او وايي، چې: "باطنه في الرحمه و ظاهره من قبله العذاب" دننه يې له رحمت نه ډک دی او ظاهر يې مخ (له)شکنجې او عذاب نه".([2])

اسماعيليه په دې ډول د قرآني آياتو تاويل موجه لري او پر دې عقيده لري، چې د آياتو او احاديثو په ظاهري مانا باندې شک وکړئ او باور پرې مه لرئ.

۲ـ مهدويت:

اسماعيليه فرقه د مهدي آخر الزمان پر ظهور باندې عقيده لري. دوی پر يو نبوي حديث باندې تينګار کوي، چې وايي:

"لو بقی من الدينا يوم واحد يطوا له ذالک اليوم حتی يخرج من اهل بيتی يملاء الارض عدلا و قسطا حظما وجودا".([3])

يعني"... که له جهانه يوازې يوه ورځ پاتې شي، هغه ورځ

---

[1] احسان طبری، بررسی های درباره برخی از جهانبینی ها و جنبشهای اجتماعی در ایران، (انتشارات ح.ت.ا، ۱۳۴۸) ،۲۲۷، مخ

[2] همدغه ځای

[3] د زيات تفصيل لپاره همدغه ياد شوی اثر وګورئ.

به دومره اوږده شي، چې زما له کورنۍ څخه یو څوک راپورته شي او هغه نړۍ، چې له ظلم او ستم څخه ډکه ده، له عدل او انصاف نه یې ډکه کړي".(۱)

د اسماعیلیه وو په عقیده واقعي او اصلي معرفت او درک د زمان د امام پېژندنه ده. هغوی پر دې تینګار کاوه، چې خدای پېژندنه او د نړۍ او کاینناتو پېژندنه هم په عقل نه ده، بلکې د امام په زده کړو ده.

ناصر خسرو مشهور اسماعیلیه حجت، متفکر او شاعر په خپل یاد شوي اثر کې د امام زمان پر عقیده باندې د تاویل د اهل باور په دې ډول څرګندوي:

"اهل تاویل گفتند که این سخن مثل است بر کسانی از امت که همی گویند. مارا بیرون از محمد علیه السلام و عترت او کسانی را دوست باید داشتن که مارا از ایشان به خدای تعالی نزدیکی افزاید."(۲)

نومورې په دې برخه کې امام زمان د نوح او د هغه له بېړۍ سره تشبیه کوي او وایي هر چا چې په دې بحر کې په دغه بېړۍ لاس کېننبود، هلاک به شي. هغه لیکي:

"و گفتند، اعنی اهل تاویل، کنون این دور محمد مصطفی است صلی الله علیه واله وسلم بدین جز مثل اهل بیتی فیکم کمثل سفینه نوح من رکبها نجا و من تخلف عنا

---

[1] ایضا، ۲۲۷ مخ

[2] ابو معین ناصر خسرو، جامع الحکمتین، ۳۲ مخ

غـرق" و هرکـه از ایـن امـت بـه حکـم ایـن خبـر دسـت انـدرین سـفینه نزنـد نـه نـوح دروسـت و انـدرین کشـتی ننشـیند ، بـه طوفـان جهـل و آب فتنـه هـلاک شـود. و گـوئیم کـین هـلاک کـه خـدای مرعـا در او ثمـود را و اصـحاب الـراس (را) همـی گویـد ، نـه هـلاک) جسـدی و مـرگ بـدنی اسـت، بـل هـلاک جهـل و ضلالت است و وجوب عذاب جاویدان است..."(۱)

حسـن صـباح مشـهور اسـماعیلیه لارښـود د اسـماعیلیه د نزاریـه څـانګې مشـر و. هغـه بـه خپـل بحـث پـه دې خبـرو پیـل کـاوه، چـې عقـل بـس دی او کـه نـه، آیـا عقـل د ټولـو حقـایقو د پېژنـدلو لپـاره کفایـت کـوي. نومـوړي بـه د خپـل عـادت لـه مخـې ځـواب اورېـده، چـې عقـل د حقـایقو د ماهیـت د پېژنـدلو لپـاره کفایـت نـه کـوي. هغـه بـه پـه دې لـړ کـې پـه دې خبـره ټینګـار کـاوه، چـې انسـان تـه ښـوونې لازم دي او هغـه ښـوونکی، چـې زمـوږ د روح لارښوونـه وکـړي، د خپـل وخـت امام دی.

د اسـماعیلیه فُـرقې پـه عقایـدو کـې لـه باطنیـت، تاویـل او مهـدویت څخـه وروسـته د اعـدادو او شـمېرکیت یـا اسـلوب دي، چـې ځینـې اعـداد هـم د خـاص اهمیـت وړ دي او د اسـماعیلیه فـرقې پیـروان پـرې خـاص ټینګـار کـوي او پـرې عقیده لري.

---

[1] ایضا، ۳۸ مخ

۳_ د اعدادو او حروفو راز:

اسماعيليه د فيثاغورثي عقايدو تر اثر لاندې د اعدادو په کيت معتقد وو. هغو ته پينځو، اووه، دولسو، څلرويشتو او دپرشو اعدادو اهميت درلود. د پينځو عدد له مخې پر پينځه جسماني او روحاني حد معتقد وو. اووه عدد خاص ارزښت درلود. له همدې لاملـه يې اووم امام بشپړ سابع باله. اووم دور يې بې نومورې پای ته رسېدلی باله. دوی عقيده درلوده، چې اوه آسمانه، اوه ځمکې، اوه سيندونه، اوه ستوري او په اوو ورځو کې د هغو پيدايښت او په سورهء فاتحه کې اووه آيته، د بدن اووه غړي، د اوو عدد د ارزښت رمز دی. په دې ډول نور اعداد هم د خاص اهميت او رمز لرونکي دي. د اسماعيليه فرقې يوه شعبه پر حروفو باندې هم زيات تينګار کوي. لويي ماسينيون وايي، چې ابن سينا هر توري ته په خاصه مانا قايل و.

۴_ فلسفي او عقلي علوم:

لکه چې دمخه مو وويل اسماعيليه وو له عقلي علومو او فلسفې سره هم خاصه مينه درلوده. د دوی د کار او زيار له برکته په اسلامي مدنيت او فرهنګ کې يوناني فلسفه رواج شوه. ادوارد برلون په دې باب ليکي:

"په واقعيت کې د هغوی واقعي آئين (چې يوازې د هغوی په پيروانو پوري مربوط وو) فلسفې او التقاطي دي. زياتره

ايراني او سامي سيستمونه او د نويو افلاطوني او نويو فيثاغورثي افكارو ځينې شيان يې هم پور كړي دي."([1])

اسماعيليه فرقې په خپل وخت او د خپل فعاليت د پيل په شرايطو كې يو منظم سازمان درلود. يوه منظمه هيراشي پكې مسلطه وه."ددغه سلسلې په راسر كې يو خليفه و. هغه به خپل حجتونه اوو جزيرو ته استول او له حجت نه وروسته يې داعي، چې په مطلق اوماذون وښل كېدل مطلق تبليغ حق نه درلود، خو ماذون د تبليغ حق درلود او له هغه وروسته د مستجيب په نوم مقام و".([2])

دغه راز ځيني اسماعيليه معتقدين پر دې باور دي، چې د اسماعيليه او متصوفينو ترمنځ د عقايدو اشتراك موجود دى. اسماعيليه پر اوو عدد باندې زيات تېنگار كوي. ځيني صوفيان هم خپل عقايد پر اوو عدد باندې تعبيروي. اسماعيليه "امام" ته په خاص ارزښت قايل دي، خو صفويان (پير) او مرشد ته ورته اعتبار وركوي. اسماعيليه پر تاويل عقيده لري. صوفيانو هم د تاويل له څرنگوالي څخه گټه اخيستې ده.([3])

لكه چې دمخه مو هم ورته لږ څه اشاره وكړه اسماعيليه

---

[1] احسان طبری، بررسیها در باره برخی از جهانبینی ها و جنبشهای اجتماعی در ایران (انتشارات حزب توده ایران، ۱۳۴۸)، ۲۲۸ مخ

[2] همدغه اثر، ۶۰ مخ

[3] د زيات تفصيل او معلوماتو لپاره وگورئ "علاوالدين عطا ملك جويني، نامه الموت، د نجيب مايل هروي او اكبر عشيق كابلي په اهتمام، بنگاه كتاب مشهد، نماينده انتشارات دانشگاه شهباز آزاد مهر، مقدمه له ۲۵ مخ څخه وروسته.

فرقې د خپلو عقایدو د تبلیغ لپاره خاص مراحل درلودل، چې معمولاً پر پینځو مراحلو وېشل کېدل او د تفریس، تاسیس، تشکیک، ربط او تعلیق مراحل وو. تقیه او کتمان هم د شیعه وو په څېر د اسماعیلیه اصول هم وو. د دوی په سازمان کې بسپنه او اعانه هم رواج وه او ده، چې د بحث او مناظرې د غونډو په وخت کې به د حق النجوی په نوم ورکول کېده.

ج: د بایزید روښان آثار او باطنیه افکار:

مورډ ددې قصد نه لرو، چې حتماً دا ثابته کړو، چې بایزید روښان اسماعیلي و یا د اسماعیلیه فرقې د نورو پیرانو په څېر په بشپړه توګه پر دې لاره معتقد و، بلکې زمورډ هڅه دا ده چې د نومورو عقایدو په رڼا کې د بایزید روښان عقاید او افکار وڅېړو، ورته والی او توپیرونه یې رابرسېره کړو.

مورډ ترمخه د اخوند درویزه د آثارو په استناد د بایزید روښان د اسماعیلیت په اړه ځینې ناوړه او غیر علمي "انتسابونه" او یا "تهمتونه" چې هېڅ او مستند بنسټ نه لري. د بایزید روښان په باب ویل شوي، اشاره وکړه.

داکتر محمد شفیع په خپله کوتلي تحقیقي رساله کې، چې "بایزید انصاري" نومېږي، په دې باب عمده تکو ته اشاره کوي او د بایزید تجارتي سفر ته ګوته نیسي، چې د

عمر په شپارسم کال يې له پلار سره په تجارتي سفر کې ملګرتيا کړې وه. دې سفرونه يې کړي، په دغو سفرونو کې به ضرور د "ملحد (اسماعيلي) سليمان" سره مخامخ شوی وي. نومورې پر دې تينګار کوي، چې بايزيد روښان د پير کامل پر عقيده تينګار کوي او د اسلام په ارکانو کې په غسل او نورو مسايلو کې د تاويل استعمال کوي.

مولينا عبدالقدوس قاسمي د خپلې مقالې په لمنليک کې، چې د بايزيد روښان مذهبي افکار نومېږي، د (Arabian Highlonds J.B Philiby) (۳۳۶_۳۷) مخونو په حواله د ملا سليمان کالنجري يادونه په دې ډول کوي:

"د ۱۵۶۷_۱۶۷۷ع تر ميانځه په عربو کې هنديان د اسماعيليت تبليغ تړه راغلي وو چې د هندوستان خواجيه يا شمسيه و به د دوی امداد کولو، په دوی کې يو سليمان بن حسن هندی و، چې د هغه په نوم باندې هلته سليمانيه فرقه جوړه شوه. کېدای شي چې د اخوند دروېزه صاحب ملا سليمان هم دغه سليمان بن حسن وي، چې د ۱۵۹۶ع نه اول يې په هند کې خپل تبليغ جاري ساتلی وي."[1]

که پورتنی عبارت په دې لړ کې سم وي او د اخوند دروېزه ادعا هم سمه وي، نو غالباً به بايزيد روښان، چې په

[1] مولينا عبدالقدوس قاسمي، "د بايزيد روښان مذهبي افکار"، ۸۱ مخ

۱۵۲۴ع کال په جالندهر کې زېږېدلی، د عمر په ۱۶ کال له ملا سلیمان سره لیدلې وي.

د نومورې د ملاقات کال به ۱۵۴۰ع په شاوخوا کې وي، له بلې خوا که ملا سلیمان یا د سلیمانیه فرقې مشر همدغه مبلغ وي، چې دمخه یې یادونه وشوه. له هغه سره د بایزید ملاقات شوې وي، بې له شکه چې د هغه تاثیرات به بایزید روښان منلي وي، خو باید ووایو چې د هغه له شپاړس کلنې عمر څخه د هغه تر "روښان" کېدلو پورې څلرویشت کاله تېر شوي. د نومورو عقایدو اساسي ریښې او ننبې ننبانې مورې د هغه په آثارو کې باید وپلټو له هغه جملې.

۱ـ باطنیت:

بایزید روښان په خپل فکري سیر او عقایدو کې په خفي ذکر او د هغه پر تلقین د پېر تینګار کوي او ان تر دې، چې دا طریقه یې تر خاصو مریدانو پورې محدوده ساتلې ده.

د اسلامي تصوف او د سلوک په لارو چارو کې او د خفي او ستر تلقین تر زیاته حده په اسماعیلیه فرقه کې موجود دی.

حالنامه لیکي:

"پیر دستگیر فرمودند ای عزیز من. اگر حضور دل میخواهی در نماز اول از جمله حرام پرهیز کن و دوم دل خود

را پیش از نماز بذکر خفی مشغول دار".(۱)

په دې برخه کې بایزید روښان هم په باطني ماناوو د ظاهر پر خلاف تینګار کوي. په حالنامه کې څو ځایه دغه ډول مطالب شته، چې د لوستونکي باور او ګومان زیاتوي. له هغه جملې څخه:

"بعد از دریافتن تسبیح هراشیا و سرفراز شدن از مرتبه و مقام قربت احوال ماضی و حال را در چند ابیات درج نمود:

چون که غافل و بیخبر بودم
مثل انعام کور و کر بودم
من نبودم به یاد حق مشغول
غافل و بیخبر چو دد یا غول
چون شنیدم بیان خوف خدا
سر از وصف چارپای جدا
کردم آغاز ذکر هم تسبیح
بدن و جان و هم زبان فصیح
ملکوتی شدم فرشته صفت
پاک گشتم ز جهل و معصیت
بزبانم الله بود سبق
لیک غافل بودم ز هستی حق

---

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، ۱۶۹ مخ.

چون بذکر خفی شدم شاغل
غیرالله شد ز دل زایل
حصحص الحق شده به چشم یقین
کفر باطل شد و بر آمد دین
غرق در بحر دیدم هراشیا
که بدو قایم اند هم احیا
هر ندایی که در رسید به گوش
جمله از بحر یافتیم سروش
فهم تسبیح هر ندا کردم
قهر و رحمش ز هم جدا کردم
قرب حق یافتم قریب شدم
اقرب و سامع و لبیک شدم

و چون پیر دستگیر قدس سره نکاح کرد هیچ آواز بی جنبش پدید نمیشد و هیچ چیزی بی قوت حق نمی جنبید پس دانست که هر آواز حق است. بعضی از رحم بعضی از قهر دو را از یک ذات دید و هیچ چیز از هستی او جدا نمیدید هیچ آواز بی تسبیح حق تعالی نمیشنید و علامت آن در قرآن دید. و ان من شئی الا یسبح بحمده ولکن لا تفقهون تسبیحهم. یعنی نیست چیزی مگر که تسبیح میکند و ثنا میگوید مرحق تعالی را و لکن در نمی یابند و فهم نمیکنند تسبیح ایارا پس پیر دستگیر قدس سره به

کرم حق تعالی دریافت تسبیح هر شی و زبان حالش..."(۱)

په هر حال پورتني عبارات د متصوفینو له سبر او سلوک او اظهاراتو سره هم ورته والی لري، خو زموږ لپاره په زړه پورې خبره دا ده، چې بایزید روښان پر هغه څه باندې د پوهېدو ادعا کوي او پر هغه رموزو باندې د معرفت دعوت لري، چې نور پرې نه پوهېږي. نور یې یوازې ظاهر ویني، خو بایزید یې باطن او غیر ظاهر ویني. هغه په دې ډول عباراتو سره د آیاتو او احادیثو تاویل څېړي.

بایزید روښان د خپلو دغه ډول تفکرات په لړ کې دې نتیجې ته رسېږي، چې یوازې هغه او د هغه نژدې مریدان، چې د هغه مرتبې ته نژدې مقام ته ځان رسوي، دغه ډول باطنیت او ماهیوی معرفت ترلاسه کوي او نور څوک، چې په دغه مسایلو نه پوهېږي، نوموړی یې په شرک کې ویني. له همدې لامله هغه پر مهدي او لارښود او د خپل وخت پر بشپړ او کامل پیر او د هغه پر زده کړو ټینګار کوي، خو بایزید روښان د خپلو تعلیماتو په جریان کې هر وخت د "علم توحید" یادونه کوي. یعنې هغه څه، چې اسماعیلیه وو ته دومره په زړه پورې نه وو.

---

[1] ایضا، ۴۹ مخ

۲ـ کامل پیر "امام زمان":

بایزید روښان هم پر دې تېنګار کوي، چې:

"... و گفتندی که حیف است که این خلق یقین و اعتبار نمیکنند به آیت قرآن و به حدیث رسول علیه السلام و شیطان ایشانرا نمیگذارد که از مرتبهء اسفل به مرتبهء اعلی بروند و همواره گروه انبیا وارثان ایشانرا همین حال بوده است که از برای ایمان و معرفت خلق در رنج و اندوه میبودند و تأسف به حال ایشان میخوردند."(۱)

بایزید روښان د کامل پیر پر متابعت تینګار کوي او کرات دا خبره جوتوي، چې "قوله تعالی". "قل یاقوم اعملو و علی مکانتکم انی عامل فسوف تعلمون" یعنی بگو ای گروه من کار کنید بر جای گاه خویش که منع کننده ام پس زود بدانید که کیست صاحب راه راست.

ای محمد کمال کار خلفا انبیا علیهم السلام و وارثان ایشان حق نمایی است. اگر خلق اورا هادی و پیشوای داند یا نه و حق تعالی به جلال ایشان دانا است. چنانچه حق تعالی در قرآن مجید خبر میدهد. قوله تعالی "الم یاءتکم تبرل الذین من قبلکم قوم نوح و عاد و ثمود والذین من بعد هم لا یعلمهم الا الله"، یعنی آیا نیامده به شما خبر آنانیکه پیش از شمایان بودند گروه نوح و عاد و ثمود و آن

---

[1] ایضا، ۱۳۴مخ

کسانیکه پس از ایشان بودند نمی داند ایشان را خلق مگر خدای تعالی".(۱)

اسماعیلیه فرقه د نوي امام د پیدا کېدو او پر خلکو باندي د هغه اطاعت فرض ګڼي. د اسماعیلیه وو دا مقوله د پېره څرګنده ده، چې شهرستاني په ملل و نحل کې وایي: " و من مذهبهم ان من مات و لم یعرف امام زمانه مات میته جاهلیته".

د دوی په عقیده، چې څوک مړ شي او د خپلې زمانې امام ونه پېژني، نو جاهل له دنیا تېر شي. بایزید روښان هم هغه وګړي چې د هغه په اطاعت کې نه وو، مشرکان، کافر او جاهلان ګڼل.

۳_ له فلسفي او عقلي پوهنو سره اړیکې:

د روښان په آثارو په تېره په حالنامه کې د علومو پر زده کړه باندې ټینګار کېږي، خو تر زیاته حده پورې دغه ټینګار بیا هم د توحید په علم او د باطن په علم دی.

" آن سرور انبیا در این معنی فرموده است یعنی کسیکه طلب علم برای دنیا کند، پس او کافر است و کسی که طلب علم برای حجت کند پس او مسلمان است."(۲)

له علم څخه د بایزید روښان هدف څرګند دی.

---

[1] ایضا، ۱۵۶ مخ

[2] ایضا، ۱۹۹

د فلسفي په باب مورِ د بايزيد روښان په افکارو کې کوم څرګند تبليغ نه وينو، بلکې يوازې د اخوند دروېزه يو اتهام شته، چې د نومورې په باب وايي چې دی (بايزيد روښان) "يو حکمتي و" او يا دا چې بايزيد د فيلسوفانو او سوفسطايانو افکار خپرول. "زيرا آنکه وی آخر رساله خود می نوشته که هر چه در صورت مقيد آمده است. همه عين خدای اند تا هر چه ديده ميشود و شنيده ميشود جز خدای چيز ديگری نيست و عالم جز و هم و خيال نيست. نعوذ بالله من کفر هم و غير ذالکم مخيلات فلاسفه و سوفسطائيه بيان ميکرده و مينوشته و باز اتباع خود را امر ميکرده که چون جز وجود خدای تعالی چيز ديگر در وجود نيست، پس حرام و حلال، روا و ناروا چه معنی دارد. مگر اين که حکم پير خود را رعايت داريد که من خدای شما ام و هم پيغمبر شما و اين جاهلان نابکاران گفتار کفر او را معتقد آمدند."([1])

دغه راز له پورتني دليل څخه وروسته بايزيد روښان پوښتنه کوي:

"يا مولانا زکريا من ترا از معنی و حقيقت (الف) و (ب) بپرسم اگر جواب دادی بپرسم. تحقيق خبرداری. گفت بيان کن. پير دستگير قدس سره فرمود که جمله چند حروف

[1] اخوند درويزه، مخزن، (پښور: پښتو اکېډيمي، ۱۹۶۹)، ۱۲۴ مخ

است. جواب داد که بیست و نه حروف است. باز پرسید که کدامها حروفها به خدا تعلق دارند و کدامیها به پیغمبران تعلق دارند و کدامیها به بهشت و کدامیها به دوزخ تعلق دارند، مولانا زکریا جواب دادن نتوانست، پیر دستگیر قدس سره فرمود یا مولانا زکریا جواب سی حروف نتوانستی داد حقایق توحید چه دانی یا جواب آن چون خواهی داد...".(1)

په پورتني متن کې د بایزید روښان په عقیده د دېرشو تورو اهمیت هم د اعدادو له مخې، چې د نریاني ۲۹ نهه ویشت توري بولي او نومورې پر دېرشو تورو ټینګار کوي. دېرش عدد د اسماعیلیه وو په نزد سپېڅلی او د اهمیت وړ عدد دی. په اسماعیلیه عقایدو کې د دېرش عدد میاشتې له ورځو سره برابر دی. همدارنګه د دېرش عدد د بابونو شمېر هم دی (چې داعي الدعاة یې هم بولي) او د یوه حجت تر سرپرستۍ لاندې و او د دعاه شمېر، چې د یو داعي الدعاه یا باب ترسرپرستۍ لاندې و، څلرویشت وو.

په هغومره صداقت سره چې د اسماعیلیه وو په آثارو او فکارو کې پر فلسفه او عقلي علومو ټینګار کېږي او فیلسوف د "خاصه حکمت" لرونکی بولي، د بایزید روښان په آثارو کې نه لیدل کېږي. خو کله چې د وحدت الوجود

[1] علی محمد مخلص، حالنامه، ۱۹۸ مخ.

صوفیانه بحثونه مطرح کړي، په څرګنده لیدل کیږي، په سیده او ناسیده ډول بایزید روښان هم له افلاطوني او نو افلاطوني فلسفې افکارو څخه متاثر دی، چې نورو زیاتو موادو او څېړنو ته اړه لري. په هر حال! د بایزید د زیاتو او بې شمېرو آثارو له څېړنې څخه جوتېږي، چې هغه په یونه یو ډول له یوناني فلسفي آثارو څخه د ختیځ اسلامي مدنیت د آثارو له لارې متاثر دي.

په حروفي مسابلو کې هم موږ د بایزید روښان په حالنامه کې څه ناڅه شیان لیدلای شو. د مثال په ډول کله، چې له مولینا زکریا سره بحث او مناظره کوي. د حالنامې مولف وایي، چې هر څومره له پیر دستګیر قدس سره آیت او حدیث راوړي، هغوی یې نه قبلوي او دښمني کوي او وایي، چې د هر مقام علم او پوهه ماته بیان کړه. بایزید روښان وایي، چې تاسې ناخبره یاست او د ناخبرو خبرول اوس نه ښایي. نومورې دا حدیث دلیل راوړي، چې: " قال نبی علیه السلام تعلموا الناس علی قدر عقولهم" یعني "سخن گوئید با مردمان با اندازه عقل ایشان."(۱)

د بایزید روښان له حالنامې څخه د روښانیانو د یوه تېنګ او پیاوړي سازمان پته لګېږي. د دوی یعني د روښانیانو ترمنځ تېنګې او قوي اړیکې موجود وې. د څو

---

۱ ایضا. ۱۹۷ مخ

کالو په موده کې يې زيات پيروان پيدا کړل. خپله د يوه هادي، يو رهبر، پيشوا او کامل پير په توګه د روښانيانو سازمان د يوې منظمې هېرارشی لرونکی و.

د روښانيانو په سازمان کې هم د تقيې او کتمان ډېر شواهد او علايم ليدلای شو. د مثال په توګه کله چې دښمنان يا د بايزيد مخالفين د بايزيد روښان د نيولو يا وژلو قصد کوي، د هغه مريدان سره مصلحت کوي، چې بايزيد روښان د هغوی له لارې نيولو خبر کړي. په دې ډول: "مصلحت آن ميبينم که پير دستگير قدس سره را پيش از آن خبر بايد کرد که منکران نه رفته اند تا در دست ظالمان نه افتد... تا ظالمان گمان نبرند که برای خبر کردن پير خواهد برود".([1])

يا دا چې: "... سيد علی رحمت الله عليه آخر وقت نماز ديگر به خدمت پير دستگير قدس سره رسيد قدم بوسی پير دستگير کرد و لاکن چيزی نگفت زيرا که بعض نامحرم در پيش پير دستگير نشسته بودند چون آنان رفتند...".([2])

د تقيې او کتمان په باب ځينې نور شواهد هم شته او ځای ځای پر دې هم ټينګار کوي، چې له هر چا سره خبرې کوي، نو د مخاطب د عقل په اندازه ورسره څه ووايي.

بايزيد روښان هم د اسماعيليه په څېر غلی نه دی ناست،

---

[1] ايضا، ۲۱۷ مخ

[2] ايضا، ۲۱۸ مخ

بلکي هغه خپل داعيان د هشتنغر له دکلاير نه د خواوشا سيمو او ممالکو حاکمانو، اميرانو او عالمانو ته واستول او هغوی ته يې د خپلو دعوو د قبلولو دعوت ورکړو. يو داعي يې شهنشاه اکبر ته واستاوه، يو بل يې د بدخشان ميرزا سليمان ته واستاوه. څه خلفا يې هند، بلخ، بارا او يو تن يې د اخوند دروېزه پير سيد علي ترمذي ته واستاوه.

البته بايد ووايو، چې پير روښان سيمې او ممالک په اوو جزيرو نه دي ويشلي، خو هغه کسان (يې) استولي وو، چې د هغه په طريقه او فرقه کې خاصې درجې ته رسېدلي وو، لکه دولت، ميرزا خان، خليفه مودود، خليفه يوسف، خليفه ارزاني او نور... ؟. د حالنامې له بيانه جوتېږي، چې هر څوک او هر مبتدي مريد د دعوت او راباللو دنده نه شوه ترسره کولای، بلکې ياد شوي کسان د بايزيد روښان هغه پاخه او پوه کسان وو، چې د "حجت" له درجې سره يې سيالي کولای شوه.

هغه څه چې پورته وويل شو، هېڅکله په دې قصد نه دي چې حتماً مورِ له بايزيد روښان څخه اسماعيليه "امام" او يا "حجت" جوړ او ثابت کړو، بلکې د ځينو انتساباتو له مخې پرتليزه څېړنې ته اړه وه.... ددې بحث په پايله کې بايد ووايو، چې بايزيد روښان په خپله لاره او سربنديزه کې هېڅ کله دا ډول بيان او څرګندونه، نه کوي. له څېړنې هم جوتېږي، چې د هغه په تعليماتو کې داسې څه شته چې د

شک تري راولاړېږي، چې د اسماعيلّيه عقايدو څه ټنګ دده تر غوږو هم رسېدلی و او له دغو عقايدو متاثر شوی دی. نومورې خپل ځان ملهم من الله باله.

نومورې خپل متابعت پر وګړو فرض باله، د نوي امام پيدا ايښت او پر خلکو د هغه اطاعت فرض ګڼل، پر تاويل باندې باور، پر باطنيت باندې عقيده، د اعدادو او حروفو پر ارزښت باندې ټينګار، په اسلامي فرقو کې تر زياته حده په اسماعيليه وو کې رواج او ټينګ دی.

په هر صورت بايزيد روښان د يو عارف او متصوف په توګه د خدای تعالی معرفت فرض ګڼي. بې له دغه معرفت نه د طاعت، عبادات او صدقاتو لپاره د کامل پير واسطه شرط ده. پير کامل هغه دی، چې د شريعت طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت، مقامونه يې طی کړې وي.

بایزید روښان او د تناسخ او حلول مفکورې

کلـه چـې د بایزیـد روښـان د مخـالفینو پـه تپـره د هغـه د سرسـخته مخـالف اخونـد دروپـزه ادعـاوې د بایزیـد پـه بـاب لولـو، د نـورو انتسـاباتو یـا تومتونـو پـه خـوا کـې پـر بایزیـد روښـان بانـدې د تناسـخ او حلـول پـر افکـارو بانـدې د اعتقـاد تـور هـم شـته. ددې لپـاره چـې په دې برخـه کـې مـو هـم د بایزیـد روښـان پـر اصـلي متونـو یـا لومړنیـو مـوادو تکیـه کـړې وي، اړ یو لومړی ددغو مفاهیمو اصلي مانا او تفسیر وپلټو.

الف: تناسخ:

تناسخ له يو بدن نه د روح تر جلا کېدو ، وروسته بل بدن ته د هغه انتقال او تعلق لرل دي. بې له دې، چې له يو بدن نه د هغه د وتلو او له بل سره د تعلق ترمنځ زمانه فاصله شي، د تناسخ عقيده پخوانۍ ريښې لري. له پخوانيو فلاسفه وو څخه فيثاغورثيانو پر تناسخ عقيده درلوده. "هغوی له يو بدن نه بل ته د روح د تناسخ عقيده له هغه لرغوني شاعر نه اخيستې ده، چې د اور فيوس په نامه شهرت لري. د فدروس له رسالې نه جوتېږي، چې د يونان مشهور فيلسوف افلاطون هم پر يو ډول تناسخ باندې عقيده درلوده، خو د اسلام د فلاسفه وو له خوا رده او باطله شوه".(1)

د هند په لرغوني فلسفه او په خپله په هندوانو کې د تناسخ مفکوره ډېره څرګنده ده. جان ناس ليکي: "د ارواح د انتقال عقيده يا تناسخ (Katma) دی، چې هندوان يې په خپله ژبه سام سارا (Samsara) بولي."

نومورې پوه هم ددې يادونه کوي، چې د تناسخ عقيده په ډېرو بدوي اقوامو او عالي کلتور لرونکيو اولسونو کې شته او موجوده ده، خو هغه په هندوانو کې د تناسخ د عقيدې تفسير په دې ډول بيانوي:

"د انسان روح د مرګ په وخت کې په ټولو حالاتو کې له

---

[1] آريانا دايرة المعارف (پښتو)، ۵ ټوک، (کابل: ۱۳۵۴)، ۱۱۷ مخ

يـو خـاص حالـت پرتـه، چـې روح يکـې پـه ابـدي مقـام يـا اعلـى عليـين کـې لـه برهمـا سـره بشـپړ وحـدت حاصـلوي او يـا دا چـې د تـل لپـاره پـه اسـفل السـافلين کـې غرقېـږي، پـه يـو بـل ډول هـم يـو لـړ زېږېدنـه او ژونداتـه نويـوالي تـه لاس اچـوي او پـه پرلـه پسـې توګـه لـه يـو عـالم څخـه بـل تـه راځـي او پـه هـر ژونـدي کـې خپلـه دوره تېـروي او بيـا د مـرګ پـه وخـت کـې يـو وار بيـا بـل کالبـد تـه منتقـل کېـږي او نـوی لبـاس اغونـدي. د زېږېـدنې دغـه دورې پـه پرلـه پسـې توګـه پـه يـو لـړ ناپايـه زمانـه کـې دوام مـومي. لـه يـوه جسـم څخـه بـل جسـم تـه د ارواحـو انتقـال، يـا پـه بـل عبـارت د زېږېـدلو او ژونـد تجديـد تـه اړه نلـري، چـې همېشـه پـه يـوه واحـده سـطح۱ کـې موجـود وي، بلکـې امکـان لـري پـه يـوه محـدود زمـان کـې پـه ببلابېلـو عـالي او ټيټـو موجوداتـو کـې څرګنـد شـي او يـا د ځمکـې پـه کـره کـې پـه ببلابېلـو موجوداتـو کـې ژونـدی راڅرګنـد شـي. د مثـال پـه ډول کلـه يـې پـه نباتـاتو کـې وينـو او کلـه يـې هـم پـه حيوانـاتو، ځنـاورو او کلـه هـم پـه ډېـرو ټيټـو موجوداتـو او کلـه د روح د هسـتۍ پـه ډېـرو لـوړو موجوداتـو کـې چـې بـدن تـه تغييـر او حرکـت ورکـوي. مـثلاً کېـدای شـي د ټيټې او نجسـې طـبقې د فـرد روح پـه يـوه بـل موجـود يـا د يـوه راجـه، يـا بـرهمن پـه کالبـد کـې ځـای شـي او يـا دا چـې انسـاني روح لـه مـرګ نـه وروسـته د غومبسـې يـا

چنجي يا وښو په وجود کې ننوزي او يا په جهنم کې د يو لعنتي موجود په ځان کې ځای ونيسي".(۱)

په اوپانيشادونو کې هم د تناسخ په باره کې مفصل بحثونه شته دي. د هندوانو په عقيده تناسخ د (کرما Karma) (عمل) اصل ته ډېر ورته والی لري او له کرما څخه هدف د نېکو او بدو اعمالو په وړاندې سزا او برائت دی، څه که په وينا کې وي او که په فکر کې او يا عمل کې.

په نړۍ کې هرڅه چې دي که شخص، کورنۍ يا ځناور يا ګياه وي او په خپله نړۍ او خدايان هم د تناسخ او کرما د قانون تابع دي. د تناسخ او د نېک او بد اعمالو بدن د هندي کيت د عقايدو بنسټ جوړوي. مرګ په هېڅ ډول د ژوند پای نه ده، بلکې د ژوند له دورو څخه د يوې دورې پيل دی.(۲)

د جان ناس په قول، چې د اويانيشادونو په يوه برخه کې وايي:"هغوی چې په ژوند کې د صالح عمل او نېک چلن خاوندان دي. له مرګ وروسته يې روح په غوره شوي زهدان (زيلانځ) کې لکه د يوې برهمني ښځې يا د يوې کاشاتريا، يا ويسا مېرمنې په رحم کې د مراتبو له مخې ځای نيسي،

---

[1] جان ناس، تاريخ جامع اديان از آغاز تا امروز، ترجمه علی اصغر حکمت، چاپ سوم (تهران: " فرانکلن، ۱۳۵۴)، صفحه ۱۰۵.

[2] داراکوشه، او پانيشادها، ترجمه جلال نائينی و دکتر تاراچند (تهران: کتابخانه ظهوری، ۱۳۵۶)، ۲۹ مخ.

خـو د نـاوړو او شـريرو کسـانو ارواح پـه نـاوړه او مکـروه رحمونـو کـې ځـای نيسـي. د مثـال پـه توګـه د يـوې سـپې يـا پرانګې يـا بـالاخره د يـوې ساخله (نجسـې) طـبقې (پاريـا) ښځـې په رحم کې ځای نيسي."[1]

په "تـاريخ ادبيـات در ايـران" کـې دکتـر ذبـيح الله صـفا حلـول او تناسـخ پـه يـوه مانـا کـارولي، خـو وروسـته يـې پـه اسـلامي نړۍ کې پر حلوليه افکارو معتقدين څېړلي دي.[2]

"ابـن سـينای بلخـی پـه خپلـو آثـارو کـې پـه تېـره بيـا کتـاب الشـفا والنجـاة او داسـې نـورو کـې دغـه عقيـده باطلـه کـړې ده، ځکـه چـې نومـوړي ثابتـه کـړې، چـې نفـس او روح د بـدن لـه پيـدايښت نـه پخـوا وجـود نـه لـري، بلکـې د بـدنونو د خلقـت پـه وخـت کـې پيـدا کېـږي او هـر بـدن پـه خپلـه د يـو نفـس مسـتحق دی او هر حيوان په يو نفس شعور پيدا کوي."[3]

مـوږ نـور د تناسـخ پـه بـاب مجـرد بحـث تـه دوام نـه ورکـوو. زمـوږ هـدف دا دی، چـې د بايزيـد روښـان پـه افکـارو کـې تناسـخي افکـار او د هغـو تـاثيرات شـته او کنـه؟ پـه دې بـاب مـوږ دمخـه هـم وويـل، چـې تـر ټولـو دمخـه اخونـد دروېـزه زيـات تومتونـه لګـولي دي. لـه هغـه نـه د تـاريخ مرصـع مولـف هـم

---

[1] جان ناس، تاريخ جامع اديان از آغاز تا امروز، ۱۰۶ مخ.

[2] ذبيح الله صفا، تاريخ ادبيات در ايران، جلد اول، چـاپ دوم (تهـران: فـردوس، ۱۳۶۶)، ۶۱ مخ

[3] آريانا دايرة المعارف (پښتو) پنځم ټوک، کابل، ۱۳۵۴ کال، ۱۱۷ مخ

اقتباس کړي او ټورو مؤرخينو او څېړونکيو هم يادونه کړې ده، خو مورږ د خپل کار د اسلوب له مخې اړ يو د ځينو څېړونکيو نظريې او بيا د بايزيد روښان اصلي متونو ته مراجعه وکړو:

سيد تقويم الحق کاکاخېل د مخزن په سريزه کې کښلي دي، چې د بايزيد روښان د يوه مريد له خولې اشاره اورېدل شوې:

"خليل اووی چې دا ګيدړان بعضې ستاسو مور پلار دي او بعضې نيا نيکونه او فرياد کوي چې د کُنډو، يتيمانو مالونه په زور مه خورئ. په ژوند کې د خدای معرفت حاصل کړئ که داسې مو ونه کړل نو د مرګ نه پس به "د انسانيت جامه" اونه مومئ."[1]

نومورې د خپلې ليکنې په پای کې دې نتيجې ته رسيږي، چې:

"د تناسخ د يوې مسالې نه علاوه د باقي ټولو الزاماتو په سلسله کې خيرالبيان د اخوند درويزه بابا رح تاييد کوي او دا ترې معلوميږي چې اخوند درويزه بابا نه د بايزيد په عقايدو غلط پوی شوی و، نه يې پکې له ځانه څه ګډ کړي وو..."[2].

مشهور انګليسي مؤرخ الفنستن، چې د پښتنو په باب يې د اعتبار وړ کتاب ليکلی دی (د کابل سلطنت بيان) په

---

[1] مخزن، سريزه (سد) مخ

[2] ايضا، (سه) مخ

هغه کې هم دې مسالې ته گوته نیسي، خو څېړونکي عقیده لري چې کېدای شي نومورې د عوامو پر افسانو تکیه کړې وي.

محترم استاد صدیق روهي په خپله ژوره څېړنه کې، چې د روښان پر لومړنیو (اصلي) آثارو یې تکیه کړې، د خپلې څېړنې په نتیجه کې د روښان په افکارو کې د تناسخي عقایدو په باب دې نتیجې ته رسېږي: " روښانیان وایي چې مور پر تناسخ عقیده نه لرو اما دا عقیده د روښان دمرید له خولې اورېدلی شوې ده".(۱)

په حالنامه کې هم راساً او سیده دول د بایزید روښان له خولې او عقیدې کوم سند او لیکنه نه شته، بلکې د حالنامې بشېړوونکی لیکي، چې د روښان د مریدانو له جملې څخه خلیل نومي، چې د شینوارو د قوم مشرانو ته یې ویلي وو، چې ستاسې پلرونه او نیکونه گیدړان دي، که تاسې د پردیو خلکو مالونه په زور خورئ، نو له مرگه وروسته به تاسې بیا د انسان په جامه کې راځرگند نه شئ. مخلص دا اتهام ردوي او وایي، چې د بایزید روښان مرید دا خبرې ددې لپاره کړې وې، چې شېخنواري پرې ووېروي. حالنامه نومورې "پېښه" په دې دول رانقلوي:

"چون مردم شینوارې همواره خلیل را نشسته و در مراقبه

---

[1] صدیق روهي. (روښان پېژندنه) کابل، ۱ـ۲ گڼه، (کابل د علومو اکاډمۍ ۱۳۶۷). ۲۶ مخ

میدیدند، بروی حسد میبردند و برای شان میخندید و این مثل می ستند: "راست کلئ نماست، علی بوتي ناست." و برای امتحان میپرسیدند، روزی شغالان به عبادت خود فریاد میکرند، آنها گفتند: روشانی میگویند که ما آواز و صاحب آواز و تسبیح از در می یابیم (تسبیح را در میابیم) پس شما بگویید که این شغالان چه میگویند. خلیل گفت: که او از میان عارف و سامع و حق تعالی پنهان رازیست نباید مر عارف را که راز پنهان به اغیار آشکارا کند.

آنها گفتند که شما دروغ می گویید معنی و تسبیح هر آواز را در نمی یابید اگر معنی و تسبیح در می یابید پس بگویید که این شغالان چی میگویند. خلیل گفت: نمی گذارید صاحبان این آواز و معنی آن بر شما بیان کنم. شما بدنخواهید برد. گفتند شما بگویید، مایان بد نخواهیم برد. آخر خلیل گفت که این شغالان بعضی مادر و پدر و بعضی جدوابای جسد شما اند. بسوی شما ندا و فریاد میکنند (ممکن داسي وي)، بسوی شما ندا و فریاد میکنند که به زور و ظلم مال یتیمان و بیوه زنان میخورید. (مخورید).

و در حیات خود معرفت ذات حق تعالی را حاصل نمایید آواز صاحب آواز بشناسید و دم خود را چنین نکردید. بعد از مرگ جامه (بی) یاد حق تعالی مگذرانید. اگر انسانی نخواهید یافت."[1]

---

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، ۳۲۲_۳۳۳، مخونه.

حالنامه د خليل پورتنی استدلال او بحث د اعتقاد له مخې نه بولي، بلکې څرګندوي چې خليل دا خبرې د شينوارو د وېرولو لپاره وکړې.

حالنامه زياتوي :"ای عزيز من. خليل که اين سخن گفت نه از روی اعتقاد خود گفت، بلکه برای سرزنش و تهديد آن قوم فرمود. زيرا که اعتقاد اين خاندان بر مذاهب تناسخ نسبت (نيست)... و اعتقاد اين خانواده آنست بر هر يکی که صفت کدام حيوان غالب بود، بعد از مفارقت قالب در عالم مثال صورت آن حيوان بگيرد."([1])

په دې ډول حالنامه له پورتني بحث څخه وروسته زيات مثالونه راوړي. د مشابخو او لويانو قولونه راوړي. د مثال په ډول وايي، چې: د ولي محمد برکي چې د بايزيد روښان مريد و، د هغه په اثر کې چې لطيفه شريفه نومېږي، له هغه مې اوربدلي دي چې د يو سړي مال ثروت ډېر خوښ و، تر دې حده چې زياتره وخت به ترې چا نه اوربدل، چې خدای تعالی دې نن ورځ په نړۍ کې ماله ثروت راکړي سبا چې په آخرت کې هرڅه غواړي ودې کي. يوه ورځ ناڅاپه ناروغه شوه، ځنکدن يې شو. خلک ورته راټول شول، ورته وې ويل چې د شهادت کلمه ووايه. هغه وويل اوس د شهادت د تازه کولو وخت نه دی. زما نظر ته مړک راځي او راته وايي چې له

[1] ايضاء، ۳۲۳ مخ

هغه قالب نه راووځه او دې قالب ته راننوزه. د حالنامې بشپړوونکی دا حکایت پای دې دول تفسیروي او نتیجه تري اخلي، چې هر هغه "زړه" یا موجود چې حیواني صفات ولري، که څه هم د انسان په قالب کې وي او مړ شي، د حیوان په صورت بیا راژوندی کېږي.

په دې دول هغه څه چې په تناسخي افکارو پورې اړه لري او هغه څه چې د روښانیانو په عقایدو پورې اړه لري، دا دي چې په تناسخي عقیده کې "زمان" د بحث وړ نه دی، روح ابدیت لري. یوازې د بنسو او بدو اعمالو په کړو سره په راتلونکیو بنسو او یا ناوړه کسانو یا موجوداتو کې ځای نیسي. لکه چې ددې بحث په سر کې ورته اشاره وشوه، خو د روښانیانو یا د بایزید روښان په حالنامه کې دا مساله لږه باریکي لري او هغه دا ده، چې انسانیت یوازې د انسان په جسم او هیکل نه دی بلکې:

تو همی دانی که همه آدمند
که بسیار گاو و خری بی دمند
گر بصورت جمله انسان بودی
احمد و بوجهل خود یکسان بودی.

په دې مانا چې یوازې په صورت نه ده، بلکې د روښانیانو په عقیده هغه کسان چې د هغو پر زړو باندې "د

هـر حيـوان خصـلت غالـب شـو" د همغـه حيـوان خصـلت او مماهيـت پيـدا کـوي. روښانيـان دا هـم ورسـره څرګنـدوي، چـې د حشـر پـه ورځ د دوی اصـلي څيـرې يعـنې حيـواني صـفات رابرسـيره کيـږي او د همغـه حيـواني موجوداتـو پـه شـکل راپورته کيږي. حالنامه ليکي:

"امـام شـبلی رحمـة الله عليـه آورده کـه حضـرت رسـول الله عليـه والـه وسـلم از افـواج پرسـيدند ، فرمـود کـه حشـر کـرده شـوند دو صـفت از امـت مـن بعضـی بـه صـورت بوزينگـان بعضـی بـر هيئـت خوگـان و برخـی نگـون سـاران کـه ايشـان را بـروی بـه دوزخ ميکشـتند و بعضـی نابينايـان و بعضـی کـران و گنگـان و بعضـی ميخائيـد زبانهـای خـود را و آن بـر سـينه هـای ايشـان افتـاده باشـند وريـم ازدهـان هـای ايشـان سـيلان باشد."[1]

په حالنامـه کـې دغـه بحـث نـور هـم تفصـيل لـري او د هغـې محتـوی دا ده، چـې هغـوی چـې ګنـاه کـوي، ظلـم کـوي، بـدرفتار او بـدکردار لـري، دوزخ تـه ځـي او هلتـه ددغـه ډول حيوانـاتو يـا رڼـدو يـا ګـودډو او يـا په بـدرنګو او نـاوړه څېـرو سـره څرګنـدېږي. روښانيـان معتقـد دي، چـې يـوازې يـو باريتعـالی پر خپل حال دی.

---

[1] ايضاء، ۳۲۷ مخ

"نی صورت بماند نی حسن و نی ناز
نی محمود ماند نه ناز از ایاز
نی دولت بماندنی ملک و سپاه
نی این حشمت و مال و زرجایگاه
دیگر هرچه بینی و این دهر و داد
نماند بجز ذات پروردگار"[1]

ب: حلول:

د بایزید روښان په آثارو، په تېره په حالنامه او خیرالبیان کې د حلول مفکوره د هغه له صوفیانه او عارفانه طرز تفکر سره تړلې ده. اخوند دروېزه د خپلو اتهاماتو یا انتساباتو په لړ کې پر بایزید روښان باندې یوه د حلول مفکوره هم ورمنسوبوي او وایي، چې:"کله یې دا ویل: یارانو! خدای په خلق کې محو شوی، لکه مالګه په اوبو کې، یا دانې په ګیاهونو له هر چا سره یو شوی."[2]

"د حلول پلویان وایي چې خدای په ټولو شیانو کې حلول کړی او پکې ګډ شوی دی، لکه خوږوالی په خرما کې. له اتحاد او حلول څخه مراد دا دی چې دوه شیان داسې یو تر بله سره ګډ شي چې په حکم کې یو شی وګرځي، لیکن توپیر او فرق په هغه ځای کې دی چې اتحاد له خالق سره د مخلوق

---

[1] ایضاء، ۳۳۰ مخ

[2] اخوند دروېزه، مخزن، ۱۳۱ مخ

د اتحاد په مانا دی په داسې حال کې چې د حلول مذهب وایي چې خدای په خپلو مخلوقاتو کې حلول کوي او دا دواړه مذهبونه د وحدت وجود له مذهب څخه توپیر لري."([1])

په اسلامي مدنیت کې زیاتو متفکرینو پر حلول باندې باور درلود ان تر دې چې تر څو پیړیو پورې یې دوام کړی دی. ډاکتر ذبیح الله صفا لیکي:

"په مسلمانانو کې هغه پخوانی سړی چې د حلولي افکارو په خپرولو یې پیل وکړ، عبدالله بن سبا دی چې د علي بن ابیطالبؑ په باب یې غلو کاوه او د هغه په الوهیت معتقد و او کله چې یې د هغه د قتل خبر واورېده، ویې ویل علي نه دی مړ، بلکې شیطان و چې د هغه په څېره کې راغی او علي آسمان ته پورته شو. د سبائیه فرقې ځینو کسانو تصور کاوه چې علي د ورېځو په منځ کې پټ دی. تالنده، بربښنا او آواز د هغه متروکي دي. دوی عقیده درلوده، چې علي به آخر له آسمانه راکوز شي او ټوله نړۍ به ونیسي."([2])

په اسلامي نړۍ کې د "بیانیه" فرقې په نوم کسانو هم دا باور درلود. "مغیریه" فرقه هم چې د مغیره بن سعید العجلي چې د محمد بن عبدالله بن حسن بن علي پر مهدویت یې عقیده درلوده پر حلول یې هم عقیده درلوده.

---

[1] صدیق روهي، "روښان پېژندنه" کابل، ۱_۲ ګڼه، (کابل: د علومو اکاډمۍ، ۱۳۶۷مخ)، ۲۶ مخ

[2] ذبیح الله صفا، تاریخ ادبیات در ایران، ۲ ټوک، ۶۲ مخ.

نوري زياتي فرقي هم لکه "حربيه" هم پر دي معتقده وه. "دامیه" فرقي هم چې د ابو مسلم صاحب الدعوه په باب يې مبالغه کوله او امامت يې تر سفاح وروسته د ابو مسلم حق باله او د ابو مسلمه په نامه يوه فرقه په مروه کې جوړه شوه. دوی هم باور درلود چې د حلول له لارې د خدای روح په ابو مسلم کې د الوهيت درجې ته رسيدلی او په دې ډول له جبرائيل، ميکائيل او نورو ملايکو څخه يې برتر بلله. په هرات او مروه دواړو ښارونو کې يې نفوذ درلود او د "برکوکيه" په نامه يې هم شهرت درلود. ددغه فرقې له پيروانو څخه چې به چا وپوښتل چې د منصور په امر څوک ووژل شو؟ دوی به ويل هغه شيطان و، چې د خلکو په سترګو کې د ابو مسلم په څېر ښکارېده.

"راوندیه" فرقه هم پر حلول عقيده منده وه. مشهور حکيم هشام يا هاشم، چې په المقنع مشهور و، د هغه پيروانو هم عقيده درلوده "چې لاهوت په هيکلونو کې سير کوي او د خدای روح په آدم او له هغه نه نوح، ابراهيم، موسی، عيسی، محمد، علي او د هغه په اولادونو او وروسته ابو مسلم او بيا په المقنع کې حلول کړی دی. په دې ډول المقنع هم د خدايی دعوه درلوده. دوی د خپلو پيروانو لپاره نوی دين راوړ او د ترک له طوايفو سره په يووالي کې څو کاله د اسلام د سپاهيانو په وړاندې جنګېدل، چې په ۱۶۱هـ کال کې ووژل شو او پيروانو يې د پنځمې پېړۍ تر لومړيو پورې شهرت درلود."[1]

[1] ايضاء، ۶۳ مخ.

په دې ډول کله چې په اسلامي مدنیت کې د "غلات" د فرقې په څېر نورې زیاتې افراطي فرقې وینو، نو د حلول مفکوره په اسلامي مدنیت کې څه نوې خبره نه ده. دا چې له اهل سنت و جماعت څخه مخالفه لاره ده او په شریعت کې نه شته، بېل سوال دی، خو د زیاتره متصوفینو په افکارو او عقایدو کې یې لیدلای شو.

بایزید روښان هم د اسلامي مدنیت یوه افغاني پدیده ده. حلول یې د تصوف او وحدت الوجود په قالب کې مطرح کړی دی. د بایزید روښان عقیده په دې باب هم په خیرالبیان او حالنامه کې جوته شوې ده. نومورې وایي خدای په مخلوق کې او مخلوق په خدای کې دی. د هغه په عقیده د کاپناتو ټول تش ځایونه د خدای په واسطه ډک شوي دي. "بین السماء والارض کان ملئو بذات الرحمن و کان فی کل مکان (میان آسمان و زمین هست پری بذات خدای و هست آن خدای در هر مکان) هادی ویلي دي رحمت د خدای په ده دا کلام."([1])

بایزید روښان په خپرالبیان کې وایي: "ګوره ادمیان زما په هست کې دي، زما هست ده په ادمیان لکه کبونه په اوبو کې او اوبه په کبو کې لکه کبونه په اوبو ژوندي وي، هسې په ما ژوندي دي آدمیان."([2])

---

[1] بایزید روښان، خیرالبیان، ۲۶۸ مخ

[2] ایضاء، ۲۶۹ مخ

دغه راز په يوه بله برخه کې هم وايي: " ذات الله تعالى كان في الانسان و حول الانسان كالمافى حيتان و حول الحيتان (ذات خدای هست در آدمی و گرد (د) آدمی چنانچه آب هست در ماهی (و گروماهی) هادی ویلي دي رحمت د خدای په ده دا کلام."(1)

ددغه ډول عقايدو او افکارو په تعقيب کې بايزيد روښان د انسان لپاره د کمال منازل او مقامات ګوري، يعنې هغه څه او هغه درجې لتوي، چې نومورې په خپل سير و سلوک کې څرګند کړي او د همدې بحث په لومړيو برخو کې مو ورته اشاره وکړه. د مثال په ډول کله چې هغه د وصلت په مقام کې ځان له خدای سره يوځای کوي، وايي:

"يادوي دې زما هستي په هغه ياد چې دده هستي زما په هستي کې ورکه شي او ورک دی ګمان، ګمان د وجود اداميان".

په دې ډول هم د هغه په حلولیه افکارو کې هم د هغه د صوفيانه سير و سلوک په پراوونو کې يو تداخل وينو، خو زمور په عقيده زيات باور پردې دی، چې د هغه حلول هم د هغه د سير و سلوک تابع دی او نومورې انسان له خپلو فکري عالي مدارجو څخه وينې. د هغه د انتلوژي او معرفت مهمه او اساسي نقطه هم په دې برخه کې پرته او ځای لري.

[1] ايضاء، ۲۷۰ مخ

د پښتنو پر ژوند او فرهنګ د روښانیانو اغېزې

روښاني غورځنګ، چې د بایزید روښان په پیدایښت (۱۵۲۵ع) او د هغه په سیر و سلوک او طریقت شروع کېږي، د سترو جګړو او مبارزو جریان دی. په سیاسي او اقتصادي لحاظ د مغلو د امپراتوری لپاره د لوی سر خوږ سبب کېږي. د بایزید روښان د کورنۍ د وروستي فرد عبدالقادر په مړینه یا پای ته رسېږي او یا کمزوری کېږي او له هغه وروسته کله چې د جلال الدین زوی کریم داد د دوی د کورنۍ او غورځنګ مشر ټاکل کېږي، په (۱۶۳۸ع) کال

کـې شـاه جهـان د امپراتـوری په وخـت کـې کـریم داد هـم پـه پېښور کې ترور کېږي.

پـه دې ډول روښـانې غـورځنګ پـه پښتونخـوا کـې او پـه ضـمنی ډول د پښتونخـوا پـه شـاوخوا سـیمو کـې نـژدې یـوه پېـړۍ دوام کـوي. پـه دغـه زمـانې فاصـله کـې روښـانې غـورځنګ د پښتنـو پـه عنعنـوي او ایسـتا (ولاړه) ټولنـه کـې یـو پیـاوړی داینـامېزم ایجـادوي، د پښتنـي عنعنـوي ټـولنې پـه سیاسـي، اقتصـادي، ټـولنیز، فرهنګـي او فکـري جوړښـت کـې بـدلون راولـي. سـره لـه دې، چـې روښـانې غـورځنګ د هغـه د وروسـتي مشـر پـه مـرګ سـره کمـزوری کېـږي او عمـلاً لـه مېنځـه ځي، خو د ټولنې پر مستقبل باندې خپل ژور اثرات پرېږدي.

روښـانې غـورځنګ لـه سیاسـي پلـوه د مغلـو امپراتـوری د پښتنـو پـه وړانـدې انعطـافي دریـځ تـه اړ کـوي. پـه اقتصـادي برخـه کـې یـو لـړ پرمختګونـه مـنځ تـه راځـي (چـې البتـه ددې بحـث لـه حوصـلې بهـر کـار دی) او پـه عمـده ډول پـه فکـري او فرهنګـي لحـاظ د پښتنـو پـه ټولنـه کـې د سـترو فرهنګـي بدلونونو او انکشافاتو پیلامه ګرځي.

الـف: پـه اسـلامي تصـوفي فـرهنګ کـې د روښانیـانو د پښتو تصوفي او عرفاني ادب مقام:

د هنـري او ادبـي اسـتعداد (الهـام، تخیـل، رؤیـا) پـه بـاب او دغـه راز چـې څرنګـه د هنرمنـد اهـداف رامـنځ تـه کېـږي او نطفـه

يې ترڅ کېږي، زيات څه نه دي ويل شوي. په دې لړ کې هغه څه چې دې لړ پرې بحث شوی دی، د ناخبره شعور (ناخودآګاه) او اشراق پر نقش باندې، چې د خلاقيت په لړې کې مهمه پديده ده، هم څه نه دي ويل شوي.

د اشراق مفهوم د لومړي ځل لپاره د لرغوني يونان په فلسفه کې ځای ونيو. د اشراقي پوهې منطقي ماهيت هم په دې کې دی، چې د شناخت او تفکر د اختصار امکان او وس لري. اديب او متفکر د خپل ناخبره شعور له کلونو کلونو آرشيف څخه صيقل شوي مواد او افکار شعوري او خبري سطحې ته راباسي، په دې دول بې ځايه به نه وي چې اشراق په ناخبره شعور کې د ناخبره شعور عنصر وبولو.

د بحث له دې دول پيل څخه زمونږ هدف دا دی، چې څرنګه څرګند کړو، چې عرفان، تصوف او ادبيات يا د ادبياتو يو مشخص عنصر يعنې شعر سره تينګې اړيکي لي.

(له کومه ځايه چې شعر او شاعري، تصوف او عرفان په زياترو مواردو کې ګډې خواوې لري او د عواطفو، ذوق، شور، احساسات او عشق له يوې منبع څخه الهام اخلي، نو په دې دول صوفيانو او شعراوو دېر ژر يو بل سره پيدا کړل او يو له بله نژدې شول.([1])

مونږ په دې باب سکولاستيکي بحث نه کوو، چې کومه

---

[1] زين العابدين موتمن، شعر و ادب فارسي. (تهران: لاله زار، ۱۳۳۲)، ۶۲مخ

یوه ډله دمخه شوه، خو دومره باید ووایو چې شاعر او متصوف د متقابلو اغیزو په رنا کې یو بل سره پیدا کړل. باید څرګنده کړو چې تصوف یوه مسمی او مرامي موضوع ده. حال دا چې شعر د نظر او بیان او مطلب د څرګندولو له وسیلې پرته بل څه نه دی. شعر په اصل کې د تصوف لپاره چې د مکتب او هدف لرونکی دی د اغیزو له چټکتیا بل څه اثر لرلای شي.)[1]

د اسلامي فرهنګ د پراختیا په لړ کې په ټولو پېړیو او زمانو کې د متصوفینو او عارفانو چلند له شعر او شعري ادب سره یو ډول نه و.

په لومړۍ او دویمه هجري پېړۍ کې، تصوف یوه ساده عملي طریقه وه، چې پر زهد، عبادت او شریعت د احکامو پر امر و نهی ولاړه وه. په درېیمه پېړۍ کې اسلامي فرهنګ ته علومو او یوناني فلسفې لار پیدا کړه او څینې مسایل لکه وحدت وجود، فنا فی الله او نور مسایل تصوف ته داخل شول. په لومړیو پېړیو کې صوفیانو د رسمي علامو استدلال او کتاب او تالیفاتو خاوندان په ملنډو یادول او (د معرفت د حصول شرط یې دا باله، چې د زړه لوح باید د مدرسې له زده کړو او نقش څخه پاک شي او تر هغه چې صفا او ساده ګي حاصله نه شي ناکېدونې

---

[1] ایضا

ده، چې د الهي معرفت د نقش منلو ته آماده شي.) ([1])

پر ځای به وي، چې د مشهور څېړونکي او پوه ډاکتر قاسم غني له قوله د څو تنو مشهورو صوفيانو او عارفانو عکس العمل څرګند کړو.

(کله چې له حبيب عجمي څخه چې عامي او امي سړی و کرامت څرګند شو، حسن بصري چې يو عمر يې زده کړه کړې وه له هغه وپوښتل (ای حبيب اين بچه يافتی؟ گفت بدانکه من دل سفيد ميکنم و تو کاغذ سياه.) ([2])

ابراهيم ادهم ويلي دي:(درين طريق هيچ چيز برمن سخت تر از مفارقت نبود که فرمودند که مطالعه مکن.) جنيد بغدادی ويلي دي:(چون حق تعالی بمريدی نيکی خواهد اورا پيش صوفيان افگند و از قرايان باز دارد. نقل است که گفت نشايد که مريد آنرا چيزی آموزند مگر آنچه در نماز بدان محتاج باشند و فاتحه و قل هوالله احد تمام است و هر مريدی که زن کند و علم نويسد از وی هيچ نيابد.)([3])

و شيخ ابو سعيد ابوالخير گفته که (بايزيد بسطامي گفت حق تعالی فرد است اورا بتفريد بايد جستن. تو اورا در کاغذ جويی کی يابی.)([4])

---

[1] قاسم غني. تاريخ تصوف در اسلام و تطورات و تحولات مختلفه آن. ج دوم، ق اول (تهران: ۵۰۶مخ)

[2] همدغه اثر، ۵۰۷ مخ

[3] ايضا

[4] همماغه اثر، ۵۰۸ مخ

جنيد بغدادي وايي:(عارف آن است كه حق تعالى از سير او سخن گويد و او خاموش.)([1])

ددغه ډول اظهاراتو يو عمده دليل همدا و، چې كله صوفيانو علم بد باله او د حقيقت د پوهيدو لپاره يې بې نتيجې، نو په دې ډول صوفي شرع، علم عقل او نقل د شهود او قلبي وارداتو په كشف پورې مربوط بولي او په دې عقيده دى، چې د زړه په صفايي سره د خداى معرفت حال او مشاهدې ته رسېږي. ان تر دې چې د فنا فى الله له لارې به بقا بالله ته ورسيږي، نو په دې ډول يې رسمي علوم او كسبي معارف بشپړ نه بلل.

خو د اسلامي فرهنگ په ټولو دورو كې مساله په دې ډول نه وه. صوفيانو خپل مطلوب ته له رسيدو څخه دمخه د رسمي او كسبي علومو په زده كړو پيل وكړ. پر عربي او فارسي ادبياتو او آثارو يې بشپړه احاطه درلوده. ځينو يې او صوفيانو په ظاهري علومو كې جوتېږي، چې زياتره ستر عارفانو ستر قيمتي او ارزښتناك آثار هست او ايجاد كړل. وايي چې حسين بن منصور حلاج شپږ څلويښت اثره تاليف كړي وو.

د متصوفينو منثور آثار پر دوو دورو وېشلای شو. يوه د ساده تاليفاتو دوره او بله هم د علمي تصنيفاتو دوره.

---

[1] ايضا

په لومړی دوره کې د صوفیانو آثارو د رسالو شکل درلود، چې د ځینو شپخانو او صوفیانو له خوا پر خپلو شاګردانو د زده کړې لپاره لیکل کېدل او د ادب او سلوک په باره کې به یې موضوعات لرل او یا به یې د صوفیانو په حلقو کې ځینې بحثونه کول او د هغوی شاګردانو به لیکل، چې زیاتره پر آیاتو او احادیثو باندې ولاړ و.

دویمه دوره د صوفیانو علمي تصنیفات وو یعنې چې فلسفي او حکمت ورته لاره کړې او علومو رواج موندلی و او په دیني بحثونو کې یې نفوذ کړی و او ځینو حکماوو او علماوو له فلسفې او حکمت سره بلدتیا پیدا کړې وه.

په دې دول د تصوف مضمون او موضوع هم په شعر او هم په نثر کې جوته او څرګنده شوه.

ـ په نثر کې: زیاتره مسایل لکه د خدای حقیقت، عالم او د الهي ذات د صفاتو، معرفت د هستونې یا افرینش علت د خلقت اسرار، وحدت وجود د روح او بدن او نور فلسفي مسایل په نثر کې څرګند او توضیح کړل. کله چې په اسلامي فرهنګ کې فلسفه او حکمت ځای نیسي، صوفي هم په زیاتو فلسفي مسایلو لکه نفس، عقل، عالم صغیر، عالم کبیر، اعمال او افعال، جبر او سیر د عوامو طبقه پندي او نورو باندې د اساسي مسایلو په توګه بحث کوي. په دې دول تصوف علمي او فلسفي بنسټ پیدا کوي او په تدریج سره محی الدین ابن عربي او د اوومې پیړۍ علمي تصوف ته لاره هواروي..(۱)

---

[1] هماغ اثر، ۵۵۱ مخ

ژرګنـده ده، چـې د علمـي او فلسـفي مسـايلو توضـيح او ژرګنـدولو او بيـان تـه مناسـبه ژبـه نشـر دی، پـر همـه ي اسـاس غـوره نشـري آثـار د متصـوفينو لـه خـوا مـنځ تـه راغلـه، خـو د قلبـي وارداتـو او احساسـاتو او احـوال د ژرګنـدولو لپـاره مناسبه ژبه شعر و.

پـه دې دول تصـوف همېشـه لـه شـعر او شـاعری سـره سـروکار درلـود، ان تـر دې چـې د صـوفيه دسـتور تاليفـاتو هـم لـږ زيـات شـعري رنـګ درلـود، ځکـه صـوفي د زړه څنېسـتن دی او د ذوق، خيـال، عـاطفې او احساسـاتو پـه رنګينـو شـاعرانه خوبونـو کـې الـوتنې کـوي. پـه دې دول د صـوفي لپـاره ښـه ژبـه، چـې وکـولای شـي د زړه ترجمـان شـي او احساسـات ژرګنـد کـړي، شـور و شـوق وجـد او حـال ژرګنـد کـړي. احساساتي ژبـې يعنې شعر ته رجوع کوي.

مشـهور صـوفيان او عارفـان سـره لـه دې، چـې پخپلـه هـم د شـور او احسـاس خاونـدان وو او پـه طبيعـي توګـه يـې لـه شـعر سـره مينـه درلـوده، وعـظ او ذکـر پـه مجالسـو او د متصـوفينو پـه کړيـو او غونـډو کـې قصـداً شـعر وايـه او شـعر ويـل يـې د خبرو د اثر لازم ګڼل.

لکـه څنګـه چـې:(لـه اسـرارالتوحيد څخـه جوتېـږي، شـيخ ابـو سـعيد ابـو الخيـر د تـذکر او وعـظ پـه مجالسـو کـې غالبـاً پـه شعرونو سـره تمثيـل او بيـان کـاوه او دا کـار پـه هغـه وخـت کـې د زاهـدانو لـه خصـلته سـره مخـالف و. پـه دې دول لـه سـخت

مخالفت سره مخامخ شو چې د مېز پر سر د قرآن تفسیر او اخبار پرځای بیت وایي.)([1])

په دې ډول شعر او ادب د تصوف او عرفان د اهدافو د بیان او څرګندونې او لپرډونې بنه او غوره وسیله شوه. د شعر مختلف شکلونه لکه قصیده، مثنوي، غزل، رباعي او نور ټول درګرده د عشق، مینې، محبت، صداقت، توصیه او نورو پېچلو مسایلو د بیان وسیله شوه.

د مثنوي په قالب کې ستر آثار منځ ته راغله، چې اوس د نړۍ له سترو شاهکارونو څخه ګڼل کېږي او مشهور مثال یې د مولینای روم مثنوي معنوي ده.

غزل تراوسه هم د عشق او محبت لپاره ښه قالب دی او د شعر نور شکلونه هم دا ډول.

ب: روښانیان او پښتو صوفیانه ادب:

پخپله بایزید روښان د خیرالبیان، حالنامې، صراة التوحید، فخرالطالبین، مقصود المومنین مولف او د پښتو د رسم الخط هستوونکی او مبدع دی. دغه راز د بایزید روښان، پیروان او د کورنۍ عالمان غړي، مشران او خلفا هم د دیوانونو، آثارو او تالیفاتو خاوندان وو، چې له هغه جملې ارزاني خوښکی، مېرزا خان انصاري، واصل روښاني، علي محمد مخلص، دولت لوانی، کریمداد، قادر داد،

[1] هماغه اثر، ۵۵۳ مخ

اورکـــزی روښـــاني او نـــورو مشـــهورو مولفينـــو، شـــاعرانو، متصـوفينو او عارفـانو پښتنـي راکـدې او ولاړې ټـولنې تـه يـو فکـري ټکـان ورکـړ. اسـتاد کامـل مومنـد پـه خپـل اثـر کـې پرځـای دا خبـره يـادوي يـا راوړي، چـې:(...د هغـه د تحريـک مـذهبي او علمـي اړخ د پښتنـو ذهنونـه او دماغونـه رابيـدار کـړل او کـه د هغـه مـذهبي، صـوفيانه، يـا فلسـفيانه عقايـدو او افکـارو سـره لکـه چـې پـه کـار دی څـوک اخـتلاف هـم لـري... هغـه لـه بـه ضـرور د ښـاغلي صـاحبزاده حبيـب الـرحمن قلنـدر د ډېـرې مناسـبې او ښکلـې وينـا مطـابق ددې خبـرې ډاډ ورکـوي چـې هغـه پښتـو د مقررينـو يـوه لويـه طبقـه راغونـډه کـړه او د هغـوی صـلاحيتونه يـې رابرسـيره او جـوت کـړل. ددې د نتـيجې پـه طـور بـه پښتونخـوا کـې يـو لـوی صـوفيانه ادب پيـدا شـو، چـې د هغـه يـوه لويـه برخـه نـه صـرف لـه علمـي نقطـهء نظـره، بلکـې د فـن او ادب لـه رويـه هـم ډېـره اوچتـه او د سـتاينې ور ده. دا ادب اکثـر او بيشـتر پـه نظـم کـې دی او دده پـه تخليـق کـې د ارزانـي خوښـکي، مخلـص، د بايزيـد د لمسـي ميـرزا او شيخ دولت لوانې نامې خاص طور د يادونې دي.)[1]

پـه دې ډول ددې بحـث پـه ټـاکلې مقطـع کـې دې خبـرې تـه هـم رسـېږو، چـې روښـاني غـورځنګ د پښتنـو پـه ادب او فـرهنګ کـې هـم خـاص اتموسـفير ايجـاد کـړ. دې غـورځنګ پـه څرګنـد او

---

[1] دوست محمد کامل مومند، رحمن بابا، (پېښور: اداره اشـاعت سـرحد، ۱۹۵۸)، ۱۰مخ

جوت ډول عرفاني او تصوفي ادب پښتو ادبياتو ته رانه ايست. دې غورځنګ د ښځو حقوق رابرسېره او له نارينه وو سره عملاً مساوي اعلام کړل. دې غورځنګ سپېڅلي کتابونه په پښتو وکښل. دې غورځنګ په پښتني فرهنګ کې د موسيقۍ تکامل ته لاره پرانسته.

په اسلامي مدنيت کې تصوفي ادب د تنوع او غنا له پلوه ځانګړی ارزښت لري. دغه ادب هم د نظم له پلوه او هم د نثر له پلوه، هم د فلسفي افکارو، هم د اخلاقو، هم د تاريخ او هم د تفسير او هم د مناجاتو حديث، سماع او بيان لپاره ډېره ښه او په زړه پورې وسيله ده.

زرين کوب ليکي: "تصوفي ادب له عرفاني تمثيلاتو او حکاياتو څخه نيولې تر قلندري غزلياتو او شطحياتو پورې سرشاره تنوع او غنا لري او د هغه ژورتيا او اصالت له مخې چې په کې شته نه يوازې د سيترامهارت، سن فرانسوا، سانتا ترزااواز تر يوه حده د ابن فارض، عطار او مولوی آواز څرګندوي، بلکې په څرګنده يې جوتوي چې تر زياته حده د لويديځ عرفان کولای شي د شرقي ذوق حکمت له سرچينې څخه فيض واخلي."[1]

مونږ غواړو په دې بحث کې يوازې د روښاني غورځنګ د پيروانو پر ادبي او فرهنګي نقش څه ووايو. د کار د اسانۍ

[1] عبدالحسين زرين کوب، ارزش ميراث صوفيه، څلورم چاپ، (تهران: سپهر، ۲۵۳۶)، ۱۲۸ مخ

لپاره به ښه دا وي، چې لومړی د دغه غورځنګ د مشهورو شاعرانو لنډه پېژندنه وړاندې کړو او وروسته د هغوی د هنري ادبي کار د عمده تصوفي منابعو او موضوعاتو په باب خبرې وکړو:

بایزید روښان د خپل فرهنګي او عرفاني فعالیت په ترڅ کې دېر زیات معتبر او قدرور آثار لکه خیرالبیان، مقصود المومنین، فخرالطالبین، حالنامه او صراط التوحید لیکلي. نومورې په دغو آثارو کې د خپل سلوک او طریقت او عرفاني لارې لارښوونې کړې، مریدان یې پر ځان راټول کړي او د خپلو سرتېرو مریدانو یو لوی لښکر جوړوي. د هغه د تصوفي او عرفاني نفوذ ساحه پراختیا مومي، له محلي حکومتونه او متنفذو روحانیونو سره د خپل نفوذ د له منځه تللو وېره او ترهه پیدا کېږي او د تضادو قطبونو د منځ ته راتلو سبب کېږي. له فکري پلوه ټولنه انقطاب پیدا کوي. د عرفان او شریعت په اشکالو کې څرګند فکري بېلتون او دوه والی منځ ته راځي.

خو د روښان پیر په خوا کې تر هغه وروسته د هغه د کورنۍ غړیو او د هغه مریدانو زیات او باارزښته منثور او منظوم آثار پرېښودل، چې تر دغه وخته یې په پښتنې ټولنه کې په بشپړه توګه ځای خالي و.

د بایزید روښان انصاري هغه پیروان او مریدان ، چې د داسې فرهنګي، ادبي آثارو خاوندان دي چې د عرفاني او

تصوفي افکارو حامل وو، په دې ډول دي:

۱ـ ارزاني روښانی

۲ـ دولت لوانی

۳ـ میرزا خان انصاري

۴ـ واصل روښانی

۵ـ میر خان روښانی

۶ـ قادر داد روښانی

۷ـ علي محمد مخلص

۸ـ اورکزی روښانی

۱ـ ارزاني روښانی:

ارزاني د پنجاب په قصور کې زېږېدلی او لوی شوی دی.

ارزاني روښانی د پیر روښان له ډېرو مشهورو مریدانو او خلفاوو څخه و. نومورې د پښتنو په خوښکي قبیلې پورې اړه درلوده او د پلار نوم يې برهان و. د ارزاني دوه ورونه نور هم چې علي محمد مخلص او ملا عمر نومېدل، د پیر روښان له ډېرو مخکښو مریدانو څخه ګڼل کېدل. ارزاني د خپلې دورې فصیح او بلیغ شاعر و، چې پر پښتو سربېره يې په فارسي، عربي او هندي هم اشعار ویلي دي، بلکې په دغو درېو وارو ژبو کې يې لکه د پښتو دیوانونه پرېښي دي، خو له پښتو دیوان پرته يې نور دیوانونه ترلاسه شوي نه دي.

اخون درويزه په خپل اثر تذكرة الابرار والاشرار كې د ارزاني د عقل، فهم او قابليت يادونه كوي او حتى تر دې حده يې ليكلي، چې د خيرالبيان په ليكلو كې د ارزاني لوى لاس و.

همېش خليل په خپل اثر ورکه خزانه كې ليكي:

(ارزاني يو صوفي او سالک شاعر و، چې کلام يې د توحيد او عرفان ترجماني کوي، د تصوف او معرفت رازونه يې د شعر په ژبه بيان کړه او دغه شان پښتو کې يې د صوفيانه او عرفاني شاعرۍ نوی باب پرانيست.

ارزاني د وحدت الوجود مسايل بيان کړي دي او تولې شاعري يې هم ددغه مسئلې سره اړه لري. هغه د الله تعالى د ذات نه د بل هېڅ څيز د وجود قايل نه دی. ارزاني چونکه همدغه خيال په خپلو اشعارو کې رنګ رنګ پېش کړی دی، همدغه وجه وه چې د ارزاني شاعري د عوامو د عقل، فهم او پوهې له سطحې ډېره اوچته ده. ارزاني په پښتو ادب کې د سلوک او تصوف د باريکو اسرارو د ملک رومبی موسس دی چې پښتو کې يې د تصوف د هسکې مناري بنياد کېښود.)[1]

۲_ دولت لوانی:

دولت لوانی د روښاني غورځنګ مشهور شاعر او پياوړی مبلغ و. دولت د داد الله زوی، حسن خپل لوانی دی. مور يې وردګه وه.

---

[1] همېش خليل، ورکه خزانه، ا ټ، (پېښور: ن، م) ۳۹۲ مخ

دولت لوانی د روښانې غورځنګ هغه وحدت الوجودي مبلغ شاعر دی، چې مرتب آثار او بشپړ دیوانونه لري. دولت لوانی په پښتو ادب کې هم په همدغه نامه یاد شوی دی. نومورې په خپله زمانه کې د (فقیر دولت) په نوم هم یاد شوی دی.

استاد عبدالشکور رشاد د دولت لوانې د دیوان په سریزه کې کښلي دي:

"... له یوې خوا دولت په خپلو اشعارو کې ځان د پیر روښان (۹۸۰هـ ش) مرید څرګندې کړی دی او له بلې خوا د دولت په نامه د پیر روښان یو خلیفه هم شته او سربېره پر دې بایزید روښان او روښانیانو دغه خلیفه دولت او دولت لوانی شاعر یو بلل شوي دي، نو ماته دا اټکل لږ څه د څېړنې وړ ښکاري..."[1]

استاد په خپله لیکنه کې ددې خبرې څرګندونه کوي او د دولت د شعرونو په استناد جوتوي، چې سره له دې چې دولت د علي محمد مخلص او د پیر روښان د لمسي او پیاوړي وحدت الوجودي شاعر میرزا خان انصاري څخه روحاني، مسلکي اداري استفاضه کړې ده، خو د نومورې له اشعارو جوتېږي، چې هغه په سیده توګه له پیر روښان او ارزاني څخه فیض موندلی دی. استاد د خپل استدراک او

[1] دولت لوانی، دیوان، "پوهاند عبدالشکور رشاد په سریزه" (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۵۳)، ۶ مخ

ځېړنې لـه مخـې جوتـوي، چـې کېـدای شـي دولـت هـم د پيـر روښان بې واسطې مريد ومنل شي.

دولـت لـوانی هـم د روښـاني غـورځنگ د نـورو مشـهورو شـاعرانو پـه څېـر د تصـوف او روښـاني طـريقې بېلابېلـو پړاوونـو او عقايـدو د توضـيح او تشـرېح لپـاره خپـل شـعر او کـلام وقـف کـړی. د هغـه پـه غزلـو او قصـايدو کـې د هغـه روښاني فکري سير په ډاگه جوتيږي.

۳_ مېرزا خان انصاري:

ميـرزا خـان د نورالـدين زوی، د بـي بـي شمسـو لـه لارې د بايزيـد روښـان لمسـی دی. د نومـوړي د زېږېـدو نېټـه نـه ده معلومـه، خـو پـه (۱۰۴۰هـ ق) کـال کـې پـه دکـن کـې پـه يـوه جگړه کې شهيد شوی دی.

مېـرزا خـان انصـاي د روښـاني نهضـت د ادبـي افـق يـو ځلانـده سـتوری دی. د نومـوړي د ديـوان پـه هـره برخـه او هـر شـعر کـې د روښان پير فلسفي او تصوفي افکار منعکس او څرگند دي.

مېـرزا خـان هـم د ارانـي او دولـت لـواڼي پـه څېـر پـه خپلـو شـعرونو او غزلـو او قصـايدو کـې روښـاني مفکـورې او د روښـان فکـري سـير تـه ځـای ورکـړی دی. د هغـه ديـوان پـه هـره برخه کې د همدې مسالې ښه څرگندوی دی.

اسـتاد عبـدالحی حبيبـي وايـي:" د دولـت او ارزانـي او ميـرزا انصـاري کـوم قصـايد چـې اوس مـوږ تـه پاتـه دي، د

مضمون او انسجام له پلوه بالکل نوي کړه وړه لري او داسې ښکاري چې د سنايي تر فکري تحول وروسته د تصوف او حکمت و موعظت قصايد او بيا د شيخ فخرالدين عراقي د جذبې او حاله دکې ويناوې په دغو او قاتو کې دوني مقبولې شوې وې چې د رندانو او د زړو د خاوندانو بزمونه هم په دغو خبرو تاوده وو او د پير روښان د مکتب شاگردان هم ټوله په دغو مردافگنو ميوست وه."[1]

۴ـ واصل روښانی:

واصل روښانی هم د ديوان څښتن او د ښې ادبي او شعري قريحې خاوند و، چې د لسمې هجري پيړۍ د دويمې نيمايي په وروستيو لسيزو کې يې ژوند کاوه.

واصل روښاني هم د بايزيد د لارې مبلغ او د هغه شعر او ديوان هم د روښان د فکري سير او سلوک توضيح او تشريح ته وقف شوی دی.

محترم زلمي هيوادمل د واصل په باب د هغه د ديوان په سريزه کې ليکلي:

"... د روښان پير د مکتب فکر تابع و، نو ښکاري چې د روښاني تصوفي لارې زده کړه به يې د همدې لارې له نورو علماوو څخه کړې وي.

... د ديوان او نورو آثارو مطالعه يې ښکاروي، چې دی

---

[1] عبدالحی حبيبي، د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده، (کابل: علومو اکاډمی، ۱۳۵۷)، ۳۸ مخ

د اوچتي علمي پايې خاوند شاعر و. واصل په پارسي او عربي ژبو هم پوهېده او ددغو ژبو د آثارو ښه مطالعه يې درلوده. د تصوف په باريکو لارو يې يون کړی و..."[1]

څېړونکی زلمی هېوادمل په خپله څېړنه کې د واصل د ديوان موضوعي ځانګړنې په دې ډول تشريح کوي:

"... د واصل د ديوان عمده او اساسي برخه د روښاني تصوفي لارې تلقين ته وقف شوې ده او د وحدت الوجود د تصوفي لارې ټولې باريکۍ يې په دقت سره په خپل شعر کې رانغښتې او بيان کړې دي. د روښاني تصوفي لارې ټولې ځانګړنې ددې په شعر کې ليدای شي او د روښاني تصوف د اتو مقامونو شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، تشريح او تفسير يې هم ځای ځای په خپل کلام کې کړی دی..."[2]

۵ـ ميرخان روښانی:

د لوی استاد عبدالحی حبيبي په قول د دولت لوانې په ديوان کې (ص ۲۵۲ د کابل طبع) يوه اوږده قصيده د مير خان په نامه شته، چې تر ۱۰۰ بيتو زياته ده. دا سړی هم د روښاني مکتب شاګرد ښکاري.

د ادبي ستوري مولف د خپل اثر په دوهم ټوک کې ليکي، چې:

---

[1] زلمی هېوادمل، واصل روښاني ديوان، (کابل: علومو اکاډمی، ۱۳۶۵)، ۹ مخ

[2] همدغه اثر، ۱۲ مخ

"د دولت لوانې په ديوان کې د ميرخان د يوه اوږده بيان لاس ته راتللو دا وښوده، چې ميرخان د دولت معاصر روښانې شاعر دی او له دولت سره د زيات نږدې والي او ناستې پاستې له کبله به يې شعر دده لاره موندلې وي."([1])

نومورې زياتوي:"د ميرخان نوره وينا په لاس کې نشته، خو دا ترلاسه شوی پاڼکی ښيي چې دی هم د نورو روښانې شاعرانو غوندې د پخې، ښې او خوږې وينا خاوند و او په خپلو شعرونو کې يې د سلوک باريکې نکتې ادا کړې دي."([2])

داسې جوتږي، چې ميرخان روښانی د خپل وخت روښانې مبلغ اديب او شاعر و، خو د هغه په باب او د هغه د شعر او ديوان په باب زيات معلومات نه شته.

۶ـ قادر داد روښانی:

قادر داد د محمد زمان زوی، د پيرداد لمسی او د کمال الدين کروسی او د بايزيد روښان کودی و. همېش خليل د ماآثرالامراء په حواله ليکي:

"و چون در سنه (۱۰۴۳هـ) در تعينات کابل روزگارش بسر آمد، سعيد خان بهادر، بی بی الايی زن احداد (که دختر جلاله بود) با دو دامادش محمد زمان و صاحب داد و

[1] حبيب الله رفيع، ادبي ستوری، ۲ ټ، (کابل: اطلاعات و کلتور، ۱۳۵۹)، ۳۶ مخ

[2] همدغه اثر، ۱۲ مخ

قادر داد پسر محمد زمان را بار دیگر همراهان عبدالقادر در سرآغاز سال یازدهم (سن ۱۰۳۷هـ) بدست آورده روانه حضور ساخت".([1])

استاد عبدالحی حبیبي لیکي:"دی هم اوږدې عرفاني غزلې لري چې کله کله یې دغه غزلې د قصیدې درشل ته هم قدم ږدي... قادر داد د روښانیانو په صفت کې د کریمداد بنګښ ترڅنګ (مګر وروسته) د دربدلو حق لري، ځکه چې په کلام کې یې شعریت تر واصل دروند ښکاري. عمومي موضوع خو یوه ده. مګر کله کله هنر هم پکې ځلږې او سړی ویلای شي چې غزل یې د شعر ښکلاوې لري".([2])

همېش خلیل هم په ورکه خزانه کې د دوی یادونه کوي او لیکي، چې قادر داد د پیر روښان د مسلک او نظریې قایل و. کلام یې پوخ ولې برجسته نه دی، خو نومورې دا خبره هم کوي چې اشعار یې روان خو د شاعرانه اوصافو نه عاري دي او د هغه کلام غوره شعرونه قصیدې او غزلې دي، خو مورږ ته دا خبره په زړه پورې ده (چې هغه هم د خپل نیکه پیر روښان د مسلک او د وحدت الوجود د نظریې ترجماني کوي).

۷ـ اورکزی روښانی:

دغه شاعر په قوم اورکزی دی. اصل نوم یې معلوم نه دی، د استاد عبدالحی حبیبي په قول له قادر داد او د هغه د روښانیانو سره محشور او معاصر و. داسې ښکاري، چې

---

[1] همیش خلیل، ورکه خزانه، ۱ ټ، ۳۹۰ مخ.

[2] عبدالحی حبیبي، د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده، ۴۴ مخ

د قادر داد تر مرگ وروسته هم ژوندی پاتې شوی دی.

همېش خلیل په ورکه خزانه کې لیکي، چې له اورکزي څخه صف یو مناجات، دوه قصیدې او څلور غزلې په لاس راغلي او د نور کلام یې څه پته نه شته.

دغه شاعر هم چې نسبتاً نوم ورکی شاعر دی، د روښان د لارې او طریقت مبلغ دی او د هغه له محدود کلام څخه جوتېږي، چې نومورې هم خپل شعر او کلام د روښاني لارې د تبلیغ او انتقال لپاره وسیله کړی و.

"اورکزی هم کله د قادر داد د بایزید روښان د مسلک پیرو او هم د هغه مدرسهء فکر شاعر معلومېږي."

۸ـ علي محمد مخلص:

علي محمد مخلص د ابابکر قندهاري کاسي زوی و. ددغې قبیلې یوه لویه پښه شینواري دي، چې علي محمد مخلص هم د شینوارو پښې ته نسبت درلود. د مخلص پلار د بایزید روښان له زوی جلال الدین روښاني سره په تیراه کې اوسېده. جهانګیر مغول په زمانه کې د جلال الدین له زوی الله داد سره هندوستان ته ولاړ او هلته په شمس آباد کې مېشت شو.

علي محمد مخلص د روښان د کورنۍ یو رښتینی او مخلص مرید و. د علي محمد مخلص پر کلام او طرز تفکر د روښاني لارې اغېزې ښکاره دي. د روښان پیر تصوفي

لاري يـي پـر عمـل او نظـر دواړو ژور اثـر درلـود. د نومـوړي آثـار د روښـانـي لاري پـه بيـانوونکو آثـارو کـې لـه نښـو آثـارو څخـه ګڼل شوي دي.

د بايزيـد روښـان حالنامـه چـې پخپلـه روښـان پيـل کـړې وه، علـي محمـد مخلـص بشـپړه کـړې ده. پـر حالنامـه سـربيره علـي محمد مخلص د اشعارو د ديوان خاوند هم دی.

علـي محمـد مخلـص يـوه منشـوره رسـاله هـم لـري، چـې د کابـل مجلـې د ۱۳۶۷کـال پـه ۱ـ۲ ګڼـه کـې د زلمـي هېوادمـل له خوا چاپ شوې ده.

هېوادمل ددغې رسالې او د مخلص د طرز تفکر په باب يادونه کوي:

"دا رسـاله علـي محمـد مخلـص پـه پښتـو نثـر کښلـې ده او د خپلـو ويناوو او کښنـو د لا قـوي کولـو پـه منظـور يـې د استشـهاد لپـاره خپـل او د ځينـو نـورو روښـاني شـاعرانو دغـه راز د ځينـو پارسـي ژبـو شـاعرانو لکـه مولينـا جـلال الـدين (شپږ سـوه څلـورم ـ شپږ سـوه دوه اويـايم هـ.ق) او نـورو بيتونـه د احاديثو او آيتونو ترڅنګه راوړي دي.

دا رسـاله تصـوفي مسـايل بيـانوي. تراوسـه نـه ده چـاپ شـوې، يـوازې يـوه خطـي نسـخه يـې د کلکـتې پـه بنګـال ايشـاتک سوسـيايټي کـې د ميـرزا او ارزانـي لـه ديوانونـو سـره يوځـای پـه يـوه وقايـه کـې خونـدي ده، تـول مخونـه يـې شپږ ويشت دي."([1])

---

[1] زلمی هېوادمل، "د مخلص منشوره رساله"، کابل ۱ـ۳ ګڼه، (کابل: پښتـو ټولنـه، ۱۳۶۷)، ۳۶ مخ.

* * *

مورِ په څو پورتنيو کرښو کې يوازې د هغو کسانو نومونه او د فرهنګي ادبي کار په باب لنډه يادونه وکړه، چې د خپلو ادبي هڅو په ترڅ کې يې د روښاني غورځنګ او روښاني طرز تفکر لپاره کار کړی او دغه نړۍ ليد يعنې د روښان تصوفي او عرفاني افکارو ته يې په خپلو آثارو کې ځای ورکړی، په سيستماتيک ډول يې دغه افکار روزلي او تشريح کړي دي.

د بايزيد روښان تر خپلو اصلي افکارو يعنې حالنامې، خيرالبيان، مقصود المؤمنين او نورو وروسته د هغه افکار او سلوک او طريقت تر زياته حده د احساساتو په ژبه يعنې د شعر په ژبه بيان شوي او ددغه کار بانيان او ترسره کوونکي هم دغه شاعران او فرهنګيان دي، چې دمخه مو يادونه وکړه او پېړۍ وروسته يې پر پښتو ادب او فرهنګ باندې خپله غوڅه اغېزه پرېښوده.

ج: په روښاني ادبياتو کې تصوفي مضمون:

لکه چې دمخه جوته شوه، د روښانيانو د غورځنګ مشر بايزيد انصاري د روښانيانو د فکري او تصوفي مکتب مؤسس هم دی. نومورې په خپلو مشهورو او معتبرو آثارو لکه خيرالبيان، صراط التوحيد، مقصودالمؤمنين او حالنامه کې په مفصله توګه خپل تصوفي او عرفاني افکار

بيانوي. پخپله بايزيد روښان د شور و شوق، وجد او حال خاوند صوفي دی. هغه په همدې لړ کې د خپل وخت دننه د انسان د اشتياق او شور په وړاندې ټول ديوالونه ونړول. سماع يې رواج کړه، موسيقي ته يې پاملرنه وکړه او د شعر په ژبه يې خپل مقاصد، اهداف او افکار بيان کړل. بايزيد خيرالبيان په مسجع نثر وکښنه، چې د سورهٔ رحمن له وزن سره مطابقت لري او د هغه مريدانو په غوندو، مجلسونو او د ذکر او عبادت په محفلونو کې په خوارۀ آواز لوسته.

دغه ډول بايزيد روښان د شعر يو ديوان هم لري، چې په هغه کې يې هم د خپل طريقت او سير و سلوک توضيح کړې ده. له بايزيد روښان څخه د هغه فرهنگيانو مريدانو او پيروانو په خپلو اشعارو او ديوانونو کې د شعر په ژبه په تفصيل سره د بايزيد روښان د تصوفي افکارو تشريح او توضيح کړې ده. ددغه کسانو يادونه ترمخه وشوه.

د بايزيد روښان په تصوفي بنوونځي کې د تصوف پر زياتو مسايلو خبرې شوې دي او د هغه دپيروانو د شعري ديوانونو اصلي مضامين هم د بايزيد د مشهورو آثارو له اصلي مضامينو څخه اخيستل شوي دي. د هغه د مريدانو په آثارو کې د تصوفي مضمون د انتقال او توضيح لپاره د فارسي ژبو شاعرانو په څېر د شعر عمده قالبونه لکه غزل، قصيده، رباعي او مثنوي غوره وسيلې دي. زياترو په دغو قالبونو کې شعر ويلی او صوفيانه مضامين يې پکې ځای

کـړي دي، خـو پـه دغـه قـالبونو کـې غـزل او قصـيده خـاص ځايونه لري.

د بايزيـد روښـان پـه تصـوفي ښـوونځي کـې عمـده او اساسـي مطالـب انسـان، وحـدت، بحـر وجـود، مشـاهده او بـې رنگـي، ذکـر، د نفـس وژل، شـريعت او طريقـت، روښـاني سـلوک، لومـړني مراحـل، روښـاني اوه صـفته، اتـه مقامـه، عشـق او صداقت دي.

انسـان:

انسـان د بايزيـد روښـان او د هغـه د مريـدانو د شـعر او ادب مرکـزي مسـاله ده. بايزيـد د يـوه عـارف او صـوفي انسـان پـه توگـه لـه خـدای سـره بـې واسـطې راز و نيـاز کـوي او د هغـه مريـدان هـم خپـل پيـر يعـني بايزيـد روښـان د مسـکنت پـه مقـام کې ويني، نوموړی د خلافت الهي دپر ښه مظهر ګڼي.

ارزاني روښانی وايي:

دا صـــورت د خـــاورو څلـــی
پـــه دم ســـپور او پـــه دم پلـــی
پـــه دا څلـــي کـــې بســـيا دی
ددې دواړو کونـــــو کلـــــی
حـــ ق د دواړو کونـــو علـــم
د صـــورت پـــر کتـــاب کښلـــی

PDF Compressor Pro

دا کتـــاب دی هغـــو لوســـتی
چې يـــې خپـــل صـــورت کتلـــی
دا صـــورت لـــوح محفـــوظ دی
لـــه لـــوی نـــون قلـــم وتلـــی.

تـــوحيد:

بايزيـــد روښـــان د نـــورو اســـلامي متصـــوفينو پـــه څېـــر د وحـــدت او (همـــه اوســـت) مفکـــورې ډېـــرې زيـــاتې روزلـــي او تشـــريح کـــړي دي. د هغـــه پـــه مشـــهور اثـــر خيرالبيـــان او همدارنګه حالنامه کې په دې باب زيات مطالب موجود دي.

پخپلـــه بايزيـــد روښـــان د علـــم پـــه رســـاله کـــې چـــې پـــه دې وروســـتيو کلونـــو کـــې پـــه افغانســـتان کـــې چـــاپ او خپـــره شـــوې ده، د توحيد په باب يو نظم لري. په دې ډول:

د توحيـــــد علـــــم در بيـــــان کـــــرم
چـــــې ســـــرې يـــــې زده کوينـــــه
چـــــې لـــــه توحيـــــد يـــــې پوښتينـــــه
بـــــل ځـــــواب يـــــې کـــــړای شـــــينه
توحيـــــد مقـــــام دی د يکانګـــــی
چـــــې شـــــپږ يـــــې منزلـــــه دينـــــه
نومونـــــه بـــــه يـــــې وايـــــم
کـــــه د چـــــا پـــــه رضـــــا ويينـــــه

شـــــریعت، طریقـــــت، حقیقـــــت دی
معرفـــت، قربـــت وصـــلت دی گنینـــه
پـــه هـــر منـــزل کـــې امـــر دی هـــم نهـــی
بنـــده بـــه خـــدای لـــه واړه وپوښتینـــه
منزلونـــه د توحیـــد او امـــر نهـــی دواړه
بیشـــک د ســـرې پـــه زړه کـــې دینـــه
هـــر څـــوک دې و خپـــل زړه و تـــه نظـــر کـــه
خپـــل زړه پـــه تکبیـــر ښـــه وګورینـــه
کـــه دا منزلونـــه او مقـــام یـــې دي مونـــدلي
او عمـــل بـــه یـــې هـــم پـــه کـــړی وینـــه
تـــرو دی هســـې امیـــد کانـــدي
چـــې ځـــواب بـــه د ښـــه خـــدای وکـــړي شـــینه
ســـړی دې امـــر نهـــی زده کـــه
چـــې د خـــدای ځـــواب وکـــړای شـــینه
چـــې د خـــدای ځـــواب ونـــه کـــه
پـــه دیـــوان بـــه د ښـــه خـــدای وشـــرمیږینه
د عـــاقلانو کـــړای بویـــه
چـــې پـــه حیـــات د توحیـــد د علـــم حاصـــلوینه
نـــور علـــم عبـــادات خیـــرات منـــات واړه
د توحیـــد د شـــناخت لـــه پـــاره کـــړي دینـــه
توحیـــد ددې دري ځنـــه
کـــه د چـــا پـــه بـــاور شـــینه

توحیـــــــد د عـــــــام د خـــــــاص دی
درېـــــیم دی د خـــــاص الخـــــاص گټینـــــه
توحیـــــــد د عـــــــام دغـــــــه دی
چـــې وایـــی خـــدای یـــو دی یقـــین یـــې وینـــه
توحیـــــــد د خـــــــاص دغـــــــه دی
چـــــې لـــــه یگانگـــــی آگـــــاه وینـــــه
توحیـــــد د خـــــاص الخـــــاص دغـــــه دی
چـــــې یگانـــــه لـــــه هغـــــه شـــــینه
د عـــــامو کـــــرای بویـــــه
چـــــې توحیـــــد د خاصـــــو زده کوینـــــه
د خاصـــــــو کـــــــږی بویـــــــه
چـــې توحیـــد د خـــاص الخـــاص زده کوینـــه
چـــې توحیـــد د خـــاص الخـــاص ظـــاهر کـــه
تـــرودی چـــار د موحـــدانو پـــه دود کړینـــه
د بشـــــر خـــــوی وی تـــــرو پرېـــــږدی
خـــــــدایی خـــــــوی دی ونیســـــــینه
هـــــر چـــــې علـــــم د توحیـــــد زده کـــــه
جـــــواب د توحیـــــد پـــــه آســـــمان شـــــینه
تـــــل بـــــه یگانـــــه وینـــــه لـــــه خدایـــــه
راحـــــت د یکانگـــــی ورســـــره وینـــــه
راحتونـــــــــه رنگـــــــــارنگ دي
بهتـــــــر د یکانگـــــــی دې گټینـــــــه

توحيـــــــد يگـــــــانگي د خـــــــداى دى
هـــر څـــوک دې پـــه يـــوه خـــداى ايمـــان لرينـــه.

(۱۲_۱۴ مخونه)

بايزيدُ روښـاني پـه خپلـه پـه دې نظـم کـې د توحيـد د حصـول مراحـل تـول بيـان کـړي دي. اسـتاد حبيبـي د پيـر روښـان دا خبـره د توحيد لپاره د ښه سند په توګه راوړې، چې وايي:

"مـا هـر څيـز لـه خـپلې هسـتۍ د خـپلې هسـتۍ دپـاره يـو يـو کـړی دی، پـه هـر يـو کـې زه يـو خداى يـم بيګمـان، تـرو بويـه چـې زما د يکانګۍ يادګار هر يو چې ووينـي آدميان."

دلتـه د (همـه ازوسـت) شـرح ده او هـر شـی د يـوه واحـد او شـريک مصـنوع دی او هـر انسـان، چـې د مشـهود سـترګې لـري بايد په هر شي کې د لوی خداى صفت او قدرت ووينـي.[1]

پـــه دې ډول د بايزيـــد روښـــان د مريـــدانو او فرهنګيـــانو پيروانـو پـه آثـارو کـې د توحيـد او نـورو مفـاهيمو سيسـتماتيک او منظم بيانونه د شعر په ژبه شوي دي.

ارزاني روښانی وايي:

د اثبـــات پـــه ســـراى دننـــه
غيـــــــر نشـــــــته الا الله
يـــو الله دى وړانـــدې بيـــار تـــه،
بنـــې اولکـــين تـــه و بـــالا

[1] عبدالحی حبيبي، پښتو ادبياتو تاريخ، ۲ ټ، ۳۲۳ مخ.

د مولی په یاد کې اوسه
په ملا هم په خلا

او دولت الله لوانی وایي:

هر چې نوش د وحدت می کا
د خودی مرکب به پی کا
یو دیدن به د دوست وینې
هر نظر چې پرځه شی کا.

په دې ډول د بایزید روښان تول تعالیم او زده کړې د هغه د شاگردانو او مریدانو په آثارو کې څرگندې شوي او منعکسې شوې دي.

د دولت لوانې، مېرزا خان انصاري او واصل روښاني دیوانونه همدا اوس له موږ سره شته او پر هغو سربېره د ارزاني، قادر داد، علي محمد مخلص او د روښان د نورو پیروانو آثار هم په تیت پرک ډول په ورکه خزانه (۲_۱) توکونو کې چاپ شوي دي، چې د ټولو مثالونو راوړل زیات وخت نیسي او ټول د روښان د تصوفي بنوونځي د زده کړو منظم بیان دی.

روښاني غورځنګ په خپل وخت کې د هندي او اسلامي فرهنګ له ګډو اړخونو څخه په تېره هغه څه چې د پښتنې ټولنې له ځانګړتیاوو سره یې سمون درلود، راواخیستل او په پښتو ادب کې یې ځای ورکړ. روښانې ادب یعنې هغه څه

چې د ادب په شکل کې د تصوفي او عرفاني افکارو مضمون ځای کړ. په پښتو کې د روښان پیروانو زیات داسې آثار هست کړل، چې دمخه په اسلامي فرهنگ، فارسي، ترکي او ماوراءالنهر کې منځ ته راغلي وو.

لکه چې دمخه مو وویل په روښاني غورځنگ کې په خپله پیر روښان، ملا ارزاني، علي محمد مخلص، ملا عمر، مېرزا خان انصاري، دولت لوانې، واصل روښاني، خواجه محمد روښاني، کریمداد، ملا مودود او نورو پیروانو یې په خپلو آثارو کې هڅه وکړه، چې عرفاني او تصوفي افکار د شعر په ژبه بیان کړي. دغه راز د روښان مخالفینو هم دې عنعنې ته په مخالف قطب کې دوام ورکړ. د روښان پیروانو په خپلو ادبي آثارو کې وحدت الوجودي نظریه وروزله او بنا پسته ټول آثار یې ددغه نظریې د تبلیغ لپاره وګومارل.

ملا ارزاني خوښکي په خپل تصوفي اثر کې په منظم ډول دغه عرفاني نظریات بیان کړي دي. د هغه د کلام یوه نمونه په دې ډول ده:

د یوه وحدت له نوره
د یوه نور له پرتوه
درست کلیات یې موجود کړی
ددې کن اور له شوه

عـــــارف ورخبـــــر شـــــو

د الـــــف لـــــه پتهـــــه دوه

د كثـــــرت د كنبـــــت كرلـــــه

خـــــود كـــــري، خـــــود كـــــه دروه

د يـــــئوه كـــــلال مانـــــى دى

كـــل كـــه كتـــرک دى كـــه گـــوروه

كـــه طالـــب پـــي دل بـــه خـــلاص كـــړي

د دويـــــى لـــــه بـــــده ســـــتوه

د(دي) دل پـــــر بـــــراق ســـــور شـــــه

بـــــراق صـــــاف دى لـــــه جلـــــوه

دغـــــه (يـــــو) بـــــراق ورځينـــــه

پـــــاس تـــــر عـــــرش لـــــه يـــــوه دوه

د (خـــــ)ودى تتهـــــو شـــــاخوږى

درســـــت شـــــا خـــــوږى (ترمنـــــدوه)

هـــــر چـــــه نـــــن كنبـــــت كـــــړى كرلـــــه

(كـــــل) فـــــردا بـــــه شـــــي درلـــــوه

پوســـــت كنـــــده مـــــي درتـــــه ووى

كـــــه غـــــنم كـــــري كـــــه جـــــوه

د تـــــا دم امانـــــت گـــــرو دی
غافـــل مـــه شـــه لـــه دغ گـــروه
لکـــه دی راویـــل نـــه شـــی
ددې شـــــریعت لـــــه (ب) هـــــو(ه)
ارزانـــي پـــه پښتـــو (وکـــو) بـــښ
دا غـــــزل لـــــه یـــــوه ووه.([1])

مېرزا خان انصاري وايي:

که لاهوت مې ښاېسته په ساده ګۍ دی
بیا ناسوت پرې باندې رنګ شو مخطط
مشـرکان چـې خبـر نـه شـوله مقوصـده
د کثـرت په ډېر حساب کې دي غلط.

* * *

د ثـــــاني ګمـــــان مـــــانې دی
یګانـــــه احـــــد موجـــــود شـــــو
د کثـــــرت پـــــه بـــــازار راغـــــی
دی شـــاهد دی هـــم مشـــهود شـــو
شـــاه حجـــاب لـــه مخـــه واخیســـت
د میـــــرزا طـــــالع مســـــعود شـــــو

[1] د ارزاني خوښکي کلیات، سمونه او څېړنه، ډاکټر مهجور خوښکلی، ۳۳۱_۳۳۲ م م

او:

صفات هیڅکله له ذاته نه بیلیږي .
ځای په ځای حکم د رب دی له مربوب
په هرڅه کې زیاتونه د مولی دي
(و) میرزا وته جلوه کا بې مکتوب.

یا دا چې:

دا کلام د حقیقت په ژبه وایم
لکه ذات په حقیقت کې خپسر ستایم
مدام یوله یو وجوده تماشا کړم
تل تر تله بې شریکه بې همتا یم
که ځما یگانگی و ته نظر کړی
په وحدت کې دویي نشته یک تنها یم
د کثرت په عددونو مې ځان پټ کړ
اوس گهې گهې دغه شم گهی دا یم.

یا د بحر وجود نظریه په دې شعر کې:

لکه کب دی له اوبو، اوبه له کبه
دغه هسې رسیدلی د هر چا یم
ځما ذات په دواړه کونه نه ځایږي
په قفس کې وبیدلی د مېرزا یم.

* * *

مرحوم استاد اسماعيل مبلغ ليکي:

"د پيـر روښـان پـه نظـر خـداى کاپنـات د انسـان د ښېګنـې سعادت او نېکمرغـى لپـاره هسـت کـړي او انسـان يـې د خپـل عبـادت لپـاره. لـه دې لاملـه بايـد د خـداى پـه عبـادت مشـغول شو. ايمان له عقيدت، اقرار او عمل څخه عبارت دى.

دا ډول ايمـان هغـه وخـت د خـداى لپـاره د منلـو وړ دى، چـې د خـداى پـه معرفـت ولاړ وي. د هغـه لـه معرفتـه پرتـه هېـڅ عبادت نه منل کېږي."([1])

مېرزا خان انصاري وايي:

ذاکـران چـې د غفلـت لـه خوبـه ويـښ شـو
د نفـس وچلېـده تـه نظـاره کـا
مسـافر چـې لـه خـوارۍ خوبـه بېـدار شـي
د سـحر جـرس د تلـو پـه وخـت نـاره کـا.

روښـاني غـورځنګ پـه دري جهـاتو کـې مبـارزه کولـه: يـو لـه خپـل نفـس سـره مبـارزه، لـه ظلـم او بـې عدالتـى سـره مبـارزه او بلـه د هغـوى ايديالوژيکـه مبـارزه ده. د هغـوى ايديالوژيکـه مبـارزه هماغـه د تصـوف او عرفـان بيـان و او هغـه هـم د پښتـو ادبيـاتو پـه وسـيله، دوى د پښتـو ادبيـاتو لـه لارې خپـل عقايـد تبليغ او رواج کړل.

لـوى استـاد عبـدالحى حبيبـي مرحـوم د روښـاني تصـوفي

[1] اسماعيل مبلغ، د روښان ياد، ۴۶ مخ

ادب او د فارسي ژبو متصوفو شاعرانو د کلام د پرتلنې په باب وايي:

"د سنايی وجد او حال، د عراقي درد او سوز، د مولينا جلال الدين بلخي مستي او نشاط او د وحدت په متلاطم درياب کې د دوی لاهو کېدل، د روښانيانو د قصايدو اصلي شمزې ده. مګر فرق دونې دی، چې د روښان په مکتب کې ادبي قدرت او د شاعريت حقيقي جلوې ډېرې کمې دي. نه هغه شاعرانه اقتدار او طمطراق شته کوم چې د غزنوي او غوري دورې په قصايدو کې ليدل کېږي او نه هغه ستر غم او د انګازو او خوند او ښکلاوو ډک کيف شته، چې مورډ دمخه د اسعد او ښکارندوی په قصيده کې ولید".(۱)

په پښتو ادبياتو کې په زړه پورې ژور عرفاني او فلسفي آثار له همدغه وخته وروسته يا د همدغه غورځنګ د مبارزو په نتيجه کې منځ ته راغلي. د روښان د پيروانو په آثارو کې د روښانيه طريقې او سلوک د مقاماتو منظم او سيستماتيک بيان کېږي او له همدغه وخت وروسته د پښتو ادب پر راوروسته بهير باندې اغېزه کوي.

په دې ډول په ختيځ کې د لويديځ په نسبت د شرق متفکر خپل نفساني، رواني او تولنيز پرابلمونه د فلسفې پرځای په تصوفي او عرفاني افکارو کې مطرح کړي او د حل

---

[1] عبدالحی حبيبي، د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده، ۳۸ مخ.

لاره يې ورته لټولې ده. همدا علت دی، چې د تصوف او عرفان ستر شاهکارونه په شرق کې منځ ته راغلي دي. صوفي نه يوازې د تفکر او تأمل څښتن دی، بلکې د ذوق، الهام او اشراق خاوند هم دی.

پښتو ادب چې د آسيا په لويه وچه کې د هند، چين، فارس او عربو د فرهنګي تاثراتو په ترڅ کې سر راپورته کړی او د يادو شويو فرهنګونو له فيض او برکت څخه برخَوَر شوی خپل ترکيبي خصلت لري. تصوفي او عرفاني افکارو هم ددغه تاثيراتو له لارې پښتو ادب ته لاره کړې، چې د روښان د دورې آثار ددغه افکارو د بيان او څرګندولو ځرګندې او روښانه نمونې دي، چې له هغو وروسته ان ترننه پورې د سنت په توګه عنعنه ساتل شوې ده. پښتو غزل له همدغه فيضه بهره مند دی.

په دې ډول په پښتونخوا کې عارف او صوفي هم د خپل تحت الشعور په مرسته، هم دلاسبرو فرهنګي اړيکو او د وخت د علومو په مرسته او هم د خپل ذوق او استعداد په مرسته د خپلې ټولنې د انسان لپاره په حال او مستقبل کې پيام درلوده. دا پيام د انسان په ډېره خوږه او عاطفي ژبه و، يعنې په شعر کې و او د ښه او ښکلي کلام په شکل کې و.

زمونږ د صوفي پيام د انسانيت د بشپړتيا، د انسان د کمال او د هغه په ژوند کې د ټيټو پراوونو د نفي پيام و، چې بل هېڅا ورته د صوفي او عارف هومره فکر نه دی کړی او

نه يې ورته د تفکر لپاره کلونه کلونه انزوا ګاللې او نه يې سربښندنې ته وردانګلي دي، خو صوفي او عارف دا کار کړی دی او له دې لارې د اسلامي فرهنګ په سمندر کې د خپلې ببرې مانو شوی دی.

د: د روښان د فرهنګي هڅو په لړ کې، سماع، نڅا او موسيقي:

په اسلامي ټولنه کې نڅا، سماع او موسيقي تر زياته حده د صوفيانو او عارفانو دود او سنت و. په هند، ايران، ترکيه او حتی زمونږ په ګران هېواد کې دغه دود اوس هم موجود دی.

صوفيان ددې لپاره، چې خپل اعصاب تحريک کړي او د بې خودۍ حالت غوره کړي، مخدرو موادو ته يې هم پناه ورله، نڅا او سماع دغه ډول يوه وسيله ده. د صوفيانو مجلسونه له سماع او قول سره ملګري وو.

په دې ډول سماع او نڅا هم د صوفيانو لپاره د قبض د ليرې کولو لپاره ښه وسيله وه. سماع او قوالي، چې اوس هم په مصر، ترکيه، هند و پاکستان کې د ذوق او محبت ښه وسيله ده، په پخواني خراسان کې يې د ابو سعيد ابوالخير په واسطه رواج پيدا کړ او د صوفيانو په منځ کې داسې دود شوه، چې ابوالعلامعري د صوفيانو نڅا او ګډې غورځول،

په خپلو اشعارو کې په ملنډو یاد کړي دي. هجویري تر دې حده وویل، چې داسې طایفه مې ولیده، چې ویل یې د تصوف مذهب له نڅا پرته بل څه نه دی.

په اسلامي ټولنو کې سنت او شریعت، نڅا او موسیقي ته اجازه نه ورکوله. د مثال په ډول امام غزالي د متصوفینو سماع د ځینو شرطونو له مخې لازمه ګڼله، په تېره د سماع په غونډو او مجلسونو کې یې د ښځو او زلمو ګډون روا نه باله، خو په هر حال د متصوفینو په ډله کې ځینې داسې کسان وو، چې د قرآن په نسبت د شعر او آواز په اورېدلو ډېر زیات اغېزمن کېدل.

دغه ګډ ټکي صوفیان د سماع او قوالي غونډو ته رابلل، د قوال په دغو غونډو کې له مینې او سوز نه ډکې عشقي او عرفاني ترانې یوځای او یا له ساز نه پرته ویل کېدلې. صوفیانو ورته دایره جوړوله. غلي او چپ کېناستل، خو ناڅاپه به دغه سکوت او چوپتیا ماتېدله او یو دم به یو صوفي په وجد راته، د شاباس غږ به یې کاوه او نڅا ته به پاڅېده او په دې ډول به ټول صوفیان په نڅا ورګډېدل. په داسې حالاتو کې عجیبې پېښې رامنځ ته کېدلې ان ځینو به خپل کالي څیرل، ځینې به د شور او هېجان په حالت کې هلاک کېدل او ځینې داسې مثالونه هم شته، چې څو تنو د وجد په حالاتو کې ساه ورکې ده.

د مثال په ډول کله چې د مستنجد خلیفه په مجالسو "یوه

صوفي مغني شعر اورېده، بې خوده شو او په مجالسو کې يې ساه ورکړه خليفه پرې ډېر وژړل او صوفيانو تر سهاره پورې د هغه د جنازې گرچاپېره رقص وکړ "(۱)

رقص د تصوفي فرقو په لړ کې په مولويه فرقه کې خاص اهميت درلود مولينا پخپله په کوڅه او بازار کې په رقص پيل کاوه وايي چې د مولينا په اشاره ان د صلاح الدين زرکوب جنازه تر هديرې پورې په نڅا او دايرې سره خاورو ته وسپارله شوه. په دې ډول په اسلامي متصوفينو او عارفانو کې سماع، سرود او رقص څه نوې خبره نه ده. دوی د شور، وجد او احساس خاوندان وو

فريد لاندر په خپل اثر (درويشان چرخان) کې د مولينا له قوله سماع په دې ډول تعريفوي: "حالی است که در ادراک اسرار الهی از آسمان های لاهوت مشاهده ميشود. سماع پيکار با خود است. مانند تپيدن های مرغ نيم بسمل است که در خون و خاک می غلطد. آگاهی از درد و از شفای يعقوبست.

ـ تپش برای ديدار يوسف و ادراک بو پيراهن اوست..."(۲)

ددغه ډول مدخل له مخې کله چې د بايزيد روښان د شور او وجد په ب[illegible] او د هغه په ډېر وروسته پاتې چاپېريال کې د

---

[1] زرين کوب، اروش ميراث صوفيه، ۹۶ مخ

[2] فريد لاندر، درويشان چرخان، ترجمه علي شريف، زير نظر استاد خليلي کابل، بيهقي، ۱۳۵۶، ۶۵ مخ

سرود او سماع او وروسته د روښانيانو له خوا د موسيقۍ او سماع د دود او رواج په باب څه وايو، ټول په يو حال نه دي. په دې مانا چې بايزيد روښان له دغه فرهنګي او تصوفي مسالې سره يو ډول چلند کړی او د هغه اخلاقو د روښان د هدايا تو او لارښوونو په رڼا کې ورسره په لږ توپير چلند کړی دی. خو په هر حال، هغه څه چې مونږ ته په زړه پورې دي، د بايزيد روښان هغه سټر او سنت شکنه فرهنګي خدمت دی، چې د سماع او سرود د رواج په برخه کې يې موسيقۍ ته لاره پرانيستې ده.

د وروستيو کلونو په څېړنو کې د بايزيد روښان عقايد راوسپړل شول. په دې ترڅ کې روښان تر يوه حده د هغه د مخالف اخوند دروېزه د اقوالو او بياناتو له مخې وپېژندل شو. په روښان باندې د نورو تومتونو او تورونو په ترڅ کې چې د وخت په مذهبي ټولنو کې يې خاص جذابيت درلود، يوه هم د نڅا، سماع او سرود مساله وه، چې اخوند دروېزه څو واړې تکرار کړې ده. په دې لړ کې مولينا عبدالقدوس قاسمي ليکي:"... نو بيا هم "د همه اوست عقيده"، "ذکر خفي" د کاملیت دعوی او خلقو ته اتباع دعوت او "سماع و سرود" دده د مسلک هغه اجزا وو، چې د هغو په وجه د پير بابا او د اخوند دروېزه صاحب غوندې علما او مشايخ د هغه په مخالفت کې حق به جانب وو..."[1]

[1] عبدالقدوس قاسمي، پښتو، ۸۶ مخ.

یو شوروی مؤرخ او افغان پیژندونکی هم د اخوند دروېزه له قوله د نڅا او سندرو په باب یادونه کوي. وایي:"اخوند دروېزه د ځانګړیو تصوراتو له مخې چې د اسلام په باره کې یې درلودل، په تینګه غوښتل چې پر ښځو باندې بندیزونه ولګوي. د افغانانو په منځ کې (یې) داسې ساعت تیري لکه سندرې، نڅا، اتڼونه او داسې نور اولسي هنرونه د ښځو لپاره نه ښښونکي ګناهونه بلل". (۱)

خو مولوی محمد شفیع د پښتو ادب او موسیقي په برخه کې د بایزید فرهنګي هڅې په مثبت ډول ارزیابي کوي. وایي چې:"... خو دا خبره به صحیح وي چې د حقایقو او دقایقو نه ډک متعدد پښتو دیوانونه اول اول د بایزید مریدانو او دده اولاد د بایزید په تتبع کې مرتب کړل. بیا ددې فرقې نه بهر نورو کسانو هم ددې نمونو اقتدا وکړه او د دو دا عمل د ظاهر خیال د وسیلې (Medium) په ډول د پښتو ژبې د ډېر استعمال دپاره مهمیز ثابت شو". (۲)

نومورې زیاتوي:"بایزید ددې علاقې د موسیقۍ په ترقۍ کې هم حصه اخیستې وه. حاجي محمد چې د میر فضل الله ولي خلیفه وو. ده په رباب کې څو تاره اضافه کړي وو او دده په ښودنه افغان موسیقارو نوې نغمې (عموما

---

[1] و.م ماسون. و.ا. رومادین، د افغانستان تاریخ، ۲ ټوک "بایزید انصاري" (ګل محمد روزي ژباړه، کابل، لسمه ګڼه (پښتو ټولنه، ۱۳۴۹)، ۳۹ مخ.

[2] مولوی محمد شفیع، پښتو، ۲۹ مخ.

رقص نغمي) ايجاد کړي وي، خو قوالانو دا په پوره وزن برابرولی نه شوي. بايزيد ددي نغمو په وزن کي اصلاح وکړه او دده په رهنمايی کي موسيقار ددي قابل شو چي د سلوک سرود، نوري طربيه نغمي او دا لاندينی شپږ سروده جوړ کړي:

ناسري (دهناسري) پنج پرده، چهارپرده، سه پرده، جنگي آهنگ، مقام شهادت. د سرود نه د تاثر جذبه په بايزيد کي د وړوکوالي راسي پرته وه او (چي) سرود به ويلی شو، نو دی به په وجد کي راتلو، دده څو ځامن او نمسي ماهران موسيقاران اوختل او د يو نمسي احداد موسيقاران ملا زمان ساتلي وو چي وار په وار به يي د پام د بدلولو په خاطر شپې د ورځې موسيقي غږوله."[1]

حالنامه په زيات تفصيل سره د بايزيد روښان د شور و شوق، وجد او جذبي حالتونه د هغه له وړوکوالي څخه ذکر کوي. له هغه جملي د حالنامي په لومړيو مخونو کي د بايزيد په باب يو نکل کوي، چي يوه ورځ د يوه واده په مجلس کي له خپل پلار عبدالله او خواجه اسماعيل سره د خپل تره زوی خداداد د واده په مجلس کي ناست و. په هغه مجلس کي زلميان په وجد راغلل، سرود يي غږاوه او نخېدل به. اخير په بايزيد کي هم دغه جذبه راوپاريدله او

[1] محمد شفيع، پښتو، ۳۰ مخ

خواجه اسماعيل ته ورغی، ويي ويل:"زما په زړه کې مينه او شوق پيدا شو، غواړم له زلمو سره وناڅم، خو له عبدالله ويربړم. داسې نه چې بده وګڼي، په مجلس کې راپورته شي او ما ووهي تاسې زما اجازه واخلئ، چې د نڅا په وخت کې په قهر نه شي. خواجه اسماعيل د پير دستګير له احواله خبر و، عبدالله ته يې وويل: عبدالله په قهر شو ويې ويل: زمونږ په قبيله کې هيڅا نڅلي نه دي، که دی وناڅي زمونږ ناموس به برباد کړي او اخير پير دستګير (بايزيد) د پلار په پښو کې ولوېد، وې ويل: زړه مې نه صبرېږي عبدالله وويل که ته نڅا وکړې په امسا به دې ووهم. پير دستګير وويل: پر ما شوق غالب شو، ځان نه شم نيولی، سر يې د پلار په پښو کې کښېښود. پلار يې سرپورته کړ، پير دستګير پاڅېده توره يې راواخيسته او له ځوانانو سره په نڅا شو."[1]

له دغو توضيحاتو جوتېږي، چې روښان له معنوي او فکري پلوه له کوچنيوالي مجذوب او د شور و شوق خاوند و. په هغه کې د صوفيانو شور او حال د پر پياوړی و، خو د ټولنې د لاسبري اتموسفير په وجه يې نه شوای کولای په آزادانه ډول خپل عصيان او اعتراض څرګند کړي.

حالنامه د بايزيد د يوه خوب د ليدلو په ترڅ کې وايي، چې کله پير روښان ته خدای تعالی د توحيد علم ور په برخه

---

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، ۱۵_۱۶ مخونه

کړ. په کانیګرام کې ډېرو کسانو د ملنګۍ لباس غوره کړی
و او په ښارونو کې به ګرځېدل، داریا او رباب به یې وهل او
په دې ډول به یې له خلکو څخه غوښتل .. یو سهار له دغو
کسانو څخه څلوېښت کسیزه ډله د بایزید کور ته ننوته. د
هر یوه په لاس کې داریا، رباب یا چارتاره وه. دوی له
بایزیده پوښتنه وکړه، چې ځینې عالمان وایي چې د سرود
اورېدل ناروا دي او اورول یې هم منع دي، تاسې څه وایئ؟.
ځواب یې ورکړ، چې سرود (مزامیر) په دري ډوله دي: که د
دنیا د محبت لپاره وي اورېدل یې حرام دي، که د جنت په
مینه وي اورېدل یې مباح دي او که د خدای په محبت کې
یې واورئ، هغه روا دي. په دې ډول وینو چې بایزید روښان
د پښتنو په عنعنوي ټولنه کې په ډېر مهارت او ځیرکۍ سره
هم د سماع او سرود د رواج لپاره لاره هواره کړې او هم یې د
موسیقۍ لپاره. د حالنامې له څرګندونو جوتېږي، چې د
روښان مریدانو په دودیزه توګه او د یوه سنت په ډول له
موسیقۍ سره یوځای خپل کاروبار ته دوام ورکاوه. د مثال
په توګه کله چې د بایزید روښان یو مرید خواجه محمد له
پېښور څخه خیبر ته رارسېږي او په لنډي خانه (لنډي کوتل)
کې له شینوارو مشرانو سره ملاقات کوي، وایي چې له
خواجه محمد سره سرودیان هم وو او هغوی یې د خوښې
لپاره لازم ګڼل. "...چون ملاقات کرده با هم نشستند
سرودیان سرود آغاز نمود(ند). سرداران شینواری گفتند که

روشانی بد می کنند که سرود را می شنوند. خواجه محمد گفت: مرا ضروری است زیرا که به کد خدای میروم..."[1]

دغه راز د حالنامې له تفصیلاتو جوتېږي، چې سماع، سرود او وروسته د نڅا او موسیقۍ رواج په روښانیانو کې څه تصادفي او اتفاقي کار نه، بلکې د یو مسلک په څېر ورته پاملرنه شوې او انکشاف ورته ورکړ شوی دی. د حالنامې بشپړوونکی موسیقي او شعري ادب دوه هغه پتې خزانې بولي، چې روښان وکولای شول، پښتنو ته یې څرګندې کړي. روښان او د هغه مریدانو او پیروانو په پښتنو کې موسیقۍ ته پراختیا ورکړې، په هغې کې (یې) ریفورم او اصلاحات راوستلي او خپل فرقه یې روح یې پکې ځای کړی دی.

د حالنامې بشپړوونکی لیکي:" ای عزیز من! آمدن بر سر سخن گنج دوم که مذکور شده بود و آن گنج عالم موسیقی است که از طفیل حاجی محمد خلیفه میر فضل الله ولی بر افغانان کشف نمود، زیرا که در افغانان بر غنجکین (غیچک) ستار می انداختند و می نواختند و برباب پنج تار یعنی سرمده (سرنده) دو تار می نواختند و دو تار میگفتند و از تعلیم و طفیل حاجی محمد سازنده های ایشان تارهای بسیار بر سازها انداختند و نغمه های نو نو اخراج مینمودند

[1] ایضاء، ۳۲ مخ

اما اکثران نغمه های رقص و غیر ملایم می نواختند. چون آن سازنده ها در خدمت پیر دستگیر قدس سره رسیدند و از برکت و صحبت طفیل پیر دستگیر سرود، سلوک و نغمه های ملایم نواختند و شش مقام بستند، یکی ناسری و دوم پنج پرده، سوم چارپرده، چارم سه پرده، پنجم پرده جنگ که در وقت جنگ می نوازند، ششم مقام شهادت است و در این مقامها بسیار بندها و نغمه ها نواخته میشود و دیگر بیشتر در افغانان از دو سه بیت شعر زیاد نبود. پیر دستگیر قدس سره به زبان افغانی قصیده ها و غزلها و رباعی ها و قطعه و مثنوی ها ساختند و از طفیل پیر دستگیر قدس سره فرزندان و مریدانش دیوانها گفتند و دُرهای حقایق و معانی در آن سفتند..."[1]

په حالنامه کې په تدریج سره کله، چې پرمخ ځو په جریان کې د موسیقۍ او نڅا موضوع، د مبداء په څېر د بحث موضوع نه ده، بلکې له طرح شوي مطلب څخه لیرې کېږو او موسیقي د هنر د یوې موضوع او پدیدې په توګه وینو، نه د صوفي لپاره د وصال د حاصلولو په خاطر او نه هم د "یوسف د کمیس د بویولو په نیت"، بلکې په وروستیو مخونو کې موږ موسیقي وینو. موسیقي د یوه هنر په توګه داسې هنر، چې له ریاضت او مجاهدت سره غبرګه وده کوي او د ژوند اړتیا ګرځي.

[1] ایضاء، ۳۵۹_۳۶۰ مخونه

حالنامه د بايزيد روښان د يوه مريد سبزو نومي، چې په ورکزی قبيلې پوري مربوط او د حال خاوند و او يارانو يې لپونی باله. وايي، چې:"... ربابي داشت بروی يک تاری ميبود و همواره بر دست می داشت و يک بار به شبهاز می نواخت و گوش نزديک آن ميداشت، تا ندا ساکن ميشد. باز ضربت ديگر می زد، باز برای گوش می داشت کارش همين بود. چون کيک بسيار شد، زنش گفت که مردم رفتند چوب بريدند برای خوابگاه توهم برو برای خواب گاه چوب ببر. جواب داد به زبان افغانی "دا به څوک کا؟" يعنې اين را کی بنوازد...."(1)

له بايزيد روښان څخه وروسته د هغه په زامنو په تېره لمسيانو کې موسيقي د هنر او فن او زده کړې د "علم" يوه ضرورت او دود په توګه مطرح ده. په دې لړ کې احداد تر تولو مقدم او مخکښ برېښي.

حالنامه د احداد په باب ليکي:

" و ديگر احداد همواره استماع سرود داشتی چه در سفر، چه در حضر، چه در روز چه در شب، چه در خواب، چه در بيداری، و قوالان پاسهای از شب و روز شب با هم بخش نموده بودند، سه کس را يک پاس شب و يک پاس روز افتاده بود".(2)

---

[1] ايضاء، ۳۹۲مخ

[2] ايضاء، ۵۰۵ مخ

حالنامه یادونه کوي، چې کله به احداد کور ته لاړ، د خوب ځای ته نږدې یې قوالانو ته ځای جوړ کړی و او له هغه ځایه به یې سرود اوربده. حسن او داود نومي د قوالانو مشران وو. وایي چې یوه ورځ حسن احداد ته وویل، چې دا کوم انصاف دی، چې تاسې ویده کېږئ او موږ ته وایې، چې سرود وغږوئ او تاسې یې نه اورئ. ددې کار فایده څه ده؟ احداد وویل، چې زه په خوب او ویښه کې سرود اورم. حسن وویل دا څرنګه کېدای شي؟ احداد وویل تاسې سرود وغږوئ او زه به ویده شم، هر یو چې له تاسې پوه شي چې زه ویده یم، تاسې بیا سرود مه غږوئ، خو ته ماته اشاره وکړه چې ویښ یم، بیا یې وغږوئ. حسن وویل ډېره ښه ده. یوه شېبه یې همداسې وکړل، خو کله چې احداد ویده شو او سرود به یې بس کړ، سملاسي به د احداد لاس پورته شو، په دې ډول یې څو واري سرود غلی او بېرته شروع کړ، تر هغه چې د قوالانو دا باور و چې احداد د خوب په وخت کې هم سرود اوري.

حالنامه لیکي:" و دیگر احداد جیو در روز یکبار خیرالبیان و یا مقصودالمومنین خواندی و معانی آنرا بیان فرمودی و یاران استماع نمودی و کسی را قدرت نبود، که در وقت خواندن کتاب یا سرود نواختن لب به سخن جنبانیدی، روزی نشسته بود، استماع سرود مینمود، ناگاه دو یار با هم سخن گفتند، احداد جیو فرمود ای یاران سرود

را شکست دادید..."[1]

په دې ډول وایي، چې احداد د روښان سپېځلي کتابونه هم پخپله په خواږه آواز لوستل او له موسیقۍ سره یې هم زیاته مینه وه.

په روښاني جریان کې له احداد څخه وروسته بل ستر فرهنګي شخصیت او شاعر مېرزا خان دی، چې هغه هم په خپل وار سره د موسیقۍ په وده او پرمختیا کې زیاته برخه اخیستې ده.

حالنامه د مېرزا خان یادونه هم کوي، لیکي:

"ای عزیز من! میرزا خان جیو خود (را) در کار بار دنیا در نمی رود کار پرکنات به قمر سپرده و کار و حساب بوتات به نور محمد حواله نموده و کار و بار اهل خانه بی بی نور خاتون که بانوی خانه بود تعلق داشت و ایشان همواره به ذکر و فکر به مشاهده باری تعالی اشتغال داشتی، سرود و کتاب خواندن را دوست داشتی و خود نیز خوب رباب نواختی و نقش گفتی و همواره در مجلس ایشان شغل کتاب و سرود بودی..."[2]

د مېرزا خان له پاتې کسانو څخه یو هم د هغه زوی خدایداد، چې د روښاني لارې ډېر غښتلی مېړه و، هم په ښکار او موسیقۍ کې لوی لاس درلود.

---

[1] ایضاء، ۵۰۷ مخ

[2] ایضاء، ۶۴۰ مخ

د حالنامې په وینا: "...و در علم موسیقی بی نظیر بود جوان شهسوار چوگان و هدف را خوب میزد و در این فن مثل او در خاندان پیر دستگیر کمتر دیده شده، عارف و متواضع و مؤدب بود".(۱)

د مېرزا د بل زوی عبدالحکیم په باب، چې په ۲۲ کلنۍ کې شهید شو، هم دا روایت دی چې: "... و همواره یاران در خدمت آمد و رفت داشتی و سرود را خوب نواختی مجلس آرای وزنده دل بود."(۲)

د عبدالحکیم زوی، عبدالحلیم هم چې د خپل وخت فرهنګي شخصیت و، حالنامه یې دېره ښه یادونه کوي: "...و در علم الحقایق نیز دست گاه تمام (وی را) حاصل است و به علم موسیقی مهارت خوب دارد. و شعر به زبان هندی میگوید..."(۳)

د عبدالحکیم د زامنو په باب هم ورته روایت دی. حالنامه په مشخص ډول د ځوان عبدالحکیم یادونه کوي." و در علم نظم مهارت تمام دارد. و شعر به زبان فارسی و هندی خوب میگوید، و اکثر اوقات شغل به استماع سرود و کتاب دارد".(۴)

---

[1] ایضاء، ۶۵۰ مخ

[2] ایضاء، ۶۵۱ مخ

[3] ایضاء، ۶۵۲ مخ

[4] ایضاء، ۶۵۲ مخ

PDF Compressor Pro

لـــه پورتنيـــو مطـــالبو څخـــه جوتيـــږي، چـــې پـــه روښـــانې غـــورځنګ کـــې د بايزيـــد روښـــان او د هغـــه د اخلاقـــو، فرهنګـــې هڅـــې پـــه جامـــدو او مطلقـــو فرضـــيو او احکـــامو ســـره نـــه مطالعـــه کـــږي. نـــه هـــم هغـــه څـــه چـــې د جريـــان پـــه ابتـــدا او پيـــل کـــې وي، پـــه اخيـــر کـــې يـــې هـــم هماغـــه ډول دوام کـــړی وي، بلکـــې د يـــوې اوږدې پروســـې پـــه تـــرڅ کـــې د روښانيـــانو فرهنګـــې او هنـــرې هڅـــې هـــم د بـــدلون پـــه حـــال کـــې وې. موســـيقي د ســـماع پـــه بڼـــه کـــې د ټـــولنې د ټـــول مـــذهبي لاســـبرې، دګمـــاتيزم پـــه موجوديـــت کـــې رابرســـيره شـــوه، شـــعرونه او نظمونـــه رواج شـــول او لـــه هغـــو وروســـته ګـــورو، چـــې موســـيقي، شـــعر او ادب د روښانيـــانو لـــه روښانه ذهنيت سره هم دا ډول دوام وکړ.

PDF Compressor Pro

روښانيت او د بنځو مقام

روښـانـي غـورځنګ د زړو سـننو او ميراثونـو پـر ضـد د يـوه عصـيانګر جريـان پـه توګـه د بنځـو د پـراخې انسـاني کـتلې پـه بـاب هـم بـې تـوپيره نـه دی پـاتې شـوی، بلکـې پـه دې برخـه کـې يې هم ډېر څرګند او روښانه دريځ درلود.

کلـه چـې د بنځـو پـه بـاب د روښانيـانو چلنـد وينـو او لـه بلـې خـوا د بايزيـد روښـان د سرسـخته مخـالف اخونـد دروپـزه تورونـه او تومتونـه لولـو. پـه ډاګـه جوتپـږي، چـې بايزيـد روښـان پـه پـوره زړه ورتـوب ، د بنځـو د آزادۍ او د هغـوی د درنـاوي په برخه کې ګامونه اوچت کړي دي.

د بايزيـد روښـان سرسـخته مخـالف اخونـد دروپـزه پـه دې برخـه کـې هـم پـر روښـان او د هغـه پـه مريـدانو تورونـه لګـوی او د هغـه د تومتونـو پـه لـړ کـې دا داسـې تـور دی، چـې د اسـماعيليه فـرقې د پيروانـو پـه بـاب هـم ارايـه شـوی دی، خـو پـه

دي برخه کې د دوه ټکو معلومول ضروري دي: يو دا چې اخوند دروېزه او د هغه په څېر وچ مذهبي او د اهل شريعت پلويان د روښانيانو په باب څه فکر لري او بله دا چې خپله بايزيد روښان او د هغه پيروان بنځو ته په کوم ټولنيز ارزښت او دريځ قايل دي. دغه دوه مسالې اساساً سره اختلاف لري، په دې مانا چې اخوند دروېزه ليکي:

"زهی سفاهت این مردم شخص که با زنان بیگانگان تنها در خلوت نشیند و زنان را خلیفه سازد و صاحب دعوت نموده شهر به شهر بانواع حیله آراسته بگرداند به قصد آن که جمیع لوندان و شهوت پرستان محض از برای شهوت تبعیت او خواهد گرفت..."(1)

د اخوند دروېزه هدف په دې برخه کې په مشخص ډول بايزيد روښان يا د هغه په اصطلاح "پير تاريک" دی، چې څو کربنې دمخه د هغه نوم اخلي او بيا ددغه يادې شوې مسالې طرح کوي، خو په ناخبره توګه د اخوند دروېزه له قوله دا ټکي هم جوتېږي، چې روښانيان يا بايزيد روښان بنځو ته د خلافت په مرتبه هم قايل وو. دا هغه مطلب دی، چې د روښانيانو په باب څو ځايه ويل شوی، خو د هغه مخالف يې په ناخبره توګه يادونه کوي. دروېزه په بله برخه کې زياتوي: " روزی یکی از اصحاب و احباب این فقیر در

[1] تذکرة الابرار والاشرار، ۱۴۸ مخ

مجلس او حاضر آمده دید که با جمعی زنان متمردان نشسته گفت: ای ملعون شنیدم که شما هر کدام از اتباع خود را به مرتبهء منصو حلاج رسانیده اید و از عدد برگ درختان و ریگ بیابان آگاه گردانیده اید؟ گفت آری..."([1])

اخوند دروېزه په ډېره بې باکه او پوچه خوله پر بایزید دا تور هم لګوي، وایي چې یوه شپه ورسره په هشنغر کې یوځای مېلمه وم ـ په ډېر تظاهر سره وایي چې ـ دا زما عادت و، چې تهوله شپه به ویښ وم، په هغه شپه هم تر سهاره پورې ویښ پاتې شوم، ددې لپاره چې پلتنه وکړم. زمور د خوب په کوتهه کې یوه نرۍ پرده وه، خو زه پوه شوم چې بایزید تهوله شپه له خپلې ناوې سره یوځای وو او سهار چې پاڅېد او جامې یې واغوستې نه یې غسل وکړ او نه یې اودس، راغی په جومات کې کېناست:" بعد، اتباع او در رسیده و به نماز با مداد مشغول گشتند و این فقیر تنها نماز را به جا آورده."([2])

له یوې خوا ښځې د خلافت درجې ته رسول او له بلې خوا پر بایزید روښان داسې تور لګول، چې ګویا "بې اودسه لمونځ یې کاوه" او یا دغه ډول خبرې، سړی په شک کې اچوي چې آیا په رښتیا "فقیر" (اخوند دروېزه) له روښان سره دومره نژدې و، چې د هغه د خوب په کوتهه کې یې د نرۍ

---

[1] تذکرة ابرار والاشرار، ۱۴۸ مخ

[2] تذکرة الابرار والاشرار، ۱۵۰ مخ

پردي تر شا شپه سبا کړي او که څنګه؟ د دروېزه خبره لږه شکمنه بربښي.

خو په دي کې شک نه شته، چې روښان يو سنت شکنه او عصيانګر شخصيت و، هغه د بنځو د آزادۍ هم پلوی و، هغه څه چې وروسته پرې رنا اچوو، خو له دي هم انکار نه شو کولای چې هغه هم انسان و او "هېڅ انساني څيزونه او خويونه له هغه هم پردي نه وو."

دې کې هم شک نه شته، چې بايزيد روښان د بنځو له فکتور څخه د خپل نفوذ د ساحې په پراختيا کې هم غافل نه و. د مثال په توګه کله چې مېرزا حکيم هغه ته اجازه ورکړه، چې پېښور ته لاړ شي "ددې دپسه ده خپل تحريک په مهمندزو (هشتنغر) کې شروع کړو. هغوی چې دده په کار کې کومه تن دهي او کوم اخلاص ښکاره کړو، د هغې نه دی دومره متاثره شو چې خپله يې هم هلته واده وکړو، زامنو ته يې هم هلته ودونه وکړل او يوه لور يې هم په دوی کې واده کړه..."[1]

محمد شفيع په خپله مشهوره رساله کې د مستندو متونو په حواله ددې ذکر هم کوي، چې کله "پير بابا (او د هغه په متابعت کې) اخوند دروېزه صاحب دا وليده چې دا يو لوی قسم پير دی چې د کبرويه، چشتيه، سهروردیه،

[1] محمد شفيع، پښتو، ۲۴ مخ.

شطاريه، حلاجيه، وغيره مشهورو سلسلو سره تعلق او ربط نه لري، بنځو ته هم خلافت ورسپاري او سماع او د مزاميرو نه هم پرهيز نه کوي نو ددې رقم پير متابعت يې په دين کې خلل وګڼلو..."[1]

په دې ډول مولينا عبدالقدوس قاسمي د اخوند دروېزه تومتونه چې پر بايزيد يې لګولي وو، په ترتيب سره شماري او د کفر او الحاد د اوږده فهرست په لسم پراګراف کې بيا هم ددې ټکي يادونه کوي:

"دده په مريدانو او خلفاوو کې بنځې هم شاملې وې او د بنځو د شمولیت نه يې مقصد صرف دا وو چې عوامو ته يوه تماشه جوړه کړي او ددې تماشې په ذريعه يې ځانته راغونډ کړي."[2]

خو څه چې وويل شول دا د سکې يو مخ دی. بل واقعيت دا دی چې د روښانيانو په سياسي، مذهبي او فرهنګي جريان کې ډېرې سترې بنځينه څېرې لکه بي بي شمسو، بي بي علايي او بي بي کمال خاتون، بسی، روښاني او نورې هم وينو، چې هېڅ کله په دغه جريان کې د هغوی له نقش څخه سترګې نه شو پټولای. په لنډ ډول د څو مشهورو روښاني مېرمنو يادونه کوو:

---

[1] عبدالقدوس قاسمي مقاله، پښتو، ۶۷ مخ.

[2] عبدالقدوس قاسمي، ۷۵ مخ

بي بي شمسو روښانی:

د بايزيد روښان مېرمن وه، کوم وخت چې پير روښان له گورگاني دولت سره خپلې مبارزې پيل کړې، بي بي شمسو له بايزيد روښان سره په ټولو مبارزو کې ملگرې وه. د هغې زياته استوگنه د اشنغر او ټوټې په غره کې وه.

د بايزيد روښان تر مرگ وروسته کله چې د اباسيند په غاړه د بي بي شمسو د زامنو او مغلي دولت د پلويانو ترمنځ سختې جگړې وشوې، په دغو جگړو کې د هغې درې زامن شېخ عمر، خيرالدين او نورالدين ووژل شول، نو دښمنانو د هغو سرونه او لاسونه پرې کړل او بي بي شمسو ته يې راوړل، چې د هغې اکراه او معنويات پرې بدل کړي او د خلکو له لمسونې لاس پر سر شي. بي بي شمسو هغه درې سره مچ او ښکل کړل او ويې ويل:

"په تاسو دې رحمت وي چې ثابت قدم پاته شوئ او د حق په لاره کې مو سرونه ورکړل." د زامنو مرينې د هغې مبارزې عزم کمزورى نه کړ، بلکې څه وخت چې جلال الدين روښانی تيرا ته راغی، نو بي بي شمسو يې هم له ځانه سره راوستله او د هند د گورکانې دولت پر ضد به يې خلک مبارزې نه رابلل.

الايي روښانۍ:

مېرمن الايي د جلال الدين روښاني لور او د پير روښان لمسۍ او د احداد چې د جلال الدين د مشر ورور شيخ عمر زوی و، مېرمن وه. دې هم د روښانيانو په لښکرو کې د هند له ګورګاني دولت سره ډېرې جګړې کړې وې او وروسته تر هغې، چې احداد مړ شو او جګړه ختمه شوه، نو د هندوستان ګورګاني پاچا دا مېرمن د هغې له ورور او نورو خپلوانو سره هندوستان ته بوتله. وايي چې مېرمن الايي وصيت کړی و، چې:"کُه زه مړه شوم نو زما مړی تيرا ته يوسئ او د احداد ترڅنګه مې ښخه کړئ."

حالنامه ليکي، چې:"مېرمن الايي ډېره پوهه او عالمه ښځه وه. د "خيرالبيان" او "مقصودالمؤمنين" کتابونه يې په معنا لوستلي وو، الايي په سخا هم مشهوره وه او پر غريبو خلکو يې ډېره مهرباني درلوده.

الايي د جګړې او مبارزې په وخت کې خپل مېړه احداد او خپل زوی عبدالقادر ته ګټورې مشورې ورکولې.

دغه راز د روښاني مېرمنو پيروانو او د هغوی د نقش په باب حالنامې او نورو اصلي متونو زيات واقعيتونه ثبت کړي دي. وايي چې کله د روښاني غورځنګ مخالفينو د احداد کور محاصره کړ، په کلا کې يوازې د احداد يوه لور پاتې وه، هغه ددې لپاره چې دښمنانو ته ژوندۍ تسليمه نه

شي، ځان يې له دې وال نه راوغورځاوه او مړه شوه.

پر روښانې اعتقاد باندې د تېنګار يوه څرګنده نمونه د نورو زياتو په لړ کې يوه هم بسۍ، نومې روښانې مېرمن ده. چې کله د روښانيانو لوی لښکر د جلال الدين اکبر په لاس کښې ووت، يوه ورځ يې تول راووايستل او له هر يوه يې پوښتنه کوله، چې څوک يې؟ اخير د بسۍ وار راغې:"آخر زنی بود از قبیله خلیل بسی نام داشت او را پرسید که شما از کدام قبیله اید، بسی جواب داد که من روشانی ام بادشاه فرمود که من میدانم که تو روښانی هستی، اما می پرسم که از کدام قبیله اید. گفت: قبیله من روشانی اند، دیگر قوم و قبیله ندارم. بادشاه از گفته او بسیار خوشحال شد، گفت قوم تو روشانی باشد."[1]

روښانې مېرمنو له نارينه وو سره يوځای په مذهبي غوندو او مجلسونو کې برخه اخيسته، د خيرالبيان او مقصودالمومنين اوربدو ته يې غوږ ايښوده او خپله يې هم په وعظ او تبليغ او دعوت کې برخه درلوده.

له پورتنيو توضيحاتو څخه جوتېږي، چې روښانې غورځنګ په خپل جريان کې د ښځو د وندې په باب اصلاحي او نسبتاً ريفورمستيک چلند کاوه. دغه چلند د تېر په نسبت او د تولنې د لاسبرې فضا، عنعنې قوانينو پر ضد يو سرغړاوی و.

---

[1] علی محمد مخلص، حالنامه، ۴۳۸ مخ

لکه چې دمخه مو ورته گوته ونیوله، د روښانیانو په غورځنگ کې ښځو د مذهبي دریځ له مخې د تحرک او بدلون په حال کې وي، ښځې د خلیفه مقام ترلاسه کولای شو او نور یې هم دعوت کولای شول. پر دې اساس د اخوند درویزه تومتونه کیدای شي د هغه د دوگماتیک او تنگ نظرانه مذهبي چلند په توگه وگڼل شي او د روښانیانو چلند د ښځو د حقوقو د تساوي په برخه کې د وخت د موجوده نظام پر ضد یو سرغړاوی او عکس العمل وگڼل شي.

د روښانې غورځنګ له منځه تلل

د افغانانو په تاریخ کې د روښانې غورځنګ له منځه تلل او سقوط د ځینو مؤرخینو له خوا زمونږ د تاریخ یوه تراژیدي بلل شوې ده. په (۱۶۳۶ع) کال کې کله چې مغلي واکمنو بې بې الایي او عبدالقادر په چالاکۍ سره ونیول، عبدالقادر لږ وخت وروسته وفات شو. ځینې مؤرخین پر دې باور دي، چې ممکن مسموم کړی شوی وي. بې بې الایي له ځینو دوستانو سره یوځای هند ته ولیږل شوه. د پاڅون مشرانو ته د مغلي دربار له خوا د بډو، رشوت او همدارنګه د هغوی د تطمیع لپاره هر ډول وعدې ورکړ شوې، چې نور له مبارزې نه لاس واخلي.

ددغه غورځنګ مشرانو ته نوکرۍ ورکړ شوې، د هندوستان نورو لیرې سیمو ته ولیږل شول. هلته د لویو لویو جاګیرونو خاوندان شول. د مثال په ډول اپریدیو، یوسفزیو او ورکزیو په پاني پت کې جاګیرونه واخیستل.

د (۱۷ع) پیړۍ په دېرشمو کلونو کې روښانې غورځنګ په بشپړه توګه کمزورۍ شوی و.

د بایزید انصاري له اولادې وروستۍ سړۍ، چې د دغه غورځنګ لارښوونه یې پر غاړه واخیسته، کریم داد د جلال الدین کشر زوی و. د دېرشو کلونو په وروستیو شپو ورځو کې مغلي قوتونو بنګښ لوټ کړل، کریم داد یې ونیو او په دار یې وځړاوه.

"د روښانې نهضت د پښتنو د تاریخ یوه ډېره ځلانده ولې په عین حال کې تراژیکه پاڼه ده. دې نهضت د پښتنې ټولنې په راتلونکي پرمختګ، د پښتنو پر ملي شعور او د دوی د کلتور په وده باندې بې ساري تاثیر درلود."[1]

خو د روښانې غورځنګ په له منځه تللو سره د پښتنو بېداري له منځه لاړه نه شوه. پر وروستي جریان یې خپل ژور اثرات پرېښودل، سره له دې چې د دغه غورځنګ جوړښت او سازمان له منځه ولاړ، خو د هغو مبارزو او فرهنګي کارونو د نویو بدلونونو لپاره لاره هواره کړه.

الفنستن د روښانیانو د غورځنګ د وروستیو بقایاوو په باب په خپل اثر "د کابل سلطنت بیان" کې لیکي: "تراوسه هم د پښتور په شاوخوا او د بر وبنګښو په غرو کې د دغې فرقې پیروان شته دي."[2]

---

[1] رودین، "بایزید انصاری"، کابل، ۱۰ ګڼه. (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۹)، ۵۱ مخ

[2] الفنستن، د کابل سلطنت بیان، د حسن کاکړ او نصرالله سوبمن ژباړه. (کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۰)، ۲۲۲ مخ

نتیـــجه

بایزیـد روښـان د یـو عرفـاني او فلسـفي شخصـیت پـه توګـه د پښتنـي ټولنې یـا پـه لږ پـراخ عبـارت سـره د هنـد او فـارس تـرمنځ سـیمې د لسـمې هجـري (۹۳۱_۹۸۰هـ) پیـړۍ د زمانـي واټن مولود دی.

بایزیـد انصـاري، چـې د ژوندانـه پـه خـاص پـراو کـې یـې د روښـان لقـب وګاټـه، د خپـل وخـت یـو "نخبـه" او "ایلیـت" عنصـر، د خپـل ټولنیز چاپیریـال پـر بنـې پېژنـدنې سـربېره، تـر هنـد، پښتونخـوا او ان تـر سـمرقند پـورې ګرځېـدلی، علـوم یـې زده کـړي، زده کـړې یـې کـړي، لـه علمیـاوو او صـوفیانو سـره یـې ناسـته کـړې او د اسـلامي فـرهنګ د یـوې پښتنـي پدیـدې پـه توګـه ځلېـدلی دی. لـه زده کـړو او سـیر و سـلوک وروسـته یـې پـه عملـي او وسـله والـه توګـه د مغلـو د دولـت

پرخلاف مبارزه کړې او په دې لار کې يې خپل ځان هم قربان کړی دی.

د روښانيانو په باب تراوسه پورې درې ډوله نظريې تينګې شوي دي:

ـ ځينو بايزيد روښان د مغلو د دولت پر ضد يو ملي او ان نشنلست مبارز او د خپلواکۍ غوښتنې د غورځنګ سالار بللی دی. زمونږ د څېړنې له مخې دغه ادعا زياته افراطي او احساساتي خبره ده.

ـ بله نظريه دا ده، چې ځينې څېړونکي بايزيد روښان او د هغه پيروان د وخت په شرايطو کې د بزګرو د پاڅون علمبرداران بولي، ددې نظريې خاوندان عمدتاً اسلانوف روسي مستشرق او ځينې نور څېړونکي دي.

زمونږ د څېړنو او مطالعاتو له مخې او دغه راز د روښاني دورې د لومړيو متونو له مخې، په دې باب زيات مواد نه شته، بلکې يوازې ددغې ډلې څېړونکيو په بيا ځلي ذهني تفکر او ځاني توجيهاتو پورې اړه لري.

ـ درېيمه نظريه دا ده، چې ځيني معاصر څېړونکي بايزيد روښان د يو عارف او صوفي شخصيت په توګه پېژني، چې د نورو متصوفينو په څېر له فلسفي افکارو او هندي فرهنګ څخه هم اغېزمن دی او د بايزيد روښان د سرسخته مخالف اخوند دروېزه په قول خو هغه ملحد او بې دينه ښودل شوی دی.

خو په دې حاضره څېړنه کې لکه چې هڅه شوې، د بایزید روښان په باب په ټولو مواردو کې په هیڅ ډول مطلق حکم نه دی شوی، په کلي ډول د هغه د افکارو د تکوین او بشپړتیا بېلابېل اړخونه بنودل شوي دي. هغه د خپل وخت له لاسبري فرهنګ او مدنیت څخه راپورته شوی یو شخصیت او د یو صوفي، عارف او فلسفي په توګه بنودل شوی، چې د وخت له اسلامي علومو څخه متاثره و، مستعد پیاوړی هوښیار، تېز فهمه خو په عملي لحاظ ببړندی او تلواري سپه سالار وو.

په دې ډول بې ځایه به نه وي، چې خپلې خبرې راټولې او لنډې کړو، چې:

بایزید روښان د مغلو له دولت سره مخالف شخصیت و. هغه ددغه مخالفت د اظهار لپاره لښکرې راټولې کړې.

هغه د خپل وخت یو "کامل پیر" او عارف و. خلک یې خپلې پیروی ته رابلل. هغه چله او ریاضت ایستلی و او د معنویت د لوړ مقام یعني "مسکنت" تر پړاوه رسېدلی و.

ـ بایزید د ببلابېلو عواملو له مخې د عرفاني او فلسفي افکارو لرونکی و. د اسماعیلیه فرقې زیاتره اصول او پرنسیپونه د هغه په افکارو او آثارو کې لیدلای شو.

د تناسخ او حلول د افکارو "انتساب" او یا اتهام پرې لګېدلی دی. په هر صورت! د روښانیانو نهضت د شکل له پلوه عرفاني او د محتوی له مخې ملي، عوامي حرکت و. د ځینو مؤرخینو په اند ددغه نهضت شکل او ظاهري بڼې ته پاملرنه ددې سبب شو، چې سطحي څېړنه وکړي او د تېروتنو سبب شي.

بایزید روښان او په مجموع کې د هغه روښاني نهضت سره له دې چې په دېره بې رحمۍ ځپل شوی او له منځه تللی دی، خو په تولنیز_فرهنګي انکشاف، د بنځو د حقوقو د اعادې، تولنیزې برابرۍ، فرهنګي ودې (ادبیات او موسیقي) او د پردیو پر ضد د خلکو د کرکې او نفرت روزلو د روحیې په برخه کې یې د پښتنو په تولنه کې زیات اثرات پرېښودل.

ماخذونه او مراجع

- آریانا دایرة المعارف (پښتو) ۵ ټوک (کابل: د دایرة المعارف ټولنه، ۱۳۵۴).
- الفنستن، د کابل سلطنت بیان، د حسن کاکړ او نصرالله سوبمن ژباړه، لومړی ټوک (کابل: علومو اکاډمی، ۱۳۶۰).
- چوینی، علاوالدین عطا ملک، نامه الموت، د نجیب مایل هروي او عشق کابلي په اهتمام (مشهد: بنگاه کتاب، ۱۳۶۰).
- حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۲)
- حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده. (کابل: علومو اکاډمی، ۱۳۵۷).
- ختک افضل خان، تاریخ مرصع، مقابله، تصحیح او نوټونه له دوست محمد کامل مومند (پېښور: یونیورستي بک ایجنسي، ۱۹۷۴)
- خسرو، ابو معین ناصر، جامع الحکمتین، چاپ دوم (تهران: کتابخانه ظهوری، ۱۳۶۳).
- خلیل همیش، ورکه خزانه، (پېښور: ن. م...
- داراشکوه، محمد او پانیشادها، ترجمه جلال نائینی و تاراچند (تهران: کتابخانه ظهوری، ۱۳۶۵)
- درویزه، اخوند، تذکرة الابرار والاشرار (پېښور: ن،م، ۱۹۶۰)

- دروپزه، اخوند، مخزن (پیښور: یونیورستي، ۱۹۶۹)
- داستایوفسکي، فیودور، برادران کارامازوف... و مشفق همدانی تجرمه (تهران: جاویدان) ۱۳۴۴
- روښان، بایزید، خیرالبیان (کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳)
- روښان، بایزید، خیرالبیان (پیښور: پیښور یونیورستي، ۱۹۶۷)
- روښاني، واصل، څو شعرونه (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۵۳)
- روهي، محمد صدیق، ادبي څېړنې (کابل: دولتي مطبعه، ۱۳۶۰).
- روهي، محمد صدیق، روښان پیژندنه (کابل: لومړی او دویمه گڼه (کابل: د علومو اکاډمی، ۱۳۶۷)
- رومادین، و.ا.ماسیون. و.م. "بایزید انصاري"، کابل، د گل محمد نورزي ژباړه لسمه گڼه (کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۴۹)
- رفیع، حبیب الله، ادبي ستوري (کابل: اطلاعات و کلتور ۱۳۵۹)
- زرین کوب، عبدالحسین، ارزش میراث صوفیه، چاپ سوم (تهران: امیر کبیر، ۱۳۵۳)
- زند، میخایل.ای، نور و ظلمت در تاریخ ادبیات ایران، (تهران:انتشارات پیام، ۱۳۵۱)
- زنجانی عمید. تحقیق و بررسي در تاریخ تصوف (تهران: دارالکتب اسلامیه، ۱۳۴۶)
- سجادی، سید جعفر، فرهنگ لغات و اصطلاحات و تعبیرات عرفاني، چاپ دوم (تهران: کتابخانه ظهوری، ۱۳۵۴).
- صفا، ذبیح الله، تاریخ ادبیات در ایران، جلد اول، چاپ هفتم (تهران: انتشارات فردوسی، ۱۳۶۶)
- طبری، احسان، بررسیهای در بارهء برخي از جهانبینها و

جنبشهای اجتماعی در ایران (ن.م: انتشارات حزب توده ایران، ۱۳۴۸)
- طبیبی، عبدالحکیم، تصوف و عرفان در افغانستان (کابل: مطبعه دولتی، ۱۳۵۶)
- عبدالحکیم، عرفان مولوی، ترجمه احمد مهدی (تهران: انتشارات امیر کبیر، ۱۳۵۲)
- عمید، حسن، فرهنگ عمید چاپ هجدهم (تهران: انتشارات امیر کبیر، ۱۳۶۲)
- غنی قاسم، تاریخ تصوف در اسلام و تطورات و تحولات مختلف آن، (تهران...)
- فرهنگ، محمد صدیق محیط اقتصادی ـ اجتماعی خوشحالخان، توریالی پشتون (کابل: پشتو تولنه، ۱۳۵۰)
- فانی، ملا محسن، دبستان المذاهب، (طبع نولشکور، کانپور، ۱۳۲۱)
- فروید زیگموند، تعبیر خواب و بیماریهای روانی "ترجمه ایرج پورباقر" (تهران: انتشارات آسیا، چاپ دوم ۱۳۶۳ع)
- کامل مومند، دوست محمد، رحمان بابا (پیښور: اداره‌ء اشاعت سرحد ۱۹۵۸)
- گوستاویونگ کارل، روانشناسی و دین "ترجمه فوادروحانی" (تهران: فرانکلین، ۱۳۵۴)
- گوستاویونگ کارل، انسان و سمبولیهایش، "ترجمه ابو طالب صارمی" (تهران: انتشارات امیر کبیر، ج ۲، ۱۳۵۹)
- اوندرفرید، درویشان چرخان "ترجمه علی شریف زیر نظر استاد خلیلی" (کابل: بیهقی ۱۳۵۶)
- لوی ماسینون، قوس زنده گی منصور حلاج، ترجمه روان فرهادی (تهران: کتابخانه منوچهری، ۱۳۵۸)

- لوانی دولت، دیوان (کابل: پښتو تولنه، ۱۳۵۳)
- مجروح، سید بهاوالدین، "پیام صوفی بت شکن به بت پرستان قرن بیستم"، ادب، شماره اول (کابل: د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۵)
- محمد شفیع، "بایزید انصاری"، پښتو، د مولینا عبدالقدوس ژباړه، څلورمه گڼه، (پېښور: پېښور یونیورستي، ۱۹۵۹)
- مولینا عبدالقدوس، "د بایزید روښان مذهبي افکار"، پښتو، دوهمه گڼه (پېښور: پېښور یونیورستي، ۱۹۵۹)
- مبلغ، محمد اسماعیل، "دربارهء تصوف بایزید روښان" روښان یاد، (کابل: پښتو تولنه، ۱۳۵۳)
- مخلص، علي محمد، حالنامه (کابل: د علومو اکاډمي، ۱۳۶۴)
- موردوک ایرس، ژان پل سارتر، "مهدی افشاء ترجمه" (تهران: کاویان، ۱۳۵۲)
- مؤتمن زین العابدین، شعر و ادب فارسي (تهران: لاله زار، ۱۳۳۲)
- ناس، جان، تاریخ جامع ادیان از آغاز تا امروز "ترجمه علی اصغر حکمت" چاپ سوم، (تهران: مؤسسه انتشارات فرانکلین، ۱۳۵۰)
- نیچه، زردشت چنین گفت، قسم دوم (تهران: ۱۳۵۱)
- هبوادمل، زلمی د واصل روښاني دیوان (کابل: علومو اکاډمی، ۱۳۵۶)
- هېواد مل، زلمی د مخلص منثوره رساله، کابل (کابل: پښتو تولنه، ۱۳۶۷)

د بایزید روښان محاکمه
او خپله عالمانه دفاع

مدخل:

د پښتنو پر فکري تاريخ تراوسه دپر لږ څه ويل شوي دي. البته په حينو برخو کې په تيت پرک دول يو څه تر سترګو کېږي، خو ددغه اولس د فرهنګ او لرغونتوب په پرتله هېڅ دي. د فرهنګي احيا او بېرته راژوندي کېدنې لپاره اړينه بريښي، چې د پښتنو د ژوندانه د نورو اړخونو په ترڅنګ ددغه اولس د تېرو مفکرينو عقايدو، افکارو، نظرياتو او په تېره فلسفي افکارو ته، چې د وخت د لاسبري مذهب ګرد پرې پروت دی، د نوير او معاصرې مېتودولوژۍ له مخې وسپړل او روښانه شي. د بايزيد روښان پر فلسفي عقايدو او

افکارو باندې کار او له دې جملې د کابل د وخت د حکمران، چې د اکبر امپراتور ورور و، له خوا د نومورې محاکمه او دفاعیه ددغه څېړنیزو کارونو لړۍ ده.

بایزید روښان له عقیدوي پلوه هغه تاریخي شخصیت دی، چې پر تاویل، پیر کامل، مقام انبیا، هادي، مهدي، وحی، الهام، طریق توحید او نورو مفاهیمو باندې د هغه د عقایدو له زاویې بحث او خبرې اترې کولای شو.

مشهور ایرانی پوه زرین کوب په "دنباله جستجو در تصوف ایران" کې د پیر روښان په اړه یو بحث لري. ددې بحث انعکاس د پښتنو څېړونکیو په آثارو کې لږ لیدل شوی دی. په دې بحث کې یوه مهمه خبره دا ده، چې کله چې پر بایزید روښان باندې په خپل وخت کې د هغه د مخالفینو له خوا د کفر تور ولګېده، نو د کابل حاکم چې د اکبر پادشاه ورور میرزا حکیم وغوښت او هغه یې محاکمه کړ. په محاکمه کې نومورې پر نه شو، بلکې برات یې واخیست او ازاد شو. زرین کوب لیکي:

"دعوت او که متضمن قبول اطاعت و تبعیت بی چون و چند از حکم "پیر کامل ـ شخص او ـ بود از آن پس در بین بعضی طوایف سند و بلوچ هم نشر یافت و او علماء و امرای وقت از جمله امراء بخارا و بدخشان و حتی اکبر امپراطور (امپراتور مغلی هنا را به متابعت از طریقه خویش دعوت کرد". (۱ ـ ۷۸ مخ)

زرین کوب په دې خبره ټینګار کوي، چې د بایزید روښان پیر و قبایل د اکبر پادشاه له امپراتوری سره په ډغره شول او نژدې درې کاله یې د بابر له اولادې سره په سختو جنګونو کې تېر کړل. سره له دې، چې بایزید هم په دې جنګونو کې ومړ، خو د هغه د اولادې او پیروانو مبارزې تر ډېرو کلونو پورې روانې وې. بله دا چې بایزید روښان پښتنو او په تېره د پښتنو فرهنګ ته یو ډېر ستر میراث پرېښود، چې هغه په منظمه او سیستماتیکه توګه د هغه آثار او د پښتو تصوفي او عرفاني اشعار دي. زرین کوب وایي:"مع هذا آثار عمده ای در ادب صوفیه_یا در ادبیات دینی و عرفانی عصر_ از وی باقی مانده است..."(۱_۷۸)

اوس راځو د څېړنې اساسي مسالې ته:

د روښان غوره آثار خیرالبیان او مقصود المؤمنین دي او له هغو وروسته حالنامه هم د هغه د دوران د فکري تاریخ حیثیت لري. د نومورې عقاید اصلاً په خیرالبیان او مقصود المؤمنین کې تشریح شوي دي، خو په حالنامه کې هم مهمو مسایلو ته پام شوی دی، چې یوه له هغو د نومورې محاکمه ده، چې تر مخه ورته اشاره وشوه.

وایي کله چې په تیراه کې ورکزو، اپریدو او د تیرا خلکو بایزید روښان ته بیعت ورکړ او د هغه پیروان شول، نو بایزید روښان د سړبن ولایت یا پېښور ته د سفر نیت وکړ. نومورې له تیراه څخه روان شو او پېښور ته ورسېد. د خلیلو

قبيلې ته ورغی او د خليلو د قوم مشر ملک سانې په کور کې يې واړول. د سانې ملک د قوم اکثر خلک د بايزيد روښان مريدان شول.

حالنامه وايي، چې د مومندو د قبيلې اسحاق نومي چې ليک لوستی سړی و، د پير دستگير مريد شو. د خلافت منصب يې ترلاسه کړ. په دې ډول له خليلو، مومندو او داودزيو نه هره ورځ دوه درې تنه د بايزيد مريدان کېدل. په پېښور کې د روښان د پيرۍ اوازه خپره شوه او په ترتيب سره د مهمندزيو، گگيانو، يوسفزيو، توري او ساپيو د قومونو خلک ډلې ډلې راتلل او د پير دستگير مريدان کېدل.

دې کار پر ناقصو او بې علمه پيرانو باندې د حسد او کينې اور بل کړ. د ملک حبيب کور ته، چې د خليلو د قوم مشر و، ورغلل او چيغې يې کړې، چې "نړۍ تورتم ده، محمدي دين خسوف نيولی دی." (۲_۳۳۱)

ملک حبيب ورته وويل، چې ستاسې هدف له دې وينا څه دی؟

هغوی وويل، چې پير روښان زمونږ ولايت ته راغلی او زمونږ مريدان گمراه کوي او هره ورځ دغه اور لمبې کوي. نومورۍ (روښان) دعوه کوي، چې "زه مهدي يم او پر ما وحی راځي." (۲_۳۳۱) او ډېر ژر به وي، چې توره راواخلي. د اسلامي احکامو له مخې وحی يوازې پر پيغمبر نازلېږي. نو ددې لپاره، چې ډير خلک پرده راتول نه شي، ددې علاج بايد وشي.

پـر هغـه مهـال د ټولـو غوريـاخپلو مشـري خليلـو کولـه او د پېښـور د صـوبې حـاکم تـه ورغلـل او ورتـه ويـې ويـل، چـې د سـاني ملـک کـور تـه روښـان راغلـی او دښمنـی ته يـې مـلا تړلې ده.

حبيـب ناقصـو پيرانـو تـه وويـل، چـې تاسـې لاړ شـئ زه بـه يـې چـاره وکـړم. بيـا حبيـب د پېښـور صـوبه دار جـانس خـان تـه ورغـی، عـرض يـې وکـړ چـې زمـوږ ولايـت تـه داسـې شـخص راغلـی، چـې بـې ديـن او بـې شـرعې دی او د مهـدي گـری دعـوه کـوي، خلـک ورتـه مراجعـه کـوي او د هغـه مريـدان کېږي. کـه چېـرې نومـوړی بنـدي نـه شـي، نـو نـن دی کـه سـبا تـوره بـه راواخلي.

جـانس خـان ورتـه وويـل، چـې زه بـه ځينـې کسـان ورولېـږم، کـه چېرتـه هغـه بـې شـرعې او بـې دينـه وي، وبـه يـې وژنـم. پـه دې ډول يـې ځـو کسـه د فضـيلت خاونـدان پيـر روښـان تـه واسـتول، چـې کلـه پيـر تـه ورغلـل، نـو سـلام يـې وکـړ. پيـر روښـان د سـلام ځـواب ورکـړ. بيـا يـې ورتـه وويـل، چـې ځينـې خلـک سـتا پـه بـاب عجيـبې خبـرې کـوي. پيـر روښـان ورتـه وويـل هرڅـه چـې وايـي، د کيـنې او حسـد لـه مخـې يـې وايـي، د حسـد او دښمنی خبره اعتبار نه لري.

راغلـي کسـان پاڅېـدل، جـانس خـان تـه ورغلـل او ورتـه ويـې ويـل، چـې دغـه سـړی (روښـان) کامـل مسـلمان او يـو فقيـر دی او هغـوی چـې تاتـه عـرض کـړی، د حسـد او کينـې لـه مخـې يـې

کړی دی. هر څوک چې دې سړي ته په ناحقه زیان ورسوي، نو مواخذه به شي.

کله چې جانس خان د پیر روښان ستاینه حبیب بخیل ته وکړه، چې هغه یو مسلمان او خدای پرسته سړی دی. ستا عرض خلاف دی. بیا حبیب بخیل وپتپیله، چې باید دې پرې بدې جانس خان ته ورکړي، چې پیر روښان مړ کړي. ورونو یې هم ورسره ومنله. حبیب بخیل جانس خان ته د دولس زره روپیو وعده ورکړه، خو جانسخان هغه مهال غوښتل چې له میرزا حکیم نه ځان ګوښې او هندوستان ته د اکبر پادشاه حضور ته ولاړ شي. "د جانس خان په زړه کې وګرځېده، چې په ناحقه د وینو توپول ناوړه پایلې لري او زه پرېکړه لرم، چې اکبر پادشاه ته ولاړ شم، هلته کېدای شي ماته دې پر زر راکړي."(۲-۳۳۲)

نو حبیب بخیل ته یې وویل، چې زه هم د سر له پاسه سر لرم که په ناحقه ویني تویې کړم، نو میرزا حکیم ته به څه ځواب ورکړم؟ لاړ شه میرزا حکیم ته. حبیب بخیل له جانس خان خپه شو او کابل ته میرزا حکیم ته ولاړ. د میرزا حکیم کاتبانو او مامورانو ته یې دولس زره روپۍ بدې ورکړې. چې د میرزا حکیم پام دې ته راواړوي، چې پیر روښان په هغه سیمه کې ووژني او ځان ته یې راونه غواړي.

د میرزا حکیم افسران او مامورین هغه ته ورغلل او ورته ویې ویل، چې یو سړی د پښتور په ولایت کې پیدا شوی او

وايي چې "زه مهدي يم او پر ما وحی راځي" او ټول افغانان پرې راټولېږي، کـه ژر يې علاج ونـه شـي، نـن سبا بـه خلـک پاڅون ته راوبولي او هېڅوک به يې بيا چاره ونه کړای شي.

حالنامـه زيـاتوي: کلـه چې مېـرزا حکـيم دا خبـرې واوربـدې، نـو ويـې ويـل چې دا سړی راوغـواړئ، چې وگـورم د وژلـو دی، که نه؟

همـدا ډول حبيـب بخيـل مـامورانو تـه ويلـي وو، چـې کـه چېرې دغـه سړی مېـرزا حکـيم تـه ورغـی، نـو بيـا بـه يـې څـوک مـړ نـه کـړي، ځکـه چـې "جـادوگر" دی، هـر څـوک چـې هغـه ووينـي او خبـرې يـې واوري، لـه هغـه سـره خبـرې نـه شـي کـولای، بلکې د هغه تر اثر لاندې راځي.

سـره لـه دې چـې مېـرزا حکـيم تـه وويـل شـول، چـې پيـر دسـتگير قـدس سـره هماغلتـه ووژنـي، خـو مېـرزا حکـيم ونـه منلـه. جانس خـان تـه يـې فرمـان ولېږه، چـې ددغـه شـخص پـه اړه خلـک خبـرې کـوي، هغـه ماتـه راواسـتوئ، چـې پـه حقيقـت يـې پـوه شـم. کلـه چـې جـانس خـان تـه فرمـان ورغـی، دغـه فرمـان يـې پيـر روښـان تـه واسـتاوه، چـې هغـه فرمـان وليـده، ويلـي ډېـر ښـه، زه مېـرزا حکـيم تـه ورځـم. څـو تنـه عالمـان او يـاران يـې لـه ځانـه سـره کـړل، کابـل تـه ولاړ، پـه لاره کـې د تـوي قبيلـه وه، عبدالکريم نامي د قبيلې مشر و، د پير مريد شو.

خلـوت او رياضـت يـې غـوره کـړ، يـو خليفـه يـې هلتـه پرېښـود او پخپلـه کابـل تـه ولاړ. کلـه چـې حبيـب بخيـل د

روښان له ورتګ نه خبر شو، نو د مېرزا حکیم وزیرانو ته ورغی او ترې ویې غوښتل، چې هڅه وکړي چې روښان مېرزا حکیم ته پرېښودي او له سرای نه بهر د هغه علاج وکړي. که مېرزا حکیم یې وغواړي، ورته ووایاست چې درناوی یې ونه کړي. کله چې روښان د مېرزا حکیم دربار ته ورغی، وزیران مېرزا حکیم ته ورغلل او ورته ویې ویل، چې که حضور امر کوي دوی به شخص ته بهر سزا ورکړي او که بیا هم غواړي دلته به یې راولي. مېرزا حکیم وویل دننه یې راولئ. روښان چې کله د مېرزا حکیم دفتر ته ورننووت، نو ټول مجلس د پیر دستګیر روښان درناوي ته بې اختیاره پورته شول، مېرزا حکیم د روښان ډېر درناوی وکړ.

حالنامه زیاتوي، چې مېرزا حکیم هغه ته وویل:

"ای شېخه! خلک ستا په باب ډېر څه وایي، قاضي خان ته ولاړ شه او له هغه سره مذاکره وکړئ هرڅه چې ستا په باب ووایي، زه به په پرې عمل وکړم." قاضي خان د کابل قاضي و او د وخت ډېر ستر عالم او فاضل شخص و.

د روښان محاکمه:

د حالنامې مؤلف لیکي: "کله چې پیر دستګیر قدس سره قاضي خان ته ورغی، قاضي خان د لویانو بچو ته په درس ورکولو مشغول و. نومورې د روښان په ورتللو سره سبق پرېښود او له پیر دستګیر سره خانقاه ته ولاړ. په ډېر درناوي

سره يې ورسره خبرې وکړې، ډوډۍ يې وخوړه، بيا يې خبرې پيل کړې." (۲_۳۳۷مخ)

قاضي خان وپوښتل:

"شيخه! خلک وايي چې ته ځان ته مهدي وايې، دا خبره رښتيا ده؟"

پير دستګير وويل: دوی دروغ وايي، زه وايم چې هادي يم، د رسول الله عليه السلام لاره ښيم وعلی (علم النبی) النبي ورپېژنم او مريدانو ته طريق التوحيد ښيم. "هادي ام راه رسول الله عليه السلام را می نمايم و علم النبی دانانم و مريدان را طريق توحيد هدايت ميکنم و از ضلالت و جهل و شرک باز ميګردانم و حاسدان از روی حسد بجای هادی مهدی و به جای ولی نبی می گویند.) (۲_۳۳۷مخ)

اوس په دې ټکو لږ څه غور کوو: هادي څه ته وايي؟

هادي د لارښود په مانا راغلی او په عرفاني ادبياتو کې قطب او مرشد ته هم وايي او يا د حق له فيض څخه عبارت کېدای شي. جامي وايي:

هست حق را دو اسم کار گذار
هر يکی را مظاهر بسيار
مظهران خلاف مظهر اين
ان سوی کفر خواند و اين سوی دين
ان دو اسم، اسم هادی است و مضل
فاش گفتم که حل شود مشکل

مظهـــــران نبـــــی و اتبـــــاعش
مظهـــر ایـــن ولـــی و اشـــیاعش. (۳_۷۹۶)

همدارنگه مولینای بلخ هم وایي:

هـــادی راه اســـت یـــار انـــدر قـــدوم
مصـــطفی زیـــن گفـــت اصـــحابی نجـــوم
نجـــم انـــدر ریـــگ دریـــا رهنماســـت
چشـــم را بـــاروی او میـــدار جفـــت
چشـــم را بـــا روی او میـــدار جفـــت
گرد منگیزان ز راه بحث و گفتگو. (۳_۷۹۶)

پـه تصـوفي ادبیـاتو کـي پیـر او مرشـد پـه بیلابیلـو عبـاراتو یادیـږي: لکـه "پیـر"، "ولـي"، "شـیخ"، "قطـب"، "دلاري دلیـل" دا هغـه څـوک وي، چـې پـوره علـم او پوهـه ولـري. مولینـا عبدالرحمان جـامي پـه "نفحـات الانـس" کـې د ولـي او ولایـت پـه باب لیکي:

"ولایـت مشـتق اسـت از ولـی و ان بـر دو قسـم اسـت ولایـت عامـه و ولایـت خاصـه. ولایـت عامـه مشـترک اسـت میـان همـهء مومنـان "قـال الله تعـالی الله ولـی الـذین امنـوا یخـرجهم مـن الظلمـات الـی النـور" و ولایـت خاصـه مخصـوص اسـت بواصـلان از ارباب سلوک وحی عبارت عنفنا العبد فی الحق و بقاه بـه فـالولی هوالفـانی فیـه والبـاقی بـه و فنـا عبـارت اسـت از نهایـت سـیرالی الله و بقـا عبـارت اسـت از هـدایت سـیر فـی

الله انگاه متحقق شود که بنده را بعد از فنا مطلق وجودی و ذاتی مطهر از لوث حدثان ارزانی دارد تا بدان در عالم انصاف باوصاف الهی و تخلق باخلاق ربانی ترقی کند."(۴_۲۳۰)

واقعي خبره دا ده، چې روښان په خپل وخت کې په مروجه علومو لاسبری او مسلط عالم و. د هغه له استدلالونو او خبرواترو څخه جوتېږي، چې نومورې په فلسفه او علم کلام باندې هم تسلط درلود. د سیمه ییزو متعصبو پیرانو چې د تحجر او دوګماتیزم په جالونو کې بنکېل وو، د خپل وخت د یوه مجتهد پیر او مرشد زغم یې نه درلود، نو ځکه خو یې په زوره د مغلو حاکمانو ته دده په سر ږپوټونه ورکول او یا یې ورته دسیسې جوړولې.

دغه پېښه مشهور پوه او څېړونکی قلندر مومند هم په خپل یو اثر د خیرالبیان تنقیدي مطالعه کې څېړلې ده:"ترڅو پورې چې د نبوت د دعوی الزام دی، نو په خیرالبیان، مقصودالمؤمنین او صراط التوحید کې خو څه داسې نشته، چې د هغو په بنیاد د اخون دروېزه یا د بایزید انصاري د نورو مخالفینو دا خبره ومنلی شي، چې پیر روښان د نبوت مدعي و. د حالنامې د بیان مطابق خو هغه د قاضي خان د یوې پوښتنې په ځواب کې بایزید انصاري وویل"من میګویم که هادی ام راه رسول الله علیه السلام را می نمایم و علم النبی میدانانم و مریدان را طریق توحید هدایت میکنم و از ضلالت

وجه و شرک باز میگردانم و حاسدان از روی حسد بجای هادی مهدی و بجای ولی نبی میگویند." (۵تنقیدي مطالعه، لا مخ)

بیا یې وپوښته:" شنیده میشود که میگویی بر من وحی می آید؟

پیر دستگیر جواب داد: غلط میگویند من میفرمایم که بر من الهام میشود و ندای غیب می شنوم.

باز پرسید که در میان وسوسه و الهام و میان ندای رحمانی و شیطانی چگونه فرق و تمییز می نمایی؟

پیر دستکیر فرمود: که تمیز میان الهام و وسوسه و میان ندای رحمان(ی) و شیطانی از دلیل آیت و حدیث اقوال مشایخ میکنم، هر ندا را الهام که موافق آیت و حدي و اقوال مشایخ (۵۳۳) باشد آنرا ندای رحمانی و الهام می شناسم و آنکه موافق آیت و حدیث نبوی نبود آنرا وسوسه و ندای شیطانی میدانم به اعوذبالله من الشیطان الرجیم رد میکنم."

کله چې د وحې په باب مسالې ته راځو، سم له واره د عقل او وحې د ارتباط مساله مطرح کېږي. فلسفه او علم کلام له عقل سره رابطه لري او پر عقل تکیه کوي، خو وحې پر الهي احکامو باندې اتکاء کوي. د عقل او وحې ترمنځ اړیکې په بشري فکري تاریخ کې یو مشهور او ژور بحث دی. دا داسې مساله ده، چې زرګونه کلونه وخت یې نیولی دی او تراوسه هم نویوالی لري.

"هرځای او هر وخت چې د ایمان او عقل ترمنځ د اړیکو مساله څېړل کېږي اړینه ده، چې د مسالې د حل انتزاعي ارخ باید په هماغه ډول پرځای پاتې شي."

د مسالې دغه انتزاعي څېړنه په واقعیت کې د فلسفې او ارواپوهنې کار دی. دا کار په لومړي سر کې په لویدیځ کې په تېره په یوناني فلسفه کې پیل شو. اپلاتون چې یو سیاسي متفکر او فیلسوف و، په خپلو فلسفي زده کړو کې یې د یو الهي قانون په وجودیت غوره او ضرور بالله، چې وکړای شي د خپلې فاضله مدینې لپاره لازم قوانین وضع کړي.

د اپلاتون د وخت یونانیان د داسې سنتو هستوونکي وو، چې د هغو پر اساس یې د خدای د وجود د اثبات لپاره دلیل غوښتنه او د استدلال په وسیله یې دلیل مانه. په لویدیځ کې انساني فکر د خپل صانع د موجودیت په لټه کې و. د لرغوني زمان هېڅ یوه فیلسوف "عهد عتیق" د لوی خدای د شته والي سوال د ناویل شوي جواب په توګه نه دی مطرح کړی او نه یې د رد لپاره څه مطرح کړي دي، خو د پر زړ د یوناني او یهودي تفکر ترمنځ یو ټکر رامنځ ته شو. فیلون لومړنی متفکر و چې ویې ویل، چې سپېڅلی کتاب وحي ده، چې د خدای له خوا راغلی او یوناني فلسفه هم حقیقت ده. "دا سامي روح دی چې خدای په وحي کې وینې."(۵_۶)

خو د مسلمانانو په باور وحي په یوه کتاب (قرآن) او د مسیحیانو په باور په یوه فرد (مسیح) کې تجلي کوي.

اسلام د قرآن د وحي په اړه ادعا کوي، چې د سپېځلي کتاب له عقيدې سره ورته والی لري او د اسلام د پېغمبر پيروان ورته په درنښت سره ګوري، چې د مسيحيانو او يهوديانو له پېغمبرانو څخه زيات درناوی دی. په دې ډول وحي د هغوی په پېغام کې ده، نه د هغوی په وجود کې. پر دې اساس په دې اړه سوژه-ابژه (دروني-بروني- زياتره سبجيکټيف اړخ لري. پردې سربېره په عمده توګه وحي له الهي احکامو څخه متشکله ده، چې د شريعت د احکامو پيروي يې لازم شرط دی، نسبت دې ته چې له يو فرد سره عشق او وفاداري ولري. (۶-۷او۸مخونه)

اسلامي علوم او فقهه نور هم د وحي اصطلاح مشخصوي او پردې ټينګار کوي: "هر هغه څه چې له خدای تعالی څخه پر رسول نازل شوي وو، يو شی دی او د نبوت له ځانګړنو څخه دي. وحي په دوه ډوله ده: يو الهي کلام او بل نبوي احاديث، ځکه چې د پېغمبر اقوال هم ټول وحي بلل کېږي (قدسي حديث وحي بلل کېږي)، چې کله له جبرايیل له واسطې پرته او کله د جبرايیل په واسطه او کله هم د جبرايیل د نفث په وسيله د نبي پر زړه باندې." (۳-۷۸۳)

له دې جوتېږي، چې روښان په خپل استدلال کې هغه څه چې څرګند کړي، د شريعت مطابق يې جوت کړي دي، خو دلته د الهي احکامو او د الحاد ترمنځ مبارزه نه ده، بلکې له دې سره د علم، فلسفې، پوهې او جهالت ترمنځ مبارزه ده

دا کېدای شي، چې منشا يې په نورو مسابلو کې وي، چې وروسته پرې خبرې کوو.

په هر صورت! روښان په خپل استدلال او براهينو کې وتلی او زړور او لاسبری دی، ځکه خو د هغه مخالفين بيا بيا ددې غوښتنه کوي، چې له مېرزا حکيم سره ونه ګوري، ځکه چې د دربار عالم قاضي خان نه شي کولای له دلابلو پرته د هغه د مرګ فتوا ورکړي او له دې دا جوتېږي، چې روښان د خپل وخت له اسلامي فلسفې، علم کلام او نورو فرهنګي مسابلو سره ښه آشنا و.

د هغه له وژلو څخه د ډډې کولو بل اساسي دليل په اولس کې د هغه نفوذ هم دی، ځکه خو په ډېر لږ وخت کې يې ډېر پيروان پيدا کړل. د هغه له علم سره څوک سيال نه شته ان د هغه لوی مخالف اخوند دروېزه هم چې په پښتنو کې د لاسبري نفوذ له کبله په دروېزه بابا مشهور دی، د قلندر مومند په قول خپل آثار يې په خپل زوی ليکلي او هغه پخپله نه دي کښلي، خو کله چې بايزيد ګورو د هغه خير البيان او نور آثار د خپل وخت شاهکارونه دي او ترننه پورې د زياتې څېړنې وړ دي، چې هغه پخپله ليکلي دي په هر حال د روښان بحث له قاضي خان سره څرګند او شفاف بحث دی، چې د اوسنيو اسلامي علومو په رڼا کې د هغه مخالفينو ته هېڅ ډول دليل نه ورکوي.

په دې کې شک نه شته، چې روښان له ملا سليمان

کالنجري اسماعیلیه څخه متاثره و. دی له بېلابېلو اسلامي آثارو سره اشنا و. اسماعیلیه فرقه نژدې له هغه فرقو څخه ده، چې په اسلامي تعلیماتو کې یوناني فلسفې ته زیات ارزښت ورکوي. بله دا چې بایزید روښان ارومرو، چې د "تقیه" له اصولو څخه بې خبره نه و، همدارنګه روښان پر تاویل باندې هم باور درلود، لکه حالنامه چې وایي:

بیا قاضي خان ورته وویل:

"رحمت خدا باد بر دانش و بینش شما، سخن کاملان گفتی. باز پرسید که مردمان میگویند که میفرمایی که بر من از روی وحی کتاب نازل شده و آن چهل سپاره است؟ و جواب فرمود که آنچه مدعیان میگویند خلاف است زیرا که من گفتم حق تعالی از روی الهام بر دل من کتاب نزول فرموده است و نام آن خیرالبیان است، چهل البیان در آن مذکور است. چنانچه غوثیه بر غوث الاعظم از روې الهام نزول شده اما عوام الناس فرق میان وحی و الهام (۵۳۴) نمی توانند کرد، لاجرم وحی می گویند و حاسدان از روی حسد سخن باز میگردانند بجای الهام وحی میگویند."(۲_۳۳۹)

وروسته حالنامه زیاتوي:

"پیر دستگیر قدس سره در علم شریعت آنچه لازم دانست از اعتقادات و عبادات و طهارت و وضو و غسل پرسید، جواب موافق مطلبش ایشان داد پیش از آن از علم

الطريقت و حقيقت و معرفت و آنچه امر و نهی هست در آن سوال نمود جواب با صورت يافت." (۲_۳۳۹)

دلته دا خبره هم د يادولو وړ ده او هغه د شريعت اصطلاح ده. شريعت د روښان له نظره او شريعت د روښان د مخالفينو له نظره.

په دې برخه کې د اختلاف وړ ټکي دا دي، چې له شريعت څخه د روښان تعبير او تفسير د يو مجتهد په توګه دی. هغه د علم او فضيلت له مخې ددې توان او وس لري، چې شرعي، قرآني احکام او نصوص تفسير او د هغو مانا او محتويات خپلو پيروانو ته تفسير کړي، خو د هغه د مخالفينو تعبير له شريعت څخه د وګم او جامد دی. کېدای شي په دې اړه ځانګړی بحث وشي، خو راځو د روښان اجتهاد ته.

مجتهد څه ته وايي؟

د اهل اجتهاد په باور سره واقعي احکام ان د قرآني آيتونو په باب نن ورځ موږ ته حاصل نه دي او يوازې هغه څه، چې د قرآن په باره کې پوهېږو (ظاهري احکام) دي. د اخبار او احاديثو په باب د رواياتو او ماثوراتو په باب آن د کلينې شيخ طوسي، شيخ طبريسي او شيخ صدوق او شيخ مفيد ترمنځ اختلاف او تباين ليدل کېږي، نو پر دې اساس بايد له قياس استحسان او استصحاب سره د ديني علومو

لکه اصول، تفسیر، علم الرجال و علم الدرایت او نورو له لاري د احکامو په باب اجتهاد وشي. هر څوک ددې کار استعداد هم نه لري، چې د اجتهاد مقام ته ورسېږي، خو که دا علوم يې حاصل کړي وي، دیني او اخلاقي صلاحیت يې حاصل کړی وي..."(۷_۱۴۳مخ)

همدارنګه شریعت په اصطلاح کې هغه اقوال او اعمال او احکام دي، چې خدای تعالی د پېغمبر په ژبه خپلو بنده ګانو ته ویلي او د کار او ژوند د انتظام سبب دي.

هجوري وایي:" شریعت و حقیقت از عبارات اهل الله است که یکی از صحت حال ظاهر کند و یکی از وخامت حال باطن."

ابوالقاسم قشیري وایي:

"شریعت د عبودیت په التزام امر دی او حقیقت د ربوبیت مشاهده. هر شریعت چې د حقیقت مؤید نه وي د منلو وړ نه دی او هر حقیقت چې په شریعت مقید نه وي نامحصول دی. شریعت د خلکو د تکلیف لپاره او حقیقت د حق له طریق او تعرف نه خبر راکوي."(۳_۵۰۴مخ)

د ځینو پوهانو او علماوو په باور سره د دین په باب فهم او پوهه د هندسي حیثیت لري. دیني پوهه همېشه د عصر پوهه ده... د هر چا ۱ ـن د هغه له شریعت څخه په فهم پورې اړه لري. لکه د طبیعت په باب د افرادو پوهه. خبره دا ده، چې شریعت الهي احکام دي او پر خپل ځای ثابت دي، خو د

هغـو تعبيـر او تفسـير پـه افـرادو پـوزې اړه لـري، د وخـت پـه علمـاوو پـورې اړه لـري او د شـريعت پخپلـه ثابـت پـاتې کېـږي. د انسـان فهـم او پوهـه د وختونـو پـه پورېـو کـې د شـريعت پـه بـاب بـدلون مـومي. لـه دې ټکـي څـوک انکـار نـه شـي کـولای، چـې د شـريعت ثـابتو احکـامو د متفکرانـو د درک پـه هنـداره کـې بېلابېـل ډول انعکـاس کـړی دی. دیـن د خـدای مـال او احکـام دي، خـو دینـي معرفـت مـوږ جـوړ کـړي دي. الهـي شـريعت د خـدای لـه خـوا دی، خـو فهـم یـې بشـري دي لکـه طبیعیـت چـې خـدای هسـت کـړی دی، خـو د فیزیـک علـم او ریاضي موږ کشف او جوړه کړې ده.

عبدالکریم سروش لیکي:

"دینـي معرفـت لـه دیـن څخـه د سـمو او ناسـمو پوهېـدنو تـول دی. زمـوږ پـه نظـر د حکـیم سـبزواري درک ناسـم دی، خـو مـوږ پـه دې قضـاوت کـې لـه دیـن سـره خپـل درک، لـه دیـن څخـه لـه یـوه بـل درک سـره پرتلـه کـوو (مثـال) نـه لـه دیـن سـره او اصـولا پـه هرځـای کـې ددې پـوهې او پـر دیـن بانـدې د پـوهې تـرمنځ تعـارض رامـنځ تـه کېـږي چـې دا پخپلـه پـه دینـي مسـایلو کـې د ډېرو مسایلو د کشف کیلي ده." (۸_۶۸مخ)

پـه دې ډول د روښنـان او د هغـه د مخـالفینو د اخـتلاف اساسـي مسـایل (کـه یـواځې پـه دینـي او مـذهبي سـطح کـې وګـورو) لـه دیـن څخـه د درک مسـاله ده. د روښنـان مخـالفین د وخـت لـه لاسـبرې دسـتګاه سـره پـه رابطـه کـې و. حـال دا چـې

روښان په خپل وخت کې متداوله علوم لوستي وو. سفرونه يې کړي وو او د هند او منځنۍ آسيا له فرهنگونو سره آشنا و. پر دې اساس ده، چې د روښان درک له ديني او مذهبي احکامو او اصولو څخه د يو عالم درک و او د هغه د مخالفينو درک له دې څخهډېر ټيټ و. دا ساده خبره نه وه، چې مغلي اکبر پادشاه د هغه د مريدانو په حلقه کې شامل شو او يا دا چې مېرزا حکيم هم هغه ته د حالنامې په حواله بيعت ورکړ او د خپل پير او مرشد په توګه يې ومانه. دا ټول او ټول د روښان په تبحر او فضيلت پورې اړه لري.

بله دا چې د روښان د فرهنګي پوهې سطح ډېره اوچته او د ناقصو پيرانو د زغم وړ نه وه.

په ديني مطالعاتو کې تصوفي او عرفاني فهم او پوهه تل د تحجر په وړاندې يو پرمخ تلونکی ګام و او روښان له دې نعمت نه هم برخَوَر و. لکه چې وايي:

قاضي خان تري پوښتنه وکړه، چې دا نعمت دې له چا او له کومې کورنۍ ترلاسه کړ؟

"پير دستګير قدس سره فرمود که طريق ماچون طريق ويسيه است از طفيل حضرت رسالت پناه بی واسطه غير حق تعالی عنايت فرموده و از علم لدن بهرمند گردانيده و معانی قرآن کشف نموده و ترتيب دادن مقامها و امر و نهی در آن منزل ها در دل من (۵۳۵) القاء کرده و به تکميل ديګران امر فرموده." (۲_۳۴۰)

وروسته قاضي خان وويل:

"بارک الله علیک یا شیخ پیر کامل و مکمل! هر که بدست تو توبه کند و در متابعت تو درآید از معرفت الله و از علم توحید بهره مند گردد ان شاءالله تعالی." (۲_۳۴۰)

له هغه وروسته د بایزید حاسدان قاضي خان ته ورغلل او ورته ویې ویل که شیخ ملامت شوی وي مور ته یې حواله کړه، چې ویې وژنو. قاضي خان پوه شو، چې د شیخ دښمنان ډېر دي، نو د خپلو طالبانو په بدرګه یې مېرزا حکیم ته وروست.

مېرزا حکیم ته یې وویل:" شیخ مرد کامل و مکمل است که هر دو در متابعت اودرآید از معرفت ذات و از علم توحید بهره مند گردد و آنچه حاسدان در حق او افتراء نموده بودند، همه دروغ و بهتان بود. چون میرزا حکیم از زبان قاضی خان وصف پیر دستگیر شنید، فرمود: من مرید شیخ میشوم و چون وزیران و امیران میرزا حکیم از میرزا چنین شنیدند، جمع شده عرض نمودند که رعیت و محکوم ما مردم افغان است و همیشه با ایشان جنگ و جدال داریم، زن و فرزند ایشان را به بند می آریم و از ایشان خراج میستانیم. چون میرزا مرید شیخ شد، کی روا دارد که از افغانان خراج ستانی و یا فرزندان ایشان در قید اریم؟ الحال بودن ما در سرزمین ممکن نیست، میرزا مایان را رخصت نمایید تا پیش اکبر پادشاه برویم چون میرزا حکیم (۵۳۷) دیدند که وزراء و امراء از من برگشتند، لاچار شده

پیر دستگیر را فرمود: یا شیخ! تو در میان این قوم چرا میباشی که این طایفه ی اند که طهارت و غسل، جنابت را نمی دانند، قدر تو چه دانند؟ و از تو چه نفع گیرند. چون پیر دستگیر قدس سره از زبان میرزا حکیم چنین شنیدند، فرمود که حق تعالی تولد من درین زمره گردانیده و بر عالمی که وارث نبی است علیه السلام لازم و امر است که بی راه را راه نماید و جاهل را عالم گردانید، اگرچه هدایت و ضلالت بدست قدرت حق تعالی است، چنانچه میشنوی قوله تعالی "یضل من یشا و یهدی من یشا" اما نبی و وارث نبی مامور است به رسانیدن امر و نهی ما علی الرسول الالبلاغ. (۳_۳۴۲)

له هغه وروسته روښان له کابله روان شو، جلال آباد ته ورسید، د ځای حاکم ورته مېلمستیا وکړه او د غره پر سر یې واوره ولیده، تري وې پوښتل دا په اصل کې څه دي؟ او څه ورته وایي؟

"پیر دستگیر جواب فرمود که اصل آن آب است از سبب سرما منجمد گشته نامش بر شد الحال آنرا برف خوانند چون حرارت آفتاب غالب شود باز آب گردد، تمثیل کثرت باد دریایی وحدت هم چنین است..."(۲_۳۴۳)

بیا څه وخت په پېښور کې و او له هغه ځایه هشنغر ته ولاړ، ځکه جانس خان بدل شوی و او معصوم خان ته ډېرو حاسدانو ناسم رپوټونه ورکول.

د عقيدې له مخې:

گورو چې روښان په خپل بحث او خبرواترو کې ځان د "ويسيه" فرقې پيرو هم بولي، چې په هند او خراسان او فرهنگي حوزه کې ددې فرقې پيروان ډېر لږ پېژندل شوي دي او که وو هم، ډېر پياوړي نه وو.

"ويسيه" طريقه د يوه تن عربي زاهد په طريقې پورې اړه لري، چې په اسلامي معارف کې اويس بن عامر بن جز، بن مالک قرني له بني مراد څخه (د ۳۷ هجري کال مړ) پورې اړه لري. قرن د هغه سيمې يا غره نوم دی، چې په نجد کې واقع و يا د هغه ډلې وگړيو چې د بني عامر بن صعصعه لفطفان په نامه، چې بني قرن نومېږي، اړه لري. اويس قرني په يمن کې ژوند کاوه، له پېغمبر سره يې د ليدو او خبرو مجال پيدا نه کړ، خو څرنگه چې پرهېزگاره سړی و، پېغمبر هغه ستر شخص باله او د نومورې په باب يو نبوي حديث روايت دی، چې:"انی لاجد نفس الرحمن من قبل اليمن" يا "انی اشم رايحت الرحمن من قبل اليمن." (۹_۱۸۹مخ)

دغه احاديث د نومورې مرشد د نور زيات شهرت او بزرگۍ سبب شول. ځينې په دې باور دي، چې اويسيه فرقې له حضرت خضر څخه الهام اخيستی، چې د سعيد نفيسي په نظر سم نه دی، خو پير روښان په حالنامه کې د حضرت خضر د الهاماتو بيا بيا يادونه کوي. له دې څخه مطلب دا

دی، چې شخص د هېڅ پیر مرید شوی نه دی، یا یې د خپل وخت له هېڅ پیر څخه لاس نیونه نه ده کړې، خو غیبي الهام ورته شوی دی. لکه چې د پیر روښان سیر و سلوک هم ددې ادعا ثبوت کېدای شي.

په تصوفي طریقو کې د هر هغه چا یا د متصوف سلسله، چې په کومې مشخصې طریقې پورې مربوطه نه وي، هغه ته اویسي وایي. د سعید نفیسي په قول سنایي غزنوي، فریدالله عطار، شمس الدین حافظ شیرازی او... له دې ډلې بللي دي. دغه ټول اوصاف او مشخصات د پیر روښان په افکارو کې لیدلای شو. نومورې د کومې خاصې فرقې پیرو نه دی، بلکې د خپلې جوړې کړې لارې مبدع او جوړوونکی دی.

له دې هم جوتېږي، چې پیر روښان په ژوره توګه له فارسي او عربي فرهنګ سره آشنا و او په مذهبي، عرفاني او تصوفي طریقو او مکاتبو کې یې پوره مطالعه درلوده. حالنامه ځای ځای د استدلال د تقویې او بنیاد لپاره د مولینای بلخ، عبدالرحمان جامي، فریدالدین عطار او حافظ شیرازي شعرونه رانقلوي. ددې مانا دا کېدای شي، چې د پیر روښان پیروان او ښوونځی له دغه مفکرینو څخه اغېزمن وو.

پیر روښان پر علم شهود او علم لدن باندې باوري و. "علم لدنی یعنی آنچه از راه کسب و درس دست ندهد علم اولیا و انبیا را علم لدنی گوید." (۳_۱۹۶)

د پوهې او معرفت له مخې پیر روښان پر علم لدن باندې د پوهېدو دعوه کوي. دا هغه امتیاز دی، چې عادي پیران یې د پوهې وس نه لري. پر دې اساس نومورې د اشراقي پوهې او معرفت په لورو پورېو کې ځان احساسوي.

له تولنیز پلوه:

یو بل تکی، چې له دې محاکمې جوتېږي، هغه د مسالې تولنیز اړخ دی. د مېرزا حکیم وزیران او صوبه داران په ډاګه وایي، چې د روښان قوم (افاغنه) زمور رعیت دی. که چېرې دی (روښان) وبښل شي، نو دده رعیت به دده ملاتړ وکړي او مور ته به له باج او خراج څخه ډډه وکړي. دا خبره په نهایت کې سمه وخته او له دې دا هم جوتېږي، چې څومره او په کومه اندازه پښتانه قبایل د مغلي حاکمانو له مظالمو او استبداد څخه تنګ وو. د امپراتور اکبر له اداري سره د پښتنو قبایلو شخړه او د بایزید د پیروانو جنګونه د یو ناخبره او راتوکېدلیو پاڅونونو استازي کوي.

له تولنیز پلوه دا تکی هم تري جوتېږي، چې په پښتني تولنه کې له عقیدوي پلوه انقطاب د تولنیز او سیاسي انقطاب زېږنده وه. په دې مانا چې د امتیاز خاوندان پیران او بې علمه ملایان د مغلو په سرکاري سازمان پورې تړلي وو، چې په سر کې یې ترمذي او بیا اخوند دروېزه راته. پیر روښان په همداسې شرایطو کې ځان احساس کړ، چې

PDF Compressor Pro

بايد دغه اولس ته له فكري پلوه نجات وركړي، چې د نوي تفكر خپريدني د اور د لګيدو سبب شو او د مغلو په لويه امپراتوري کې يې د کلونو لپاره اور بل کړ، چې وروسته بيا دغه رسالت يو بل نسل يعني ايمل خاني، دريا خاني او خوشال خاني نسل ته پاتې کېږي، هغوی توره رااخلي او پاڅون کوي.

ربای

PDF Compressor Pro

ماخذونه:

۱ـزرین کوب، عبدالحسین. دنباله‌ء جستجو در تصوف ایران. ایران، تهران کال.

۲ـابابکر قندهاری. حالنامه‌ء بایزید روښان، چاپ گستتنر اکادیمی علوم افغانستان.

۳ـسجادی، سید جعفر. فرهنگ اصطلاحات و تعبیرات عرفانی، تهران، ایران

۴ـداکتر غنی، قاسم. تاریخ تصوف در اسلام، چاپ ایران، تهران چاپ دوم، ۱۳۳۰

۵ـمومند، قلندر. د خیرالبیان تنقیدي مطالعه. پیښور چاپ

۶ـاج. اربری. عقل و وحي در اسلام. ت حسن جوادی تهران، ایران

۷ـطبری، احسان. برخي بررسیها و جنبش های اجتماعي در ایران...

۸ـسروش، عبدالکریم. قبض و بسط تیوریک شریعت.

۹ـنفیسی، سعید. سرچشمه تصوف در ایران.

ACKU
13
1.237
KAR
16112

Mystic and Philosophic Profile of Bayazid Roshan as Reflected in Halnama

Researched by:
M. Akbar Kargar



محمد اکبر کرګر په ۱۳۳۲هـ ش کال د کونړونو په مزار دره کې زېږېدلی، په خپل کلي کې د لومړنیو زده کړو وروسته د ابن سینا په لېسه کې شامل او په ۱۳۵۶ش کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي د فلسفې او ټولنیزو پوهنو له خانګې فارغ شوی دی.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
۵ خپرونو لړ (۸۵)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library